پوهاند دکتور مجروح

ځانځانی ښامار



د حکیم سنائي غزنوي

د زیږیدو ۹۰۰ تلین په مناسبت

www.sikaraam.com

ځانځانی ښامار

پوهاند دوکتور مجروح

PROPERTY OF ACKU
5566

خپروونکی

د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځی

۱۳۵۶

www.sikaraam.com

دبېنوا په قلم

دا اثر

په ډېره تلوسه مې د «ځانځاني ښامار» له سره ترپایه وکوت .
د ډاکتر سید بهاءالدین «مجروح» پرمغزو دې برکت، اوپر قلم دې رحمت سي .

په ډاډه زړه ویلای سم چې په پښتوژبه کې دالومړی عالي فلسفي اثردی چې په نوي، خوندوراسلوب دیوه پښتون فلسفي استـــاد له خوا لیکلی سوی دی اوتراوسه یې ماپه پښتو ژبه کې ساری نه دی لیدلـی. اوزما یقین دی چې هر منصف لیکوال چې دا اثر په دقت ولولي، نو هم به زما داخبره تائید کړي اوهم به د «مجروح» فلسفـــی فـــکر اوله خونده ډکه لیکنه وستایـی .

خوځنګه چې زه فیلسوف نه یم، نوځان ته داحق نه ورکوم چـی ددې ښـکلي اوخوندور فلسفي اثر معنوي ښکلا اوخوند د «سیـــر آفاق» او«سیر انفس» په مرموزو لارو، اویاد «شعور» او «تحت الشعـــور» په ژورو سمڅو کې ولټوم اوبیاد «ایګوخان» (*) د ذات داتلتوب داثبات یانفي

(*) Ego - یعنې ځان «زه» خودپرسته شعور ـ دښامار په قصه کې «ایګو» دداستان دظالم اومستبدقهرمان اوفرماندار نوم دی.

www.sikaraam.com

دپاره هغه وخیرم، زه یو غیر فلسفي او عادي لوستونکی یم، نو هغه څه چې ما دیوه عادي لوستونکي په توګه ددې اثر له لوستلو څخه الهام اخیستی دی، هغه دیوه «بغاوت» بڼه لري. خو:

مقدس بغاوت!

مقدس بغاوت ځکه ورته وایم چې «مجروح» د «ځانځاني» دهغه فاسد، غلط، کاذب او په عین حال کې غضبناک، بیباك، ډاروونکي او پر ځان مین اقتدار پرضد بغاوت کړی دی چې ځیني ناپوه او خود خواه انسانان یې دوریښمو دچنجیو په شان په خپل واك له خپلو ځانو څخه زیږوي او بیا داسې ځانونه پکښې نغاړي چې بې له خپلو ځانو څخه بل څه نه وویني او له هره یوه څخه د «زه» بت جوړسي او ناري وهي:

«— زه یم زه! دستائینې اونمانځنې وړ! راته په ګونډو ئ! او په پټو سترګو زما نمانځنه وکړئ! - که نه وي نو نه یاست!»

وهمپرسته او ډارن انسانان چې ددوی داهیبتناك او له تهدیده ډك زغونه واروي، نو ورته پرګونډوسي او سجدې ورته کوي، په تیره بیاچې داد «زه» بت، راهبان علم ومومي چې سادګان انسانان ورته رالمسوي. دا کاذب او پخپله دانسان مخلوق اقتدار چې دوهمپرستو او بیرندوکو انسانانو داد پټو سترګو نمانځنې او سجدې وويني، نو لا زیات مغرور او پر ځان مین سي، ځانته «سترایګو» Super – Ego ووائي د «لاغیرۍ» ناره او چته کړي.

بیا نو د آزا دې دجذبې ورونه وتړي، دخوښۍ او مینې غرځنې غروته شړي، انقلابي قدرتونه زندانونه ولیږي او دښاریانو پرژوند دهیبت، غم او بیرۍ توره پرده وغوړوي. نو په داسې وخت کې همداسې یو «مقدس بغاوت» په کار دی چې لومړی دامغروره، غضبناکه او پر ځان مین «ایګوخان» پر خپل ځای کښینوي، سریې وکوټې او له مغزو څخه یې د «یوازې زه» لعنتي فکر وباسي، او بیا هغه پرسجده ورته پروت، پریوتی

www.sikaraam.com

او واهمی اخیستی دارن مریی دحقیقی انسانیت لوری ته رهنمایی کړی اوزړه یې دبیځایه دارله توری بلاڅخه وژغوری .

په دی بغاوتی اثرکی دا مقدس بغاوت نه یوازی د «ایگوخان» په مقابل کی راپاروول کیږی، بلکه «مجروح» د «ځانځانی» دښامار په پاړوگانو او روزنکو پسی هم دبغاوت اوسرکوتلوامسارا اخیستی ده اودراهبانوله بی‌شرمواغماضواوشوماغراضوڅخه هم پرده پورته کوی.

نوای فلسفی استاده!

دامقدس بغاوت دی مبارك سه

اود «ځانځانی ښامار» په باب کی دیوه‌غیرفلسفی اوعادی لوستونکی داورکوتی انتباه درواخله. که ستا دفلسفی سره سمه وه نود «ځانځانی ښامار» خولی ته ئی وروغورځوه، او که نه، نو هیڅ!

ستا بینوا

www.sikaraam.com

سریزه

دغه کتاب څو کاله وړاندې پوهاند دکتورمجروح د نفسي حوادثو د ودې اوتکامل په بیان کې په روان دری نثر کښلی ؤ ، چې بیا په ۱۳۵۲ ش کال د تاریخ ټولنې د خپرونه په لړ کې خپورشو . خو دا ځل یې همدغه اثر په موزون ابتکاري پښتو نثر کښلی دی ، چې آزاد شعرهم ورته ویلای شو .

که څه هم پښتو شعر څلویښت کاله دمخه لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبي په طلوع افغان کې پیل کړی ؤ ، مګر نشوونمایې ترهغې وروسته په افغانستان او پښتونستان کې زیاته وموندله چې ډیرو ادیبانو په دې نوې قالب کې- چې داروپایې ادب له تقلیده په پښتو ادب کې باب شوی و ــ شعرونه و ویل .

په افغانستان کې دنوي شعر پلویان: حبیبي، استادبینوا، شپون ، لایق او رفیع دي ، د استاد حبیبي ، بینوا ، شپون اولایق د آزاد شعر نموني په متفرق شکل په ځینومجموعو

څلورم

www.sikaraam.com

اود هیواد په مطبوعاتو کی خپری شوی دی ، مگر د ښاغلی رفیع د «ای هیواده!» مجموعه (طبع ۱۳۵۶) ټوله د آزاد شعر په کالب کی ویل شوی ده .

په پښتونستان کی محمدنواز طایراو شیرز مان غمجن د پښتونوی شعر له هوا خواهانو څخه دی ، د نواز طایر ځینی پارچی د پیښور دپښتو اکیډیمی په پښتو مجله کی ، او دښاغلی غمجن د آزاد شعر نمونی هم د هغی سیمی په خپرونو کی موندل کیږی ، په پښتو آزاد شعر باندی دبنگال دانقلابی شاعر قاضی نذرالاسلام (۱۹۷۶ع مړ) د اشعارو ترجمه هم په دغه سلسله کی د نواز طایر له ارزښتمنو کار و څخه گڼل کیدای شی ، دغه کتاب دبنگال سندری په نامه په ۱۹٦۴ ع کال پښتو اکیډیمی خپور کړی دی .

د پوهاند دکتر مجروح د غه اثر د پښتو آزاد شعر په سلسله کی یوه مغتنمه مجموعه ده . چی د لوړو یاد و شو ومجموعه څخه ځانگړنتیاوی او مـزایا هم لـری ، او هغه دا چی ده ، چی د وی آزادشعر په مقیدو هجایی وزنونو کی ویلی دی ، ټول بیتونه یـی شپاړس ، دولس ، اتـه او څلور سیلابه لری .

دخوښی ځای دی ، چی دغه ابتکاري اثر دغـزني دنومیالي حکیم حضرت سنایي دبین المللی سیمینار ددرناوي په ویاړ خپریږي .

www.sikaraam.com

دویلوورړده ، چی دهیواد زیاتو نومیالو لیکوالو په

دغه اثر باندې سریزی کښلي وې، مگر د وخت دنشتوالي

له امله موږ ونشول کولای چی هغه ټولی مقدمی له دغه اثر

سره یوځای چاپ کړو .

دادبیاتو اوبشري علومو پوهنځی استاد مجروح ته

ددغه اثر دچاپ مبارکی وایـي ، اودپوهنتون دخپرونو له

لوی مدیر پوهنوال هاله ، اوطباعتی مدیر ښاغلی عبدالجلیل

اونورو کارکوونکو نه دزړه دکومی مننه کوي ، چی ددغه

اثر دچاپ په برخه کې یې زیات ایستلی دی .

پوهاند میرحسین شاه

دادبیاتو اوبشری علومو پوهنځی رئیس

www.sikaraam.com

دلیکوونکی له خوا

یو څو لمړی خبری

دا کوچنی مجموعه دلومړی ځل دپاره د «اژدهای خودی» تر عنوان لاندی په دری ژبه په کال ۱۳۵۲ کی خپره شوه (*) .

دوستانو او دنظر خاوندانو ډیر خوښه کړه . مګر ځینی دوستانو افسوس وکړو چی کاش دامضمون په پښتو ژبه کی هم بیان شوی وای . زما سره پخپله د « اژدها » له خپریدو څخه پخوا دا فکر اودانیت وچی یو وخت بهٔ خپل مطالب په پښتو هم را اړوم . تر څو آخر لږ څه فرصت او فراغت پیدا شو او « ښامار » پښتو بڼه پیدا کړه . او څه زیاته برخه ئی د «وږمی» مجلی په څو شمارو کی چاپ شوه .

اوس لیکوونکی وپاړی چی دامجموعه دکتاب په بڼه دحکیم سنائی غزنوی د تلسین په مناسبت ، د سیمینار دعلمی کمیټی په سفارش دادبیاتو او بشری علومو دپوهنځی له خوا نشریږی. پهٔ رشتیا هم چی ددی کوچنی اثر دخپریدو دپاره ، دیو داسی علمی او ادبی مجلس له

(*) « اژدهای خودی - دتاریخ ټولنی خپرونه .
کال ۱۳۵۲ - نمبر ۱۱۸/۱۸

www.sikaraam.com

مناسبت څخه پرته بله بهتره مناسبه موقع نشي پیدا کیدای. ځکه چې دا اثر دحکیم سنائي دستر انساني پیغام سره ټینګګ او ژور پیوندونه لري . په دې مهم ټکي به دخبرو په آخر کې څه رڼا واچوو. اوس پکاردي چې پخپله په کتاب څه لنډی خبري وشي .

د «بنامار» سبک :

شکګ نشته چې داوسنۍ مجموعې عمده او اساسي فکرونه او مضمونونه هماغه دي چې په «اژدهای خودی» کې راغلي دي . مګر د «اژدهای خودی» او «ځانځانی بنامار» په مینځ کې ځیني مهم توپیرونه هم شته . دمحتویاتوله پلوه په «اژدها» کې ځني مطالب شته چې په «ځانځانی» بنار » کې حذف شوي دي ، یاپه ډیر اختصار بیان شوي دي. او ځیني نوي مطالب په پښتو کې راغلي دي چې په دري نشته .

دشکلیا تو له پلوه ، «اژدهای خودی» په دري کلاسیکي ساده نثر لیکل شوی دی . او په پښتو کې د «بنامار» دمطلبو دبیان دپاره ، دپښتوژبې داصیلي روحیې سره سم یو خاص قالب اونوي چوکاټ جوړشوی دی. د «ځانځانی»ژبه نه نثردی ځکه چې وزن لري،اونه نظم دی ځکه چې دقافیو اوردیفونومراعات پکې نه دی شوی . اونوی شعرورته ویلای شو . مګرداچوکاټ داوسني نوي شعرونو تقلید نه دی . بلکه ددی چوکاټ په جوړښت کې دپښتو دشفاهي ادب دځني اشکالو څخه اودپښتو دلیکلي ادب دځني زړونثرونو څخه الهام اخستل شوی دی. پدې شان «دبنامار» سبکګ داسې یوسبکګ دی چې هم د اوسني نري دنوي شعر بڼه لري اوهم دپښتوژبې په شفاهي او لیکلي ادب کې پخې ریښې لري . او که څوګ دټکو خج اودعباراتو صحیح تلفظ ته دقت وکړي ، نودامجموعه بهسرترپایه دیوساده روان او آزاد شعرپشان ولوستلای شي. ځکه هڅه شوې ده چې په عبارتونو کې هیڅ سکتګي نه وي ، اوهره جمله یاپه (۴)یاپه (۸) یاپه(۱۲)اویاپه(۱۶)

www.sikaraam.com

سیلابونو دریږی. د « ښامار » د سندری اصلی اوبنیادی وزن ، څلور سیلابی موزونه جمله ده چی بیا څلور څلور سیلابه پری اچول کیږی چی کله تری اته سیلابی کله دوولس سیلابی او کله هم شپاړس سیلابی جمله تری جوړیږی .

داوزن چی لیکونکی ورته اوس « دښامار سبک » وای، دپښتوژبی یوپیاوړی ادیب اوشاعر دومره خوښ کړو ، چی په همدی ئی یوه قطعه اوزد شعروواېه . ښاغلی بینوا «دښامار» په وزن«دکلورنځور » ترعنوان لاندی یو شعر چاپ کړی دی چی داسی شروع کیږی :

« هاخوادی‌خوا، (۴ سیلابه)
غځیدلی هسک دنگک غرونه ، (۸ سیلابه)
ښکلوی دآسمان شونډی . (۸ سیلابه)
په سروئی پگی سپینی سپینی واوری، (۱۲سیلابه)
پټ په زړوکی ئی لعلونه . (۸ سیلابه)
شنی تالی شنی ئی لمنی وی دسروغاتولوډکی. »(۱۶سیلابه)

* * *

دښامارسندره :

دلیکونکی په نظر ، په دی اثرباندی اوږدو مقدمانی خبروته ضرورت نشته. ځکه چی دکتاب متن پخپله خپل حال بیانوی . خوبیاهم دلوستونکودځه آسانتیا دپاره دمتن په اصلی مطالبویو څولنډی خبری بدی نه وی .

«ځانځانی ښامار » دانسانی ژورطبیعت دتمرد اوعصیان بیان دی. اودا واقعیت دری جلا اړخونه لری : یوئــی نفسی انفرادی اړخ دی بل ئی اجتماعی اوسیاسی اړخ دی . اودریم ددی دواړه اړخونو ترکیب دی اوهغه دانسانی موجودیت فلسفی معنی ده. نواوس داپوښتنه پیدا کیږی چی،دداسی انسانی دری اړخیز واقعیت دبیان دپاره به کومه ژبه اوکوم رازکلام مناسب وی. ددی پوښتنی جواب به داوي چی ددی بیان دپاره دوه لاری شته: یوه هغه لارده چی دادری اړخه جلا جلاوڅیړل شی،

www.sikaraam.com

او دیو علمی تحلیلی کلام په کومک او دعلمی دقیقو مفاهیمو په وسیله بیان شی. اوبل به یو داسی ترکیبی کلام وی چی عین مضمون اوعین بیــان دغه دری معناگانی په ځان کی ځای کړی شی، اودری واړه معناگانی په یو آن بیان کړی شی. دا کلام شعری ترکیبی کلام دی چی دسمبولونو اورمزونو څخه کار اخلی د ربښتینی شعری کــلام ارزښت اوعمق په سمبولیسم کی دی. په یونانی ژبه کی دسمبول لغوی معنی غوند ول او یو ځای کول دی. سمبول هغه دی چی په یوه لفظ یا یو مضمون کی معناگانی ځایوی اویومفهوم په بشپړه او کامله معنی راخلی. ظاهری معنی باطنی معنی له ځان سره راکاږی او باطنی معنی په ظاهری معنی کی تجسم کوی دمثال په توگه دکتاب په متن کی د «ښار» یا د «دشت اوصحرا» مفاهیم راغلی دی او په بشپړه سمبولــی معنی را اخستل شوی دی. د «ښار» څخه مراد پخپله «ښار» یعنی دخلکو متراکمه ټولنه ده اوهم ټولنیز ژونداو اجتماعی روابط اوهم ددی ژوند اوروابطو تأثیراوشورماشور دانسان په ذهن او نفس کی تری مراد دی. همداشان «دشت اوصحرا» پخــپله دغه محسوس واقعیت دی اوهم دیووچ بیحاصله فکر اودیوبی درده ذهن معنی تری را ولاړ یږی.

په دی مجموعه کی داشان شعری کلام سمبولی کلام غوره شوی دی، نه کوم علمی تحلیلی اوتشریحی کلام (*). اوددی په ځای چی په دی موضوع باندی دری دوه جلا مفصلی رسالی ولیکل شی، یوازی یوه شعری قطعه وویل شوه.

کــه وغواړوچی دا مجموعه دیوبل سره مقایسه کړو نو وبه وایوچی دا اثر دکوم علمی اوتخنیکی آلی سره شباهت نه لـــری بلکه دموسیقی آلاتو ته زیات ورته دی. ځکه دلته هغه شوی ده چی هره پارچه اوهره جمله درباب یاستار دپــردوپـــه شان وی. چی کـــله

(*) دداسی علمی تحلیلی کلام مثال په پښتو ژبه کی دلیکو نکی اثر د «جبر او اختیار د یالتیک» دی چی دانسانی واقعیت دنفسی، اجتماعی او فلسفی اړخو باندی جلاجلا بحث کوی.

www.sikaraam.com

ځلورمه پرده وښورول شي، نواتمه اودولسمه پرده هم ورسره ښوری .
کله چې کوم نفسي واقعيت په شعري پيرايه کې بيان شي، دامطلب فوری
خپله اجتماعي اوسياسي معنی راسپړی. اودا دواړه بيا دانساني موجوديت
فلسفي معنی ته گذار کوی. همدا شان هغه شوی ده چې دانسان تسلسل
هم سرترپايه درباب، ياستاردپردوپشان برابرشي. که لوستونکي ددې اثرپه
لومړي وار لوستوسترې نشي او دوهم اودريم وارپرې نظر واچوی، نوور
معلومه به شي چې هرمطلب چې په هرخرخ اوپړاوکی بيانيږی، دامطلب
په نورو څرخونواو پړاوونوکی څوځو واری په نورو ښو اوپيرا يوکی
انعکاس کوی . نوځکه ددی مجموعي يووار لوستل بهلکه د رباب دآلی
سره لومړی آشنايي وی. يوائحی په دوهم اودريم وارلوستو سره به په
پردوباندې گوتې اېښودل ممکن شي او دښامارسندره به معنی پيدا کړی شي .

* * *

د ښامار «پيغام»:

د ښامار د سندری لنډ مطلب پدی شان دی :

د دی داستان قهرمان د «نيموشپو لاروی» دی . دا ځکه چې په
تورو تورو شپو کی مزلي کوی . اوغواړی چې رڼاته، يعنی دانساني ژوند
رښتيني معنی ته ځان ورسوی . داحقيقي معنی هغه درياب دی چې غاړی ئې
له انسان څخه ورکه شوی دی. اودمعنی دغه رڼاساحل ته ورسيدل، لکه
دپريانوهيوادته رسيدل دی . ډيراوږده سخت مزلونه غواړی اوله ډيرو
پړاوونو او مرحلو څخه تيريدل پکاردی.

ددې معنی دپيدا کولو دپاره، دداستان «لاروی» په لومړی قدم کې ځان
تجريدوی . دښار يعنی دټولنيز ژوند څخه وځی . اوپدی مقصد چې د
ځان اوجهان په معنی پوه شی، په ځان کی ننوځی . اوگوری چې په سپيرو
دښتو او وچو بيابانونو کی مزلي کوی . دا وچ او اغزن ډاگونه د ده
ذهني اوروحي جهان دی

www.sikaraam.com

دلته «لاروی» ته داپوښتنه پیدا کیږي چې ددی آفت علت به څه وی؟ بیاپه هغه دښته کی زړی خرابی او کنډوالی ویني اوددغه وران شوی ښارله داستانه خبریږی. دآفت علت ورته معلومیږی. او پوهیږی چې هم دانسان په فردی نفس کی اوهم دټولنی په نفس کی داسی یوه توره بلا راپورته کیږی، او داسی یو ښامار پری مسلط کیږی چې د زړه او ذهن آبادی ګانی رنګوی. د ژوندون چینه وچوی، د ژوند معنی ورکوی. او په ټولنه کی تری داسی استبداد راولاړیږی چې انساني رښتیني ارزښتونه له منځه وړی، انسان خوری اوښار یعنی ټولنه ورانوی او کنډوالی تری جوړوي. دابلا اوآفت د ځانځانی ښامار یعنی پخپل ځان مین، خودپرسته شعور دی. لاروی د دی بلا تماشه کوی. او ویني چې ښار څرنګ ورو ورو رنګیږي اوآخر د مرګ په خوب بیدیږي.

په دوهم څرخ کی «دنیموشپو لاروي» ته داپوښتنه پیدا کیږي چې دا بلا یعنی ځانځانی ښامار یا په ځان مین خودپرسته شعور څرنګ را ولاړیږي اوله کومه راځي؟ د دې علت دموندلو دپاره، لاروی یوبل ګران سفر کوي اود لاشعور د سمڅی تل ته کوزیږي. او ورمعلومیږي چې د ځانځانی بلا دبل کوم ځایه نه راځي، بلکه دانسان د خپل ذهن او لاشعور له ژورو څخه را پورته کیږي. اوانسان یې پخپل لاس پرځان مسلطوي. کوم وخت چې لاروی دژوندلدې لوی رمز څخه پرده پورته کوي، نوپدې نیت چې د ښارخلکوته حقیقت بیان کړي اود ښامار دبیا راتلوڅخه ئې خبر کړي، نو په بیړه بیړه ښارته ستنیږي. کله چې هلته رسیږي، نوګوري چې ناوخته شوې ده، اوښامار دیوظالم اومستبد فرمانداد په بڼه په ښارحکم چلوي. اوله ښار څخه ئې یوه بدبخته ناانسانه ټولنه جوړه کړی ده. لاروی په خبروپیل کوي. اوخلکوته حقایق بیانوي. خو خلك ورپوری خاندي اومجنون اولیونی ورته وایی. لاروی په ښار کی ګرځي

www.sikaraam.com

او تماشه کوی چی څرنګګ ښار ورو ورو ړنګیږی .انسانان تباه کیږی او آخر هر څه یوځل بیا د مرګګ په خوب بیدیږی . او بیا له دی نه وروسته لار وی څه کوی ؟ د دی پوښتنی جواب به‌لوستونکی د کتاب په متن کی پیدا کړی .

* * *

د حکیم سنائی غزنوی په درناوی

ددی کوچنی اثر نیکمرغی په دی کی‌ده چه د حکیم سنائی دبین‌المللی محفل په مناسبت چاپیږی . غزنـوی حکیم د تصوفی او عرفانـی جهان هغه ستر شخصیت دی چی دنفس دښامار په مقابل کی ئی بغاوت وکړو، ددی بلا سره وجنګید اوددی توری بلاخطرونه ئی په خپل بی ساری کلام کی‌بیان کړل . د ده په شعر کی داسی یولوی پیغام پروت دی چی‌لااوس هم هیڅ زوړ شوی نـه دی . بلکه بـر عکس د اوسنی فلسفی او علم‌النفس په رڼا کی یوه نوی او ژوره معنی پیدا کوی .

حکیم سنائی په خپل مشهوراثر «سیرالعباد» کی دانسانـی معنوی تکامل‌هغه سختی لاری اوګران پړاوونه ښایی‌چی زمونږ دکوچنی‌اثر لاروی پری‌روانیږی. هلته‌هم‌دیولاشعوری‌اوجامد پړاو څخه سفرشروع کیږی. اوپه لار کي دنفس راز راز بدی توری بلاګانی د مسافر مخـه نیسی اودپرمختګګ مانع کیږی. مګر دعقل په زور اولارښودنه، مسافر تولی سختی‌اوزحمتونه په‌ځان ګالی،ګرانی‌مزلی کوی. دیوه نفسی‌پړاو څخه بل نفسی پړاوته پورته جګیږی. ترڅو چی‌مسافر دشعور او ځـان پیژندنی‌پراخ اوروښانه میدان اوبی انتها افق ته‌رسیږی. «سیر العبـاد» دانسانی رښتینی‌معنوی تـکامل اودانسانی ژوند دحقیقی معنی‌او ارزښت پلټهنه ده .

www.sikaraam.com

ځانځانی ښامار

راشه وگوره نن دا طراز زما
حقیقت سره قرین مجاز زما
درست عالم مې په بازار په کوڅه وایي
لا و چاته ښکاره نه دی راز زما

خوشحال خټک

www.sikaraam.com

اودا «ځانځانی ښامار» هم دحکیم سنائی ددغی‌عظیمی هڅی او بی ساری پلټنی‌یوه کوچنی‌اوادامه ده. او په یوه بله شعری او روحی بڼه کی او په نورو اجتماعی او فلسفی ابعادو کی. دلته هم دښامار سره دغه سترژور بغاوت راولاړشوی دی او دغه لو یه سخته مبارزه‌روانه‌ده.

هیله ده چی‌پښتانه لوستونکی‌به‌دحکیم سنائی غزنوی دلوی‌انسانی پیغام در ناوی وکړی کوچنی او ددی ښامارکوچنی سندره به دزړه په غوږ و نوواروی .

پل سوخته، سرطان ۲۲

کال ۱۳۵۶

www.sikaraam.com

چرته پسې درومم په کوم لوري به يې مومم؟
ورکه موندې نشي بې رهبره بې سراغه .
خوشحال ختټک

پرولوګ

دورك سمندر غاړې

داسې وايي:
چيرته لرې يولوی منارو .
آوازه ئې دښايست خپره هرلوري.
په دې منار کې او سيده يولوی سړی هم. (۱)
داولس په هوښيارانو کې هوښيارو.
سوچ وهل فکر کول ئې کسب او کارو .

(۱) ژان پول سارتر- دفرانسې وجودي معاصر فيلسوف .

www.sikaraam.com

دجهان اوژوند رمزونه لټول ده،
په‌دفترو، په اوراقو، کتابو کی ،
یوه ورځ دورځ ئی داشانتی بیان کړو :
« ترکوم وخته چی‌دازمکه داآسمان وی ،
تل دهرانسان دوزخ به بل انسان وی.»
گمان نه‌کړمه چی‌دا به حقیقت وی.
ماملکونه هیوادونه ډیرلیدلی .
په صحرا کی‌مااوزدی مزلی کړی.
ځنی ځنی حقایق می‌دی موندلی.
څور شتیارشتیا خبری می راوړی .
یوه داچی:
داژوند څه دی ؟
یومرموزه سمندر دی .
خوددی سمندر غاړی پوری لارشته .
او ددی لاری لومړی‌پړاو دوزخ دی .
بله دا چی :
جهنم نه چرته لری دی نه پټ په بل جهان کی .
جهنم دهرانسان دی هرانسان‌ته پخپل ځان کی .
ددوزخ په لورسفردی ،
ځانځانی ته ستنیدل تل .
راشه واوره اوس ددی سفرداستان ته.

* * *

یوه ورځ دورځ ماښام خړه تیاره وه .
زه راووتم دښارله شورماشوره . (۱)

www.sikaraam.com

(۱) – ښار یعنی گڼه‌اجتماعی ژوند

دروازی‌دښارشوی پوری .

شوم روان ددښت په لوری .

حال ویجاړی .

لټولی می دورك سمندر غاړی. (۱)

* * *

بیابان و، ترږمی وه، توره شپه وه .

خوله ماسره دننه یوه ډیوه وه بلیدله .

داډیوه دتیروختونو خاطره وه .

انسانان می لالیدل دخیال په‌سترګو .

دغمجنو فریادونه، ډك له‌قهره‌آوازونه ،

غږدمینی‌محبت می‌لاترغوږو .

ماشومان می له نظره تیریدل‌چی،

دکمر په سرروان وو ،

دسیند غاړی منډوګی ته کوزیدل ټول .

غونډول ئی سیندنی ځلانده کانـی.

لوړبرجونه ئی دشګوجوړول بیا .

هی‌ټوپونه لاندې کول‌و،

څښتیدل، زغلیدل و،

شوراو زوګ.

زیړی لمر دمازیګرمی‌ترنظر :

چی‌رمی به‌له دشتوراستنیدلی،

شین غباربه ئی ترشاپورته کیدلو.

تنور نه به په برہ خوالمبه شول ،

(۱) دژوندون اوښلی معنا

www.sikaraam.com

تور لوګي به یی تر آسمانه تاویدل.
جنکی وې له ګودره را روانی .
ښهیدلی، مستی مستی خرامانی .

*　*　*

په دی شانی په‌هغی تورتم صحرا کی،
پټه پټه غلی غلی ،
یوه رڼا شان دنیاګی می وه ملګرې،
دخپل خیال په لومه ګیر وم .
په خپل ځان باندې کړی وړی چاپیر وم .
هی مزلې مې کولې .

*　*　*

چی شپه تیره شوه سهار شو،
نود ښارله شورماشوره ،
وومه دوری دوری تللی .
نه‌آواز نه انعکاس و .
تپه تپه چپیاییی وه .
شپه که توره ترږمۍ وه ،
خومزل رڼا رڼا و .
سبایي چی روښنایي شوه ،
رسیدلی ومه زه بیا،
دیوې تورې ناآشنا مغارې خولې ته (۱) .

*　*　*

چی خپره شوه دسهار رڼا هرخواته،
ګیرچاپیر دنیا بیشانه ناآشنا وه ،

---

(۱) - یعنی لاشعور

www.sikaraam.com

رامعلومه شوه چې ډېر وم‌لرې تللی،
انسانانو له جهانه چېرته دورې پرېوتلی ،
یوه سوزانه د اغزو ډکه صحرا وه،
غوړېدلې دآسمان ترکنارو خپره لمنه .
له کوم وخته چې جهان راپیدا شوی،
په ډبرو کې وچ شوی،
دیو خوړ کوږ وږ بستړو (۱) .
لوی‌لوی غرونه توردیوان وو،
سانیولی په خپل‌ځای باندې کلك شوی ،
پټه خوله ساکت خاموشه ،
یوله بل ترشا ولاړ وو منتظره .
ښکارېدله . کومه لویه حادثه وه را روانه،
وحشتناکه، لړزوونکې، ناخبره، نابېره، ناانسانه (۲) .
نژدې ماوته دسمخې توره خوله وه،
ننوتی چرته لرې،
ناپایابه، ورکه په ناشناناشنا تورتم کې .

* * *

دا عجیبه تماشه وه،
ناڅاپي مې شوه له سترګو پرده پورته .
د ښاریانو د ژوند رمزشو را برسیره،
انسانان ولې استوګنه په ښارو کړي ؟
په برجونو، مانۍ‌ګانو، پخو پلنو دیوالو کې ؟
آدمزاتې جوړوي لوی‌لوی ښارونه .

---

(۱) دشعوری ذهن ساحه چې ځانځانی شعور پرې فرمان چلولی دی

(۲) راتلونکی ذهنی او روحی انقلاب

www.sikaraam.com

له ښارونه تاووي لوی دیوالونه .
بیا دننه په کوروکې اقامت کړي .
بیا یوبل سره په شخړو په جنګونو،
په نیکمرغه ژوندون شپې سبا کوینه .
له دې ژوند څخه مراد دانسان څه دی ؟
هغه دادی :
له دې دشت څخه ډېرلرې اوسیدل دي ،
له دې تورو غرونو سترګې پټول دي .
د تیارې ترزمی سمڅې هیرول دي (۱) .

* * *

انسانان یوازی یوڅه نه ډاریږي :
چې کوم وخت چیرته بهرلاړشي له ښاره ،
بیاناوخته شي ستانه د ښارپه لوري،
توره شپه وي، ترزمی وي ،
دروازې د ښار تړلې کلکې پورې (۲) .

* * *

د ښار هیڅ یواوسیدونکی جرأت نه کړي ،
چې د ښارله دروازونه دورې لاړشي .
خوچې کله شي ستومانه له جنګو له ستیزونه،
نود شپې سره راغونډ شي دکوچنی ډیوې رڼاته .
بیاله دې ناشنا دښتونونه کیسې کړي .

* * *

---

(۱) یعنی دحقیقت سره نه مخامخ کېدل- دلاشعور څخه دار
(۲) یعنی دتجرید او یوازی والی څخه ډار

www.sikaraam.com

وایی وایی:

«یولوی غاردی چیرته پټ پروت،
توره خوله ئې هیبتناکه، ننوتی زمکی تل ته،
رسیدلی د دوزخ ناشنا درشل ته.
نیمه شپه تری داروونکی ارواګانی راوځی، ځي،
غرو غونډوکې ننوځي.
ژوندي کیږي لوی کونډونه ګړنګونه،
توردیوان تری نه جوړیږي.
د وچ رودکوږاوږ بسترهم،
راژوندی شي اژدها شي؛
بیا روان د دشت په لورشي،
کله کله هم نژدې ځي، دښار پورې دروازې ته...» (۱)
داکیسې ټول ماشومان په دقت اروي.
ځکه ځکه په معتی یې ښه پوهیږي.
اولویان وربانډې خاندي مسخرې کړي.
خوپه زړه کې ښه بیریږي پټ لړزیږي،

* * *

مګر زه ومه له هغه بیابانه،
راتیر شوی بی خبره له خطره.
د سهار په پلوشوکې،
چې ښه ځیرشوم دې دنیا ته،
نویوبل رازحقیقت راته ښکاره شو:
د ښار خلك یوپربل دومره اخته دي،

---

(۱) دلاشعور دمحتویاتو انعکاس په قصو اوافسانوکی

www.sikaraam.com

یو دبل په ښواوبدو دومره بوخت دي .
چې بهر له ځایه نه ځي،
هیڅ نظر په جهان نه کړي .
خبر نه دي :
چې ددوی ښایسته ښار خو ، (۱)
لوړ برجونو ، دیوالو سره ،
په دی دشت اوبیابان کی ډیر کوچنی دی ،
ډیر نا څیزه ،
یوه واحه ده په صحراکی نامحدوده .
جزیره ده په دریاب کې ناپایابه. (۲)
خبر نه دی .
که طوفان له ریګستانه را ولاړشی ،
که دابحر نا څاپـی متلاطم شی ،
نو دسترګو په یورپ کی ،
ښارحصار به پاتی نه وی ،
هستاوبود نیست اونابوده ،

* * *

زما بیره ده له دی بی‌خبری نه ،
له دی هسی‌بی‌غمی نه ،
داریږمه :
چی یوه شپه دشپو به مړه وی چراغونه،
انسانان به ډوب پراته په خوب بیده وی ،
ددی غار له ژورتل نه به را ووځی ،

---

(۱) ـ اجتماعی ژوند ، تولنیز نظام اوامنیت .
(۲) ـ دژوند اوهستی پراخه ساحه

www.sikaraam.com

دتور تمو ارواگانی ، (۱)
په دشتو باندی ښکری ،
اوترخوچی سبا کیږی ،
ښار به نه وی
تری به پاتی کنډ والی وی ویرانـی وی.

* * *

سره له دی هم،
دصحرا لهطوفانومی بیرهنه وه،
نه تشویش دسمندر لویو څپونه ،
داریدم زه ،
دخپل زړه په ژورتل کی :
له ښاماره (۲)
له هغه عظیم ښاماره ،
چی له دی سمڅیراووځی،
اوبیاځی ددشت په لوری ،
بیانژدي شی ګلی ښارته ،
ښکارکوی دانسانانو .

* * *

زه حیران یم :
ښاریان ولی نه بوګنیږی نه ویښیږی ؟
ولی نه اروی دوینبس زړه په غوږ ونو ،
پیغامونه پټ پراته په افسانوکی؟

---

(۱) اوهام اوخرافات .

(۲) ځانځانی په ځان مین خود پرسته شعور .

www.sikaraam.com

په درون کي مي پرا ته دي ډير گنجونه
په معنی کي لــکه کان دسيــم اوزريم
که مي لاس لکه درياب خالي ليده شي
دتهــتر دننـــه ډکك په در گوهريـــم
که مي حلق دتندي وچشي په همت کي
پر وادار کلمه په حوض دکو ثريـــم
لايوشور راځني لاړنه وي بل راشي
مگر زه پيــدا په ورځ دشور وشريم
خوشحال ختټک

لومړي څرخ
تورښا ماردمرکك په لوځي

لومړی پړاو : هغه ښارچي ټول ښاريان ئي
رنځوراَن وو
دوهم پړاو : دمه ځاي چي پکښي ځاي
د د مي نه و
دريم پړاو : د دوزخ له درشل دي خوا
خلورم پړاو : د د ورخ له درشل ها خوا

www.sikaraam.com

ددی سمڅی ژورتل نه،

یو پیغام را پورته کیږی .

خود دوی ورته غوږونه کانه ښکاری .

ارویدلی به دوی نه‌وی ؟

چی په تیرو زمانوکی یولوی ښارو

دښاریا نوله غفلته ،

یوښامارپری مسلط شو،

چی خوراك ئی انسانان و .

دښایسته ښارنه‌ئی جوړه کنډواله کړه.

آدمیان ئی کړه دننه په خپل ځان کی .

ښاردمرګ په خوب بیده شو.

* * *

مګرزه اوس دوری پروت یم .

طولانـی سفرمی کړی په چوپتیاکی .

انسان دی لری لری .

له ښاروڅخه‌یم دوری پریوتلی .

غزمی‌چاته نه رسیږي له دی ځایه .

لاروی دنیمو شپویم .

دغار توری خولی ته ناست یم .

هك حیران یم چی به څه کړم ؟

دښار خلکوته به‌څه شان رسومه ،

خپل پیغام اوس ؟

www.sikaraam.com

لومړی پړاو

هغه ښار چې تول ښاریان ئې

رنځوران وو

لاروی دنیمو شپووم .

هلته ناست دسمڅی خولی‌ته.

هلك حیران وم .

نژدی هلته.

ښکاریده ړنګ دیوالونه .

کنډ والی وی دکوم زوړ لرغونی ښاردا (۱)

رواقونه‌زوړندزوړندمرمری‌ستنی‌ولاړی‌ځنی‌ملاستی.

داسی فکرمی کولو:

اخر څوك به‌را پیداشی .

زمانی به‌وریادیږی تیری‌تیری

ددی ورکی آبادی

خبر به واخلی

(۱) دذهن او روح بخوانی آباد حالت

www.sikaraam.com

ددی ښار تیرشوی ژوند به رابیان کړی .
راته وبه کړی کیسی زړی زړی هم.

* * *

یوجنت خاروین خاورین

وایی: دلته ښکلی ښایسته ښارو. (۱)
آوازه یی دښایست خپره هرلوری .
سیاحان په له دی ځایه تیریدل تل
شپه اوورځ به یی مزمل کړو
په ځنگلو په چمنو کی دسیندو نورودخانو په غاړه غاړه
څریدل به گرځیدل به مست وحشی آسان هرخواته
بی له داره، بی له قیده
غرځنی به‌وی روانی ،شنو دښتو کی ،
بیابه تللی نژدی ښار ته،
ماشو مانو سره یوځای لوبیدلی .
له سهاره ترماښامه ،
دطوطیانو دبلبلو چغهارو په دروسپر دروسمسور باغو کی.
انسانانو ، لازده نه و دپنجرو دجوړو چل .
ښار بی دربی دروازی ؤ.
نه خندق نه کوم دیوال تری ؤتاوشوی.
ښکلی ښکلی ووکورونه آبادشوی .
گڼ باغوشنو چمنو کی .
لوی لاری هرخواتللی .
سیندپه غاړه شنو دښتوگورو ځنگلو کی.
ځوانو پیغلو به داښار سمبالولو.

---

(۱) دخود پرست شعور دتشکل څخه تر مخه

www.sikaraam.com

یابه ناستی دځلمو سره غیزپه‌غیز وی.
سیند په غاړه په بیشو کی.
رازونیاز دمحبت و.
ښکلول و، زغلول و.
اوسپین زیری مشران به
په دیرو کی ، دچنار سیوری ته ناستۀ.
تدبیرونه، مرکی وی، مشوری وی.
ماشومانو به شورزوږ کړو .
خرپیدل به په اوبو کی.
لوبیدل به‌یاد دینت دغرخنو سره .

* * *

که‌به‌څوك اخته په قهر په‌غضب شو.
یابه زړه دچاغمجن‌شو.
پدی رنځ اخته‌رنځورو، هم‌به‌یی‌ځان‌رنځوگانه.
پدی ښارکی هم‌یوپوخ حاذق حکیمۀ
ددی هسی رنځورانو یی علاج کړو.

* * *

انسانانو لاموندلی چیری نه ۇ.
غلامی دباداری چل.
په‌دی ښارکی نه هیڅوك دچامریی‌ونه بادارو.
وینځه‌نه وه، پی‌پی نه‌وه، فرماندارنه .
فرمانداره حقیقی په هغه ملك کی ،
ایلك یوازی ماشومانۀ.
ځکه ځکه خلکو دا شانی باورۀ ،
چی کوچنیان له طبیعت سره نژدی دی ،

www.sikaraam.com

دعالم پټ‌پټ رمزونونه خبردی .
رښتیا هم چی‌ماشومان به‌پوهیدل ښه،
په‌خبرو دمرغانو ځناورو.
ددښتو غرونو رغونو،
دریابونو،ځنګلونو،
ارواګانو سره اشناۀ.
دوی خبرۀچی پرته ده چیرته پټه،
توره‌سمڅه هیبتناکه،ناپایانه.
رمز اسرار دمغاری ورته معلوم ۀ .
نودا ځکه په‌مهم مهم کاروکی،
دکوچنیانو نظریی ته درناوی ۀ.
دکوچنیانو په مسلات به،
غټ کارونوکی تکل شو.
نودا ځکه کله‌کله،
مشران اوماشومان به غونډیدل ټول،
دچنار ترسیوری لاندی په‌دیره‌کی،
په‌خندا خندا په‌لوبو،
غټی غټی فیصلی به شوی روانی.

* * *

لوی فاتح دټول جهان

یوه ورځ دوږځی کله،
چی ګلونه دهمیش په شان تازه وو،
ماشومان په شوراوزوږ درود په غاړه،
ځوانان‌پیغلی ناست په رازونیاز دعشق وو،
اومرغان بوخت په چغارۀ ،
ناڅاپی راوالوتله ،

www.sikaraam.com

یوه ترخه سره سیلي وه ،
له دښتو له بیابانورا پاڅیدله،
دافق دکنارو نه،
توری وریځی شوی راپورته .
ځنګ چی لمر په پریوتوشو،
نوله ورایه راښکاره شو،
یوناشناسری په آس سپور.
آس یی تور،جامی یی توری،(۱)
پولادی اوږده نیزه یی وه په لاس کی،
ډال ترشاتوره یی ترملاوه،
لینده غشی‌ورسره ؤ،
هم په‌سریی یوه خوله پولادینه ،
بری خیره داږده‌انقش.
را روان ؤ،راروان ؤ
دښارلوی دروازی‌ته رانژدی شو.
له نژدی خیره بل شان وه:
دواړه‌سترګی یی دوینو کټوری ؤ.
مخ بشری نه یی غضب لمبی لمبی خوت،
دیومزاجی،دیو پیکری‌دیوانسان ؤ.
راروان ؤ،راروان و.
ښځی نرزاړه ځوانان هم،
ماشومان ټول،
رابهر شولوله‌ښاره،
دناشناسپورتماشی ته.

---

(۱) تور رنګ: دناپوهی،اونابینا زوراوقدرت سمبول

www.sikaraam.com

PROPERTY OF ACKU 5544

تورلباسی سپور نیزه کړه خپله پورته.
جګ آوازیی هیبتناك ؤ
ډك له قهره لهغضبه،
داوینایی ښارته وکړه:
«–تاسو وایاست زه بهڅوك یم؟ .
زه خو «زه» یم، زه «ایګو» (۱)یم .
درست نړی کی پهلوان یم،
لوی فاتح دټول جنګونو دجهان یم،
لهدی وروسته ستاسو ښار زماتابع دی،
تاسی ټول دقهرمان ترفرمان لاندی.
که هرڅوك زمافرمان تهغاړه نه ږدی،
نو سزابهیی پهدی دم اوپههردم،
همپهدی نیزه وژل وی،ځیرول وی.»
سم له دیوینا سره یوځای ،
بهلوان پهلور دخلکو،
اشاره دنیزی وکړه پهدری واری.
بیاییووی :
«–هغه څوك چیمی فرمان وړیپهسرسترګو
هغه ټول بهپه امان وی.
زه ددوی دسرو سیوری،
زه ددوی دژوند ساتونکی.»
پدی وخت کی نژدی هلته ،
غرځنی وه ګرځیدلهمسته(۲) مسته،

(۱)Egoزه- مرادپه خپلځان متمرکز او په ځان ینشعور
(۲) غرځنی:آزاده اوبی ګناه مینه او محبت·داستبداد
لوی دشمن آزادی بی ګناهی او·مینه ده.

www.sikaraam.com

ساده زړی، بـی خبره، وه معصومه پاکه پاکه
قهرمان ژر پهلینده کی غشی کیښود.
پهیو کش غشی روان شو.
غرځنی زړ گی شوځیری.
شوه خپره وره پهخاورو.
نویـی مخ کړلو دښځو پهطرف بیا.
داسی ووی:

«ـنن میاوږد مزل کړی پهدښتو کی.
لږ ستومانه شانتی ښکارم.
هم می زړه کیږي خوراك ته
ورځیلاړې شپـیپالنگ را ته تیاره کړئ
هم دغه غرځنـی را وریته کړئ

یوځل لوی عظیم سکوت پههرخوا پلنشو.
غرځنی لاړی پهتیښته،
لویوغرو لیری دښتوته.
هم له دغه زمانی نه راپدی خوا
لاتراوسه،
غرځنی بیرته ستنینه شوی ښاروته.
تریدلی رهیدلی له انسانه .

مرغی هم پههغه سات شولیخاموشه.
ځنی لاړی شوی کوچی نورومـلکو کی .
نورو سوړی لتولی، پټیدلی، تریدلی.

نارینه دقهرمان ترفرمانلاندی،
پهکار بوخت شول.
جوړوه یی دښار گرد چاپیر دیوال لوړ ،
هم برجونه مستحکمه حصارونه ،
هم یولوی ژور خندق کیندل کیدلو .
www.sikaraam.com

بیاچانه اوریدشورزوز دماشومانو
ځکه دوی له خپل کورونه ،
بهرنشو نور وتلای.
زلمو پیغلوته ؤامر،
چی بیاهیڅ په ښکلولوراز دمینی،
خپل وخت نه کاندی تلف نو.
او داځکه،
فزماندار بیشان له دوه ځیزه بیزارؤ:
عشق بازی یوه دځوانانو، بل خندا دماشومانو.
ښځی بوختی په پخلی شوی،
په خدمت شوی، په هغی ښکلی مانی کی،
چی آبادؤ دځوانانو دلاسونو په تمنا کو ،
په خولو دمړوندنو.

* * *

اژدهاته ستاینځای.(۱)

ستر تولو اکه پهلوان بیا،
خپلی هسکی مانی خوا ته ،
آبادی یی بله وکړه باشکوه .
نوم یی شو دعبادت ځای .
دامعبدو، ستاینځایؤ، دښامارمار
دټولواك مجسمه وه ،
له دبرې جوړه شوې
نیم وجود یی دانسان نیم اژدها و
ډیره لویه باعظمته وه ولاړه .
دمعبد دگنبد لاندی .

(۱) خودپرست شعور یو بت پرست شعـور دی او دخپل ځـان ستایی او نمانځی ته اړوی.

www.sikaraam.com

يو بو ډا يـي ستر راهب و،
جامې ژېړې، کميس اوږد .
سرسرتوږهم،
دبت پښو ته به تل ناست ؤ.
بيابه ده دبت له خولې کړه بيانونه،
امر اونهي، تهديدونه، اخطارونه .
زوړ زلمي نارينه ښځې، بهورتلل تول ،
هره ورځې، لمرخاته لمر پريواته هم،
دعاګاني ، عبادتؤ، پرستش داژدهاو ،
قرباني به يې کولې، شکراني بهيې راوړلې .
تول ښايسته ښکلي شيان چې،
دهرچاؤ په کوروکې ،
تول راتوي خري خري شول،
دبت پښو ته ،
زيبايـي له ښاره ولاړه،
په معبدکې زنداني شوه.

* * *

له ښاريانونه يوازې،
يو دازوړ راهب خبرو،
چې دالوي قهرمان څوك دې .
ده بهکله، دمعبد نيمه تورتم کې،
دخپل خاصو شاګردانو سره ناست ؤ.
پوهول به يې په اسرارو په رموزو.
ده به داشانتې بيان کړو :

www.sikaraam.com

سراعظم رښتیني

رهبانانو! واورئ دابیان

له رمزونونه خبرشئ پټ پنهان

زمامدار زمونږ لیوه دی،

لکه وینو ته چې تږی وی دغرورغولیوان

زړه یې کلك لکه تورکاڼی دبیابان لکه سندان

خوکاڼه دی آدمیان

خوړانده دی عالمیان، عبرت نه‌اخلی په یو آن

« رهبانانو! له‌رمزونونه خبرشئ پټ پنهان

وایاست له‌ما سره په دعا :

ای څښتننه ته‌باچایی‌دجهان

که‌هم وشکی سمندروینی، تنده ستاپسی لمبه شی صدچندان

که هم وخوری غرونه غرونه زنده جان، ولـږه ستا پسی زیادت کا لا شدت کا

په لیوانو کی لیوه له‌وږو وږی، په‌دریاب کی پروت‌نهنګ له تږوتږی.

خو کاڼه دی آدمیان

خوړانده دی عالمیان

عبرت نه اخلی په‌یو آن

رهبانانو راشئ واورئ دابیان،

خلکو ته‌وایاست، خولی توی کړئ پدی او ردخپل جبین دمتو لاسو

څودتندی لمبه‌پورته تر آسمان شی.

خونړی قربانی وکړی دی لیوه‌ته

څوچی لوږه‌لاخپره شی په جهان

www.sikaraam.com

نیوهیزی دښار خلك چه ښځتن زمونږ لیوه دی، پهلیوانو کی لیوه په وزو کی وزی پهدریاب کی پروت نهنگك لــه تزوتزی.

* * *

«اوس یی «اسم محضه» په خوله راوړمه
هغه رمزد ټولو رمزو «سراعظم» بیانومه
دغه سربانَدی خبرشی، خوله ځانه یی پټ ساتیٔ په خپل
زړونو کی پنهان
هم‌له‌خلکو یی پټ ساتیٔ داعمالو په جامو کی
نو بهخلاص یاست له‌گزنده له غضبه په امان
« رهبانانو‌ښه‌خبر شیٔ‌خوهیڅ‌وخت‌په‌خوله‌وانخلیٔ‌دغه‌نوم
لوی بادار زمونږ ښامار دی دښامارمونږ بندگان
پهچابکوکی چابکونه چابکه
دهرزور دزور دپاسه پهلوان
خوړانده دی عالمیان
خو کانه دی آدمیان
عبرت ناخلی په یوآن

* * *

« رهبانانو راشیٔ واوریٔ دابیان
له‌رمزونو نه خبرشیٔ پټ پنهان
یو کوچنی چنجی پیداشو له‌هگیٔ نه
ددی سیمی دپستی نمناکو خاورو پهزانگوکی زنگیده
داچنجی هسی چنجی ولکه نور هسی چنجیان
بی‌لاسه بی‌پښوپه سترگو ړوندو، بی قدر ته‌بی توان
ویل به‌خلکو داچنجی دی

www.sikaraam.com

خبرنه ؤ داچنجي نه‌وبلاوه اژدهاتوره بلاوه،
چي رالوي شونو هيچاته ورته نه ؤ
شباهت يې ويوازي‌دخپل ځان
دي‌مارنه وځکه ده لرل ښانگونه
مرغۀنه ؤ ځکه ده لرله خوله اوزده غاښونه
ابوالهول ته ورته نه ؤ
ابوالهول خوکړي پوښتني له انسانه
چي‌هرڅوك به‌لاجواب شونوخوراك به‌د بلاشو
ده پوښتني‌نه‌كولي
سوال ځواب يې عادت نه ؤ
بس فرمان به يې صادر کړو
هي امرونه به يې كول
چاچي‌غاړه له‌فرمانه غړوله هغه غاړه غ-و ښيدله، هغه سر
خوړل کيدلو
دي يو داسي ځناورو‌چه چيچل به‌يې هرحيوان
خودي چاچيچلي‌نه شو
ژوندي سري به‌يې خوړلو، خودي چاخوړلي نه‌شو
دي داسي سورانگارو چي‌هيڅ نس‌سره‌نه طاقت دهضمولو
نه‌تالو سره قدرت دتيرولو. كه‌يوسربه‌تري جدا شو نولس
سره به‌يي نور راشنه کيدل.
ددي سيمي زمامداره تول واکمنه آلهه دمحبت وه
شوه خبره‌له احواله چي‌يوه‌بده بلاتوره ددي‌سيمه ورانوي
نوراغونډيې‌لههيواده‌هره خوا کړل زورورپهلوانان‌قهرمانان
ورته يې ووې : كه څوك مړدغه ښامار کړي، يا يې وشړي
له ملکه، نويو لوی عظيم انعام به‌يې نصيب شي
www.sikaraam.com

د ژوندون چینه به یې هیڅ وخت وچه نه شي
هم پیدا به کړي د ورك سمندر غاړې
دماتې ناکامۍ بیځایه درده یادفتحې کامیابۍ کاذبه خونده
به آزاد شي
نه پوهیږم دا انعام قهرمانانوته ښکاره شو بې ارزښته
یاپه ځان کې یې زورنه لید دښامار سره دجنګ
نه ښامار کړلو چاموږ نه هیچا وشاړه له ملکه

* * *

زموږ لوی ښتن ښامار چې لویده تنده یې نوره زیاتیده
ولږه یې نوره ډیریده
دده تنده دانسان وه
دده ولږه دجهان وه
نور اووت له هیواده ددښتو په لور روان شو
ډیرلیوان یې تورتور مات کړل
ډیرې وینې یې وزبیښلې
څو قوي شو
کاروانونه یې بیشماره لوټ تاراج کړل
زورور شو
دورې دورې هیوادونه یې نیول، لوی ښارونه، بې حسابه
انسانان یې کړل دننه په خپل نس کې
ټول جهان ورته تسلیم شو
خونړۍ قربانیګانی شپه او ورځ دده په مخکې
ټول مخلوق یې بنده ګي کړه پرستش کړه غلامي کړه
بس یوازې ددې سیمې خلك جهل کې ګمراه ؤ

www.sikaraam.com

آلهه دعشق اومینی یـې ستایله
اوزەوزدلوی څښتن جلال عظمت نەیـې سرپیچي کړه.

* * *

«رهبانانو له رمزونونه خبرشئ پټ پنهان
زموږ لوی څښتن ښامارخوپه دور دسته هیوادوکې وینی
وڅکښی دریابونه
لوی ښارونه بې‌حسابه انسانان یـی کړه دننه پخپل نس کی
تنده یـی‌بیاهم ماتەنه وه
ولږه یـی لاهم‌زیاتیدله
ورپه یاد شوه ورته خپله‌زړه سیمه خپل وطن د چنجی‌توب
له‌هغه ځایه چی‌تللی وبهرهم هغه ځای‌ته راستون‌شو نورهم
وزی نورهم تږی

* * *

رهبانانو راشئ واورئ دابیان
له رمزونونه خبرشئ پټ پنهان
لوی څښتن زموږ ښاماردی دښامار موږ بندگان
په لیوانوکی لیوه په وږو وږی
په دریاب کی پروت نهنگ له تږو تږی
خوړانده دي عالمیان
خوکاڼه دي‌آدمیان
عبرت ناخلي په یوآن

* * *

بد رنځونه بـی درمانه

له یوڅه مودی ڼ، وروسته ،
په ورو ورو شوله روښانه داخبره،

www.sikaraam.com

چې د یستر لوی فرمانداره، قهرمان لوی،
ستر فاتح دټول عالم خو،
ډیر راوړي وله ځانسره میکروبونه دساري ساري امراضو،
یو مهلك زهرقاتل یې،
له وجوده خپریدو هم .

ده راوړي و دې ښارته،
دری مرضه :
یو مرض غم اوخپګان ؤ
بل مرض قهراو غضب ؤ .
دریم ډار او واهمه وه .

* * *

لومړی شخص چې مبتلاشو،
په مرض دغم خپګان زر،
داهغه حاذق حکیم دښارطبیب و،
مرض دومره سخت کاري وناببره
چې فرصت نه‌د دارو نه‌د درمان و .
ځوچې خلك خبریدل بیا .
زوړ حکیم و سفر کړی بل جهان ته .

* * *

دا امراض په هرچاباندی په‌یوشان پوری کیدل نه .

تل ځوانان به پریوتل زیات،
دغصی قهر او غضب په سخته تبه .
زیات شمیر ښځی ماشومان اوبوډایان به
په‌مرض دغم خپګان اخته کیدل .

www.sikaraam.com

فقط ډاراو واهمه داسی‌مرض و،
چی توپیریـی نه د وور‌که نه د زور، که
نه‌دښځی‌نه‌دنر‌که
په هرچاباندی یوشان پوری کیدلو .
نودا ځکه بوډایانو، به ډیر عمرنه‌کولو .
زلمو‌تل‌شخړی جگړی کړی، دښمنی کړی ،
مرگ قتلونه به‌یـی کول،
تویولی به‌یـی وینی یودبل‌تل .
ډیر کوچنیان به دځوانی له‌عمره مخکښی،
دخپگان په‌نری تبه، رنځیدل اومړه کیدل .

* * *

که مرض دغم‌خپگان به‌لږ کلارشو ،
که دقهر اوغضب تبه به‌لاړه ،
واهمه اوډار هیڅ وخت نه ور‌کیدلو .
ساري بد مرض خوداو،
چی‌جاري تل شامدام و .
نوربه خلکو یوپربل اعتماد نه‌کړو
نه‌باور دچاپه مینه محبت و .
نه‌دوستی‌وه، نه اخلاص‌ؤنه‌رشتیارشتیاخبری .
ډاریدل خللك یوبل‌نه،
له خپل ځان‌له خپلی ژبـی له‌خپل سیوري ،
د خپل کورله دیوالونه .
له دي ډاره چی‌خبری څوك وانه وري،
په تورتم توره تیاره‌کی گونگوسی ؤ .
یوله بل سره په غوږوکی پوسیدل ؤ .

www.sikaraam.com

نه‌له چاسره جرأت دگرځیدو ؤ،
چی بهرله ښاره لاړشي،
له دښتوله بیابانونه،
له‌هغی‌خوا، چی‌راغلی، قهرمان دښارپه لور و،
واهمه وه له هرچاسره .
په دروپه توروغروکی،
پټوپټو مغارونه، ډاریدل دوی .
توله شپه به دوی لیدل ډیر،
ډیرخوبونه پریشانه،
وحشتناکی هیولا خوب ته ورتللی،
نیمه شپه به بوګنیدل دوی،
پاڅیدل دوی، لړزیدل دوی .

* * *

ارمان ارمان افسوس افسوس !
خلك نه‌کړه چاخبرله اصلی رازه .
چی‌داڅه رنګه‌آفت په دوی نازل ؤ؟
داڅه شان توره بلاوه،
چی‌منګولی یی د دوی‌په زړونو ښخی ؟
خلك نه‌کړه چاخبر هیڅ :
داخو هغه اژدها افسانوی ؤ،
چی‌د خلکو له غفلته ،
و راغلی‌له دښتونه،
په دی ښار و کښیناستلی .

www.sikaraam.com

دعالم په درياب دو به‌دپاياب طمع ومكړه
داپاياب دی دیر وغوښتی خبر نشول له‌ساحله
خوشال ختېك

دويم پړاو

دمه ځای چې پکې ځای

ددمې نه‌و

دزړه په کنډوالوکی تور ښامار پروت

ډيری ډيری مودی تيری په دې شان شوی .
خوناځا په شولو پام دقهرمان ستر،
چې هيڅوك شاوخوا نشته ،
دی‌بادار ، ستر بادار دټولو خلکو،
خوهيڅوك دغلامی دپاره نه‌ؤ

www.sikaraam.com

دی واکمن و، دتول واك دده په لاس کی،
خو نه مینځ‌ه‌نه نو کروو ، چی پری‌واك وچلوی ځوك

فرماندار فرمانرواۀ ،
خو خادم نه ۀ فرمان دو ړو دپاره

په‌هغی هسکه مانۍ کی،
دی یوازی ژوندی سری ، یك تنهاۀ .
تول مړښارو ، چپیائی وه هدیره وه . (۱)

ښاردا وسپینی کلاوه ،
دروازی یی تل تـړلی .
ځکه هیچا نور په هاخوا گذرنـه کړو.
چمنو نه شنه باغونه پاتـی نه وو.
هره خوا شړی میری وی .
هره ورځ به پکښی لمربیا ،
سور تنورلمبه کولو .
هره شپه سړه سیلۍ وه ،
خاوری دوړی باد یدلی،
سینگیدل به اغزی غنی .
ځنگلونه جل وهلی ، ونـی سوی .
غرو ځیره وه بدل کړی،
تول خړپړ په ایرو رنگ ۀ .
هم سیندونه ، هم خوړونه ،وچ پراته وو.

(۱) په ځان مین‌شعور متوجه کیږی چی بهر اجتماعی‌جهان ئی گلهوډ کړی دی
او اوس‌یـی دخپل دزن نفسی جهان گلهوډی اوخرابـۍ ته پام گرځی .
او په ویجاړه نفسی جهان کی سیر کوی .

www.sikaraam.com

اوبه لیری په کوم بل ځای بهیدلی .
کومې لاری لوی لوی ، چې ورتلی دښار په لوری
هغه تولی ورکی شوی ، په زوزانو ، په اغزوکی .
کاروانونو نورګذرپه دی خوانه کړو،
چرته لری تیریدل په نوروسیمو.

* * *

دچپتیا په تربړموکی شور ماشور:

دازمونږ ستر قهرمان لوی پهلوان بیا،
دخپل ځان صحرا په کنج کی ،
لاشعور مغاری خولی ته، په مودو منتظر کښیناست .
ترږمو دمغاری ته بهیی کتل ،
دهغی تورتم سکوت ته غوږنیولی .
ده ګمان کړو:
چی ژوندون له دشت صحرانه کوچیدلی ،
تللی تللی سمخی تل کی ځایدلی .
زړه به داسی ورته وی چی:
پټ په دغه ناکلاره کلاری کی،
ددغه ناشنا سکوت په ژورتل کی ،
لوی دریاب(۱) پروت دی خاموشه .
مخ یی رون دائینی په شان ځلیزی .
هم نری وزمه چپی چپی چلیزی .
ددریاب لونړو آواز خوږ ،
راوړی ځانه سره له دوری .

---

(۱)دژوند ریښتنی معنی

www.sikaraam.com

بیابه کله غرهار دده ترغوږ شو .
نو گومان به یـی کولو:

چی‌خالق دسمندر(۱) په غضب‌شوی،هی غریزی غوریږی

بریښناگانی هم شرقیږی ، هم کرسیږی .

بارانونه ترپهار کړی.

لوی موجونه ، غرونه د ساحل په لور روان‌دی .

ورځی جنگ‌ته دلوی هسکو گرنگونو ،

دزوی ددریاب غاړی ، لرزوی پرښی پاڼونه .

* * *

بیابه زمکه دربیده دده په غوږ کی .

نوگومان به یـی کولو :

چی رمی رمی وحشی آسان زغلیږی ،

په‌کوم لوری تاخت وتاز کاندی شښیږی.(۲)

***

یابه یـی کله اروېدلو هیبتناکه غرمبهارهم ،

چی راته له‌لیری ځایه.

هم ملگری دی غرمباسره بل آوازو :

شرنگیدل وجربیدل دزنځیرونو .

ده به‌وی چی تور دیوان زنځیر ترلی ، (۳)

زنځیرونه ماتوی ځان خلاصوی اوس .

نژدی هلته دغارخولی ته ،

غوریدلی تورجالو نه تنابونه ،

---

(۱) دژوند بنیادی قدرت .

(۲) دژوند غریزی او بنیادی تمایلات

(۱) هغه طبیعی تمایلات چی زپل‌شوی او په شاوهل‌شوی دی

www.sikaraam.com

پکی ناستی توري غمنی (۱) غتې غتې ،
غلی غلی ، چپه خوله وی منتظری ،
چی را گیر کړی ، په خپل دام کی ،
له کوم ځایه ، نامعلوم ښکار .

* * *

دماښام ښاپیره کی وو(۲) په زرگونو
پرقول یی په‌یوشان وزرځانگونه ،
په تورتم کی .
پوهیده چی ، هلته سترگی دی ځلیزی لکه‌ستوری ،
ده ته‌گوری په ځیرځیر له هری خوانه .
دغه ټول پهره داران دترزمی وو
دماښام خړی ته غلی ناست په تمه ،
چی بیاو کاندی لښکری ، چی بیاونیسی دښتونه .

* * *

هلته لیری پاس په وچه ونه باندی ،
یو گونگی په یوښاخ ناست ؤ ،
دواړه سترگی گردی گردی ،
په بیشانه تعجب کی ،
قهرمان ته یی حیران حیران کتلی .

* * *

قهرمان به په خپل ځان کی ،
بیاایدل چی،

---

(۱) اوهام
(۲) ـ دخود پرسته شعور خیالونه
(۳) ـ پڼپله شعور چی ځان تماشه کوی

www.sikaraam.com

دهستی په ژور تل کی نابېره به راوینبن شو ،
هغه تېزی دسیندونو ، دریابونو ،
هغه وږی ، دجهان اودژوندون هم .
نوبه ده له ځانه داشانتې تپوس کړو :

«ــ دا اوږ دی اوږدی مزلی ،
په زوزانو ، په اغزوکی ،
دوچ خوړ په غاړه ناست انتظارونه ،
سرگردانه گرځېدل شړومیروکی ،
څه دپاره ؟ چا دپاره ؟
گوندی نه چې، هغه ورکه نامعلومه لټومه ،
هغه ورکه نامعلومه ، چې هرآن رانه ورکېږی ،
زما خپله بې‌دردی کی ،
ددی دشت دکلکو کاڼو ، وچ اغزوپه بې مهری کی ،
ددی غروبی پروا پرښو په سختی کی . »

« څه شوه څه شوه ، دژوندون چینه می څه شوه ؟
چې هرکال به پری اختر دپسرلی ؤ .
طبیعت به ځان سینگار کړو .
تور تورغرونه ، توردیوان داهسی نه ؤ .
شنی جامی دښاپیرویی وی په ځان کی ،
شنه لمن دزمردو .
سروگلونو رنگارنگ به ،
سرراپورته کړوله خاورو .
بیاروانی به هرخواشوی ،
قافلی درنگ اوبوی هم .

www.sikaraam.com

درمندونه به دمشکو دلو نگو ،
په دښتو وچو میرو وو . »
« څه شوه څه شوه ، دژوندون هغه چینه اوس ؟
چې دخوړ په وچ بستر کې به یې روان کړل ،
مست رودونه .
دسیندغاړې وې آبادې ،
دستومانو دمه ځای‌و .
دورې دورې هیوادونه ،
تږې سترې مسافر په دوړو پټ ، دلته راتلل، دمه کیدل . »
« راته ښکارې چه مودې مودې به‌کیږي ،
لاروی له هیڅ پلوه ، په دې خوانه دی تیر شوی .
نه کوم پل دقدمونو ، نه‌کوم لاره نرۍ ښکارې .
اوکه وو اوس ټول پټ شوی په زوزانو په اغزوکی.».
بیابه داسې سوچ ورتللو :
« – گوندې نه چې‌دژوندون ورکه چینه مې ،
ننوتې ده دې غارته ،
پریوتلې ژور تل ته ،
نوره نه راپورته کیږي ، دارې نه‌کاندې بهرته . » .
« ماخوتل ویلې ځانته :
دا اوږدې اوږدې‌استوگنې په‌ښاروکې ،
ښه کارونه دي .
کوم خطر به پکې پروت وې ، ناڅاپې به راولاړ شي . ».
« ماخوتل ویلې ځانته :
داهرکله غونډیدل دډیوې خواته ،
www.sikaraam.com

دادنورو نژدی والې څخه ډاډ هم ،
پیښوی یولوی ضرر ،
لری باسی انسانان ټول دژوندون له پټه رمزه،
هیروی په انسانانو ،
خاطری ددی دښتونو ، گړنگونو ،
خاطری ددرندو سیورپه دروکی ،
خاطره هم ددی سمڅی .
هم دژوند هغه چینه شی ترینه هیره ،
چی پرته ده ، ددی غارپه ترږموکی .
په دی هیره هیره باندی ،
داچینه دژوندانه ورو ورو وچیږی . » .

* * *

ښاپیری دعشق اومینی: (۱)

بیا وریاد بهشولو تیر هغه وختونه ،
چی به پروت و دژوندون دسیند په غاړه ،
اوسیده به دوجود دچینی خواته .
زمانی وی تیری شوی ډیری ډیری ،
نه نارنج و ، نه یی گل نه یی بویونه .
نه مرغی وی ډلی ډلی ،
چی ماښام به زوگیدلی په باغوکی ،
لټولو به یی ځای دبیدیدلو .
هر سهار به په چغار راویښیدلی .
ډیر کلونه وو تیرشوی ،

---

(۱) دژوندښتینی منبع یعنی مینه - دځان اوځانځانی مینی پر ضد.

www.sikaraam.com

چه یی هیڅ نه‌ارویدلو ،
دهغه‌ژورډك سیند دایم غرارچی
تل رغښتلو ددری په‌زوړ بستر کی .

حتی هغه شرشره وه چپه شوی ،
چی همیش به بهیدله ،

ددایی پشان به ناسته هره شپه وه ، دده سرته ،
ورته کړی به یی ترنیمو نیمو شپو هم ،

ددیوانو ، دپریانو افسانی تل
به لومړولو مړومود وکی ،
دی چپټیاته قهرمان دومره پام نه کړو .
حتی دایی په یادنه ؤ :

چی هرورځ به مازیگر شو ، زیړی لمرشو ،
کوز دغرونو په لمنو ، به شینکی غبار راخپور شو ،
پاس دسپینو غرو په څوکو ،
زیړی لمر هرخوا شیندلی ، دسرو زرو پلوشی بیا .
چی به اوړی شو گرمی شوه ،
ویښ به پروت ترنیمو شپو و ،
په هغی چپه دنیا کی شورماشورو .
ددریاب دایم غرهارته به‌یی غوږو ،
تماشابه یی دستورو دآسمان کړه .
کهکشان لمن ځلانده ،
دی تری څوړندزنگیدلو ، لوبیدلو .

* * *

ترڅه وخته ، کله کله به یی ستوروته نظرشو .
خوورپاتی نوره نه وه ، صفایی دتیر وختونو .
تول پټ کړی ، محوه کړی ، رڼاگانو ماشینی وو ،
www.sikaraam.com

رڼاګانې زندانې په فانوسو کې،
مشعلونه په زنځیرتړلي څوړند.

* * *

نوريـــې هيڅ نه‌يادېدلې،
تودې شپې دپشکال بیا،
چې ناڅاپه به‌غرارشو،
تور سیلاب به را روان شوله‌ځنګلونه،
لویـې ګرګې به روانې، غټې‌تیزې رغړېدلـې،
دسیلاب په هسې شپو به‌سیند بیشانه‌په‌غضب و،
داوبورنګ به تلک تورشو،
لــکه زړه دطوفاني شپــې.
د درياب چپو به زګ کړو، شوراوزوز کړو.
دسيندغاړې ښورېدلې، هم پانونه، پرښې تيزې
ګړزيدلې.

حیرانتیاوه،
چې ده‌څرنګ هیره کړې،خاطره دهغې‌شپې وه
چې طوفان‌عظیم راکوزله‌لويوغروشو،
سیند په قارو، ناقلارو، غريدلو.

په‌دې وخت کې راپیداشولو له ورایه،
دچپومنځ کې روانه،یوه‌ګوردمه لو یه‌لويه.
ناڅاپې دخلــکو پام شو،
چې دپاسه په‌ګوردمو،
یوه‌مرموزه سره رڼاوه ځلیدله.
که انګاروسورسوزانه، په‌اوبو کې؟
مخلوقات وتماشې ته راوتلې،

www.sikaraam.com

داریدلی هك حیران و.
دیرناته یی کتل په ترزمی کی.
په دی وخت کی بریښنا پرق کړو .
په دی لنډه روښنایی کی ،
خلکو ولیدوچه یوه ګرګه وروانه په اوبو کی،
یوشین مار کړی وړی وربانډی پروت و،
رنګارنګه، ټکی ټکی سرترپایه،
غاړه هسکه هره خوا یی تماشه کړه .
پاس په سریی یوسور ستوری ځلیدلو.

ګونګوسی دخلکومنځ کی شوی روانی دوی ویلی :

« ټول واکمنه دمارانو، ښاپیری دسرسبزی وه
پاس په سریی دسروتاج و ،
یکی لال دبدخشان و، ځلیدلو .
لاړه لاړه، مونږنه لاړه،
زمونږ سیمی نه بهر شوه.
دهغه دریاب په غاړه میشته خلك،
دمارانو ستر واکمنی په هجرت ټول، ډیرخپه وو.
اودملك په آبادی په نیك مرغی کی،
داهجرت ورته ښکاره شوبدشګومه.
داهجرت وپه رښتیا یوه لویه پیښه.
بیاوروستی نسلو تری جوړه دتاریخ لویه مبدأ کړه.
ځکه ځکه په دی پیښی، ختمیدلو،
دانسان طلایی عصر،
اویوه نوی تاریخی دوره شروع شوه.

www.sikaraam.com

دمارانو سترواکمنه ښاپیری چی، څنګه لاړه،
په هغی طوفانی شپه کی،
نوزمونږه قهرمان هم،
دژوندون دسیندله غاړی نه جداشو .
لـکه هغه سیندچی نه راګرځیدای شی، نه په شا
دوباره تلای شی،
قهرمان هم بیاونه کړای شوچی ستون شی،
دژوندون دچینی لورته.
قهرمان به بیاله ځان څخه تپوس کړو:
«ـ هغه ورکه نامعلومه هستی څه ده،
چی داهسی سرګردان ورپسی ګرځم،
په دښتو په بیابانونو؟ »
«یوه رڼاوه،
دچشمانو په افق کی دیوچاوه،
ښکاریدل به په هغه ناشناافق کی،
آبـی رنګه دریابونه ناپایابه.
هغه څه شوه؟»
«یوه لمن وه،
شین بخنه، چی هرخرخ به یی خرخولو،
دآسمان ځلانده ستوری.
چیرته لاړه؟»
«یوه خنداوه،
چی دسروشونډوشفق یی، دژوندون صبح صادق و.
ولی چپ شوه؟

* * *

سربه یی کیښودپه زنګون

www.sikaraam.com

په‌خپل سوچ کی به ډوب ناست و.
خپل گریوان ته به یی لاس کړو.
بیا به یی ووی:
«–زه‌شړلی فواری یمه‌له‌عشقه!
داغایبه‌هستی څه ده؟
هغه عشق دی.
نامعلومه ور که څه‌ده؟
هغه مینه.».
ور په یاد بیا هغه وخت شو،
چی څه شانی فراری شو.
الهی دمحبت په‌هغی ورځی، اغوستلی‌شین کمیس و
دی یـــی ونیوه له لاسه.
بیایی وښوده‌له‌ورایه، هلته‌دوری یوافق و نامعلومه.
نویـــی ووې :
– زه چی ځواوس !
قهرمان زمونږ زه ډارشو.
له‌دی هسی نا آشنا مسافرت نه (۱)
نویې داشانتې جواب کړو:
ـزه خودلته میشته خوښ یم،
ددې ښار په‌دیوالو کی.
دښاریانو دچراغ په پلوشو کی (۲)

---

(۱) دعشق اومینی رښتینی سفر.

(۲) ځانځانی شعور درښتینې مینی‌څخه ډاریږي‌او خپل حقیقت په تیو لنه کې، اودنورو په غلامي‌او فرمان برداری کی لټوي.

www.sikaraam.com

نویـی پام شو،
چی‌دهغوشهلا سترگو، آبـی رنگه سمندر افق
تورتم شو .
پەخنداکی سپین سباصبح کاذب شو ،
راخپره پری توره شپه شوه.
بیاپەهغی سکلی ژبی داناشنابیان جاری شو:
«- په سوراورلمبه دښتونونه به تیرشی .
دتورتم مغارو تل‌تەبه ورپریوزی .
خوبیا مانه شی‌موندلای .
هغه لاره چی بیاماته رارسیزی،
ډیره سخته ده بیشانه
نەیی سرشته نەیی پای شته،
بـی‌منزل بـی‌دمه ځایه .
کوم ساحل‌دسمندرچی زماځای‌دی.
داساحل به ستا دژوند مدام سراب وی،
پسی ګغلی بەبی ځایه .
هرقدم‌چی‌ورنژدی‌ځی،
زرقدمه به تری وروسته پاتی کیزی .»
دسپرلی الهی داخبری کړلی .
اوآوازیی پەتدریج لری وتلو :
«- بی‌لەمابه،ستاباغونه،چمنونه‌تول‌خزان‌شی
بـی له مابه،
ستاسیندونه، رودخانی هم،
ورو وچیزی ځاځکی ځاځکی.
چی زه نه یم ،
یوه ترخه سره سیلی بەراپیدا شی.

www.sikaraam.com

دمرغانو شورماشور به کړی خاموشه .
او یوه ورځ دورځ به ناڅاپه ستا پام شی،
چی سرسبزه شنه دښتونه،
دغروشنی ښایسته لمنی ،
واړه وچ اغزن ډاگونه دی میری دی.
او په دی وچه صحراکی ،
یك یوا زی ژوندی سری فقط ته یی،
خزنده یی، سمسره یی، په خاپوړو...».

* **

ورپه یادشو، چی دعشق آلهی دابیان کولو
اوآوازئی په وروورو محوه کیدلو.
نودی پوه شو، چی داځل یو دوهم واروآخرینه
چی تری لاړه تل دپاره،
ستر واکمنه دمارانو، شین کمیسی ښاپیری دنو-
بهاربیا .
دازمونږ ستر قهرمان بیا،
په هغی هسکه مانۍ کی ،
داوزدو فکرونو تال کی زنگیدلو.
اویوازی یاك تنهائی ژوندکولو .
ځکه ځکه، گیر چاپیر دمړوښارو .
فقط دی یکی یوازی ژوندی سری.
ډیر کلونه تیریدل اوزدی مودی هم،
دروازی دښار تړلی کلکی پوری .
هیچانه کاوه گذر په دغه لوری.
هیڅوك نه نژدی کیدل دښارو خواته .
مودی ډیری شولی تیری.
فقط یووار، یوه ورځی، چی ماښام شو توره خړه،
راپیدا شوه له کوم ځایه،
یوه ناشنازړه بوډۍ وه ،

www.sikaraam.com

پته پته غلی غلی راروانه.
دښارلوی دروازې ته ودریدله.
خیره بده هم مرموزه، هیولاوه بد منظری،
تور کمیس توری پرتوگ توری زړوکــی،
دلوگی‌وو.
دښارلویــه دروازه شوله برسیره په خپل‌سر.
بوډۍ ننوته ښارته .
دهغی هسکی مانۍ پەلوري لاړه .
خوناشناشانتی بوډۍ وه .
بـی‌لەدې‌نەچی‌قدم‌پەمحکمه‌کښیږدي،
دښایسته زینونه وختله پورته .
-بی‌له دې نه چی کوم مکث یاتوقف کړی ،
دمرمر وجگو ستنونه شوه تیره.
دښایسته محلانده قصر دروازې ته ودریدله .
دی بوډۍ بیا،
نه زنځیر ددروازې وشرنگولو ،
نه‌یی ور و ټکو لو
وربرسیره به خپل سرشو.
بوډۍ لاړه شوه‌په قصر کی دننه.
خلك وایـی:
داناشنا زړه بوډۍ خو،
خیره بده هم مرموزه ،
پرښته دىرزموه.
چی یـی‌وکړو ملاقات له قهرمان سره.
نور باقی کیسه عجیبه په‌دی شان ده.

www.sikaraam.com

دریم پړاو

ددوزخ له درشل دیخوا

ښه په یادمې هغه وخت دی ،

چې دزړه ښکلې ماڼۍ مې جوړوله ،

دژوندون دسیند په غاړه .

ددې کار مقصد معلوم و .

دا خوارې په آبادۍ کې ،

دازحمت په تهدابونو ،

دادقت زیب او زینت ته ،

دغه ټول دچا دپاره تیاری وه ،

دیوچا په انتظار سمبالیدل و .

هیڅ دزړه خاوند دخپل زړه کور به نه دی

www.sikaraam.com

دزړگی خپله مانۍ کی نه اوسیږی .
کوربنه ربښتیا یو څوك وی ،
که رانشی ، رڼانه کړی مشعلونه .
نو دزړه کوربیا تورتم خړه تیاره وی.
بیادزړه خاوندبهرځی، لټوی دزړه
خاونده ،
ورك به ورکی کوربنی پسی له ځانه،
په دښتو په بیابانو کی، گرځی پرزی.
او د زړه متروکــه کــوررووررو
ړنگیږی ، کنډواله شی .
هغه ښار چی خاموشه، ویرانه شوه،
هغه هم یو وخت دزړه کوم ،
ښکلی کورو ، ښکلی مینه .
خو دزړه خاوند غافل و، بی وقوفه .
دی پخپله پکی کښیناسته یوازی .
اوس راځی چی شو ستانه خپلی کیسی ته:

* * *

رب النوعه، الهه دعشق اومینی

وایـی وایـی:
دهغې ښکلې مانی (۱) کار چی شروع شو،
عواطفو ،هیجانونو، معماری کړه.

---

(۱) ربښتینی انسانی ذهن اوروح -
چی یوائحی مینه او محبت ئی اصلی او تینگ
تهداب دی .

www.sikaraam.com

معماران هسې ماهروو،

بې مثاله بې همتاوو،

په ډېر شوق په ډېره مينه ئې خواري کړه.

تا به وې چې جوړ وي شکلي معبد دوي.

چې هغه شکلي ماڼۍ شوله آباده،

نو زينې وي د مرمر و د رخامو،

پايې ستنې د لاجوردو،

د بلورو فانوسونه مشعلونه، پکښې ځوړند

قيمتي پردې وريښمينې،

بخملي او وريښمين قالينې،

هم نقشونه نګارونه

په هر لوري تابلوګانې رنګا رنګ

په ديوالونو.

دغه ټوله تياري وه، ديو چا پذيرائي وه.

ديو چا دراتګ لار خاکو خار له.

انتظار هره شيبه په زياتيدووه.

انتظاروو کاڼې بوټې په صحرا کې،

ټول ګلان په چمنو کې،

بلبلان توتيان باغو کې.

غرڅنې چې به د سيند غاړې ته راغلې

داوبو د څکو د پاره،

نو سرونه به يې کړه پورته،

دافق يو دورې ځاى ته به يې کتلې،

www.sikaraam.com

چی به کله رارسیزی ،
ستړوا کمنه ، رب النوعه ،الهه د
عشق اومینی .
راروانه په چپو دسمندر ورو ،
لکه الوځی وزمه دپسرلی تل .
شین کمیس دشنیلی بهٔی پهٔتن وی.
راروانه ،خرامانه، خپل معبد کی
به میشته شي .
قدمونه بهٔدهرچا په لیمو زدی .
په پښوبه ورنثار کړو ،
بیاهارونه، امیلونه،دصحرا وحشی
گلونو

* * *

اژدها ته هر کلی :

خوشیبي دانتظاراوزدي کیدلي .
انتها یي ورکیدله .
په ورو ورو درندی مودی شوی،
غرونه غرونه .
په آخر کښی ،
یو ه ور ځ وه،چی شو لمر په پر یو تلو ،
هم هغه ناشناسړی بیا ،
جامي توري ،ږتور آس سپور ،
پهٔدښتونو کی لهٔورایه را ښکاره شو.
راروان و، راران و،

www.sikaraam.com

دښارلويې دروازې ته‌رانږدې‌شو .
بيا په ښارشوورډننه ،
دهغې هسکې ماڼۍ په‌لوری‌لاړو .
مرمري زينونه پورته شوماڼۍ ته ،
سپوړ په آس خپل .
پاس‌دلوی‌تالاربالکون‌ته‌راښکاره‌شو
دښارخلک يې مخاطب کړه .
داسی‌ووې :
« ــ زه خو « زه » يم !
زه « ايگو » يم .
زه فاتح دلوی جنگونودجهان يم.
قهرمان يم بې‌مثاله .
ستاسو ښارزماتابع دی .
تاسی ټول زما مريان ياست .
دې ماڼۍ کی به اوسيږم تل‌ترتله .
بی‌زماله اجازی بی‌له فرمانه ،
هيڅوک دلته قدم نشی‌ايښودلای .»
پس‌له دی نه ،
په ښاريانوشولی بندی ، دروازی
دهغه قصر .
آزادی لاړه له باغه له چمنه .
معماران دعشق اومينی ،
شوراگيرپه قيداوبندکی ،
په‌سختيو په خوارو کی .

www.sikaraam.com

په کارو کې بې هدفه، رنځوران شول.
مستبده فرمانونه ، امراونهي
بې دلیله فرماندار کړل .
خلک دومره شو بېزاره ،
چې څوك لاړل فراري شول، څوك
دمرګ پنجو ته ورغلل تسلیم شول.
باقي پاتې چرته پټ شول په غارو کې

* * *

فرماندار دې ته پام نه کړو
چې ښارورو ورو دسکوت خواته
روان دی ،
په ورو ورو غلي کیدلو، چوپیدلو
ترڅو پاتې بل څوك نشول، بې له
هغه قهرمانه .
دی یوازې ژوندی سری ،
په خاموشه ښار کې .
نه ئې زمکې نه آسمان ته التفات کړو
قهرمان یوازې ځانته پام لرلو.
فقط ځانته ئې کتل .
بس راضي له خپله ځانه ،
دغرور دتکبر په مسند ناست و،
یک تنها هغې ماڼۍ کې .
هغه ښکلي تابلو ګانې ، رنګا رنګه
تصویرونه ،

www.sikaraam.com

ښکارندوی دهغی سیمې دښکـلا و و
منظری دغرو رغووې ،
هم دخلکو دساده ژوندون صحنی وی
نورې نه لیدل کیدې په دیوالونو
دهغوی په ځای هر خوا ته ځوړندشوې
لوی بیشانه تصویرونه ، دفاتح ستر
او دهر تمثال دلاندې په جلی قلم لیکلی :
« ستر ایـګو ـ جهان پهلوان
« رب دی ور کړی ده ته عمر جاویدان »
په لرګو تیږو مرمرو ،
په پردولو ښوظروفونو په فرشونو ،
ثبت و نوم دقهرمان ستر ،
هم څیره داژدها نقش .
هری خوا په دیوالونو ،
په تالار کی ، سالونو کی ، دهلیزو کی
لګیدلی لویـی لویې آئینی وی .
هر سهار هره غرمه هم ،
هر ماښام هرما زیګر بیا ،
آئینی نه به ولاړو ، شامدام دی .
هی کتلی به ئی خپل ځانته ،
خپل ستر ګو خپل قامت ته .
دخپل ځان په تماشه به تل اخته و .
دآئینی له خوانه دوری تللای نشو .
ځکه ځکه ،

www.sikeraam.com

چې به یې نه لید وخپل ځان خپل ،
نو گومان به ور پیداشو،
چې خپل ځان تری نه ورك شوی،
ځان ئې نیست اونابود شوی .
ستر فاتح به وارخطاشو .
مضطرب به گرځیدلو، لړزیدلو پریشانه
پدې شانی، دازمونږه قهرمان ستر،
لوی فاتح دټول جهان هم ،
بی خبره دآئینې دلوی خطره،
بی خبره دآئینی درمز اسراره ،
دآئینی په لور روان شو .
خبرنه‌و ، چې آئینه‌خودرواز ه‌وه ، دروازه ددوزخونې ،
تیریدل دآئینی له درشل هاخوا،
کوزیدل وداوها موجهنم ته .

* * *

داوهامو جهنم (۱)

شپې اوورځې ، تیریدلې،
دازمونږه قهرمان ستر، ورووروگیرشو،
دلحظاتو په‌پټ دام کی .
دزمان په‌رنځ رنځور شو .

---

(۱) په خپل ځان مېن شعور لومړی خپل شاوخوا بهر دنیا ړنگوی او بیا پخپله په خپل ځـان کی ځـانته دوزخ جوړوي اوورو ورو پکې ننوځي.

www.sikaraam.com

درك احساس دزماني ئي ،
دابهام په ډنډ کی ډوب شو.
خبر نه و، چي څه مهال د کومې شپې دی،
کومه ورځ ده، کومه میاشت ده، کوم موسم دی،
کوم کلو له دی راغلی، کوم فصلو نه دی تیر شوی؟
خو داسوال ورته بی مورده ښکاریدلو .

* * *

فکر ئی کړلو:
چی راتلونکی ورځی شپې میاشتې کلونه ،
باید شمیر شی.
خو داهسی شمیر نیول هم ورته گران و .
کوم مفهوم کومه معنی ئی نه لرله.
دومره پوه و ،
چی یواوزدگران سفر په مخکی پروت دی.
اندازه دلارې نه وه ورمعلومه .
نه کوم میچ نه کوم معیار ئی درلودلو.

* ÷ *

دالحظه به سمندر شو،
ناپایابه .
داشیبه به یو دریاب شو،
نامحدوده ،
ساحلونه ناپیدا غاړی یی ورکی .
بی آغازه بی انجامه، هر لحظه هره شیبه وه
مات نسکو ر و، ورته جام د زماني پروت.

www.sikaraam.com

هم قالب دشپو اوور ځو تش خالي و.

نه ماضي نه مستقبل و ، نه ئې شمار نه ئې حساب و .

هر لحظه ابديت و ، ځوږ ندځوږ ند په خلا کې ،

هر لحظه هره شيبه هسې آغـازو ،

بې انجامه، بې پايانه .

* * *

په دې هسې ابدي اوږدو شيبو کې

قهرمان به سوچ وهلو:

«- په نړۍ کې يو څوک داسې خلک هم ،

چې آرزوئې آخرينه ، ژوند کول ؤ ترا بده

هم ارمان دار مانو نو ، وله دوی سره ،

چې ځنې تن ديوه روح وی جاودانه

که دوی پوه وای ،

چې ديوې شيبې هستې څومره سختې ده

څه خوارې ده،

چې دا يوه لحظه درياب دی ناپايابه

دو بيدل دی، دو بيدل بې انتهادي،

نو هيڅکله به ئې ارمان بيا کړی نه وای ،

چې نصيب ئې شي ژوندون جاوداني

يادننه ورته ناسته وی په تن کې ،

ابدی روح .»

www.sikaraam.com

قهرمان وپــه آخر کی پوهیدلی
چې غور ځنګ په یوه شیبه کی،
ګران سفر دی بی انجامه
په ناشنا پردي وطن کی ،
په تور تموتر زمو کی نامعلومه ..
***
قهرمان ورو ورو روان و،
کوڅیده قدم قدم دی ،
دتجرید او تنهائی ژوری کندی ،
ژور تل ته .
***
سره له دی هم، یو ملګری ور سره و
لا بالکل یو ازې نه و.
یو احساس ئی ملګر تیا کړه .
یو ناشناو یجار احساس یې دپریشانی و،
دا احساس هسی احساس و،
چې به کله نری بادشو،
چلیده به، دده ذهن او ددماغ په
کنډوالو کی .
هیجانونه عواطف به شوی کنګلی
بیا به کله طوفانی شو ،
سختی دوړی ، ګرداو خاوری به شوی پورته ،
دزړه ذهن منظرې به شولی پټی .
بله ورځ چې، داطوفان سخت چلیدلو ،
www.sikaraam.com

ژوند هستي يې لړزوله،
ناڅاپي ورته ښکاره شو، ددې هسې پريشانـــي
علت سبب لوی.
ده گومان کړلو يووختې،
چې په ژوند اوپه هستي کې ،
يو لوی دردخو، تيريدل دزماني دی.
اوس ئې پام شو چې عظيم درد،
دزماني تيريدل نه دی.
هيبتناکه وحشتناکه درد خوبل دی:
دريدل دزماني دی.
کوم تشويش چې ده لرلو هغه داو:
چې به رانشي سهار بيا،
نه هغه بادسبانور،
چې به پاخيده له هسکو سپين کندونو،
خپريدلو به دغرونو په لمنو، په دروکي.
دا استازی دسباو،
دسبادراتگ زيری ورسره و.
مرغې به يـــې ويښولې په باغوکي،
دغفلت له درانه خوبه.
نه به بيا ديوی اوږدې شپـــې په آخر کې ،
دشفق لمنه سپينه شي رڼاشـــی،
ديوی نوی ورځ پيغام به ژوند ته راوړي.
نه به بيا راشي تودې ورځې داوړي؛
چې غرمې به تيريدلې ،
www.sikaraam.com

دچنار دسیوری لاندی،خور پەغاړه .
چی‌نری نری‌او بەپه کاږختلی،
دایمی شرار بەئی خوب خوب راوړلو.
نور بەنەوی‌هغه لمرچی پریوتلو،
دشفق‌لمن بەئی سره کړه.
نەهغەخوازەدردونە،دماښام‌پەنیم‌تورتم‌نیمەرڼاکی

* * *

هغه څرخ دزمانی چی‌گرځیدلو،
دانسان دتول دردنو درمانگرو :
کوچنی‌توب وپه ژوندون کــی،
دورانونه دځوانی‌بیادزړښت ور،
تول ووپای ته رسیدلــی.
دغه څرخ دزمانی ودریدلی،
درمانگردتول دردونوپوخ طبیب دزمانــی و،
چرته تللی.
مهربانه پرستاره دسباهم،
سپینه خوله سپین مړوندو نه،
نوره نەراتله دده دپالنگ سرته،
نورەئی نەکړله دده پرستاری.

* * *

داناشناشانتی سفرو،ده کولو.
یو بیابان بەورپه یادشو ،
چی‌دځروبوتومنځ کــی،
نری لارکږەوزەوەتللی‌تللی،دافق‌پەلوری‌ورکه

www.sikaraam.com

نو به یې ځانته داسې ووې:

«ـ ولې نه شوم په هغې باریکه لار باندې روان زه؟

په یقین چې، رسیدله دغه لاره،

کوم ساحل ته، پټ په لړوپه غبار کې.

ددریاب په غاړه بو تو کې ولاړه،

منتظره یوه کښتۍ ده،

مابه پوری باسې هاخوا،

دژوندون سمندر غاړې کې به کوزشم.»

* * *

خوددې ناشنا سفر په هر قدم کې ،

ده احساس کړوچې لانور په زمکه نښلي.

چې کتل یې ـ یې خپل وجود ته،

نولیدل ئې ـ ی،

چې تنه ئې نیمه لاندې، اونښتله،

جوړیدله ترې دونې کلـکه ستنه.

پښې ځیلي شوې ریښې شوې،

ښخیدې هرخوا په زمـکه.

پاسنۍ نیمه تنه کې لاژوندون و،

سراولاس لکه ښاخونه ځانګې ځانګې،

ښوریدل به، کږیدل به، سمیدل به،

دتشویش او اضطراب باداوطوفان کې.

* * *

بیانودې هستې جامدې،

تماشه دیو عالم کړه، چې ولاړ ساکن ثابت و،

معلق په زمانې کې تر ابده

www.sikaraam.com

قهرمان پەتمه ناست و.
داصحنه ورته تیاره ښکاریدله.
دەوي‌رابه شي صحنی ته، اکتوران ممثلان اوس،
کړی تمثیل به، پەلرغوني یوناني سبکك،
کومه لويه فاجعه دانسانانو،
کومەلويەتراژیدی دمرګك اوژوند دوی.

* * *

کله کله بەئی پام شوشاوخواته،
دنیاګی وەنەروښانه نه تاریـکه.
عجیبه تر تەو لو داوه،
سیوری نەو، هیڅ شی سیوری نه لرلو.
بله ورځی، قهرمان هر خوا کتلی،
وي نەلیدوخپل سیوری.
ده باورکولای نشو، چــی خپل
سیوری یی ورك کړی.
پە دی پیښەدی بیشانه مضطرب شو.
نیم وجودیی و، ورك‌شوی نابودشوی.
دغەسیوري‌خودده وفادار دوست و.
دژوندون پەتیټ‌اوپاس کی ئی‌ملګری.
داملـګری وفاداروتري نه تللی،
نو یی وویلی خپل ځانته:
« ـ اوس پکاردی چیزه لاړشم
اوهرومرو پیدا کړمه خپل سیوری.
ګونــدي وی چی پە دی لټه کی
موندە کړم،

www.sikaraam.com

دخپل ورك سمندر غاړی . »
خو معلومه ورته‌نه وه ،
چی په کوم وخت تری‌نه ورك شو
دغه سیوری ؟
یو له‌بله‌څو مره‌تللی دوری‌دوری؟
بیائی و کتل هر خوانویی‌باورشو،
چی‌دالته به‌بی ځای وی .
ځکه‌ده په‌ځان کی نه‌ اید، نه‌کوم شوق‌دلته‌و لو
نه دهغې اراده هم .
په دی وخت کی ورپیداشوه ،
یو تازه شك اوتردیدبل .
داروونکی‌اضطراب شولوراپورته.
داپوښتنه یی له ځان څخه کوله :
« ـــ گوندې نه چی،
زه پخپله یم یو سیوری ،
هسی‌سیوری چی‌اصلی‌وجودیی‌ورك‌دی؟
یایووهم داوهامو ،
جداشوی دکوم خیال نه ،
پریو تلی چرته دوری :
یا یو فکریم بی ربطه مجرد کوم،
جلاشوی ، پریکړ شوی ،دافکارو
له ژوندونه ؟ »
چی به‌یی‌وکتلی‌ځانته ،
چی‌نه‌ذوق نه علاقه دتجسس وه ،
نه کوم سوزو ،نه‌کوم درد دده په
زړه کی ،

www.sikaraam.com

نه آرزو پاتې نه هیله ،
تولې شیبې وې مرموزې ،
نو په ځان بهٔ يې باورشو ،
چې دی بل کوم څه شی نه دی ،
فقط و هم‌دی یووهم،
فقط سیوری دی یوسیوری .

* * *

ده‌ته‌دې وخت کې یو بل احساس پیدا شو .
دا احساس دده آشنا وله پخوانه .
دامیدیوه ضعیفه رنګینې وه ،
چې په‌دی بیرنګ جهان کې ځلیدله .
دااحساس ویو احساس دسختې تندی،
هغه تنده، چې دزمکې تول رودونه،
تول سیندونه ،
ورته ښکاري کوچنې څاڅکې .
داخو تنده دهستې وه .
داخو تنده دژوندون وه .
نو یې ځانته داسې ووی :
« -- معلومیږي وهم نه یم .
ځکه ځکه ،
وهم هیڅکله احساس دتندی نه کړی.
سیوری نه‌یم .
ځکه سیوری نه ودریږي ،
ریښې نه کړي په صحرا کې . »

* * *

دازمو نږه قهرمان به ،
زنګیده دفکر تال کې ،

www.sikaraam.com

اوخپل ځانته به یی دا بیان کولو :
«- په بیشانه اوږده لاریم ،
رسیدلی تردی ځایه .
هم می کړی اوږدی اوږدی مزلی په صحرا کی .
خولا اوس هم نه ښکاریږی ،
دمقصد پړاوله ورایه .
«- دلته ناست اوس ،
منتظریم ، تش لاسونه .
منلی منلی په دې دښت کی ،
تپوسونه ، تجسس دور کی لاری ،
باید ختم شی په دی تورتم تیاره کی»
«نه په سر کی اندیښنه د کوم خپګان شته .
نه په زړه کی جذبه دخوشالی هم .
نه کوم جوش تری نه دا وښکوراځګیږی
نه خندا پکی خوځیږی .
نه بیتابه په ګرمی د کومی هیلی ،
نه سوړ باددنا امیدی یې لړزوی هم .
یوه مرموزه شانتی تنده می ملګری ،
په صحرا دبیدردی کی :
مګدر منتظر ناست یم .
«- معلومیږی ،
هر قدم چی یمه تللی ، د مقصد په
لوری دوری ؛
په پړاو پړاو یم لیری غورځیدلی .
ګوندی نه چی اصلی لارمی خطا کړی ؟
په بی لارویم راغلی ؟

www.sikaraam.com

دااوزدی اوزدی مزلی تهول بی محایه؟»
ملغلرې له دریابه راتهولیږي .
بیا په مزي پیبل کیږي، وصل کیږي
بیا امیل تری نه جوړیږي .
هم کړی وړی داوسپنی حلقی خو،
راغونډیږي، زنځیرونه تری جوړیږی،
دا شیبی د زمانی هم،
دژوندون په تار وصلیږي، یوله بله.
نو امیل شي، ښه سوغات دعشق اومینی
دبهار دالهي دغاړې هارشي .
یا زنځیرشي، ترپښو تاو شي .
هره ورځ نوی کړی شی، پرې ورزیاته.
دا کړی نوې د ورځو،
زنځیرلږ څه اوږدوینه .
یو قدم نیم، لږ څه وړاندي، بیاممکن شی .
نو انسان ته ورپیدا تصورشي،
چی انسان آزاد مختاردی،
زغایدی شي په هرلوري، نامحدوده .

* * *

قهرمان له ځان سره داسی سوچ وهلو:
«- جوړولو می امیل دعشق اومینی .
خو تاراوم و، وشکیدلو، .
ملغلری رانه توی شولی دانی دانی په هاګ کی.

www.sikaraam.com

وروستنی دانی په‌لاس کی راته‌پاتی.

«ـ اوس په خاورو په اغـزو کی

د دی دښتی،

بیا میندل د ملغلرو آسان نه دي .

الهه دنوبهار که اوس غز و کړي،

نه تحفه شته، نه هدیه شته،

تش لاسونه به ورځمه .

«ـ دازنځیر دزمانی هم‌شو کیدلی .

کړی هرې‌خوا پرتی دی .

هره‌لحظه یوه کړی ده، مستقله .

زه پرې بندیم، پری‌تړلی .

خوزنځیرهسی زنځیردی،

چی‌نه‌ماوصل کوي‌دکوم‌جهان‌سره

اونه ماتړي په بند دکوم دلبر . »

* * *

قهرمان دآزادی معناهم داوه :

آزادی د زمانی له قیداوبسته.

آزادی دشپواوورځوله‌زنځیره.

آزادی د انسانانو له تړونـه .

مگرنه‌پوهیدزموزلوی قهرمان‌ستر.

چی په هغه بیابان کی .

دی دچاله خوامحکوم‌په‌آزادی و؟

www.sikaram.com

نن زما بیړی لاهو شوه په دریاب کی
لا به کله دا لاهو بیړی په شط شی
خوشال ختټك

خلورم پړاو

د دوزخ له درشل ها خوا

ددی ستر قهرمان ژوند کی،
له هر وخته نا قلاره نا آرامه وخت دخوب و.
څکه څکه،

په تورتم کی به ده ځان لیدلی نشو .
ورکیده تری نه په خوب کی ،
لوی احساس دځانځانی خپل .
نودا څکه، هرگړی چی به ورتللو:
نیمه شپه دخوب بسترته،

www.sikaraam.com

کوډ

نو گومان به ئي کړلو چي،
دعدم په لور روان دی ،
دنیستی ډنډ ته وردانګي .
له دی وجهي،
ډاریدوله بیدیدونه ،
چراغونه به ئي نه وژل هیڅکله،
بلیدل به شپې او ورځې .
کله کله هم چي خوب به غلبه کړه ،
نو لیدل به ئي خوبونه پریشانه .
درانده سیوری داشباحو بلاګانو ،
به راتلل له هری خوانه.
کښیناستل به په ده باندی .
یو کارغه به راپیدا شو،
تور ځانګونه به خپاره دده په مخ شول.
یوناشنا دښمن به راغی .
دی به ئي خملاوه په زمکه سمدستی،
پولادی نیزه به ئي خپله، بیادده په زړه کښه. منولی
نوراویښس به قهرمان شو .
بوګنیده به لړزیده به ،
دخولو په ډنډ کی ډوب و .

* * *

چي دی شانتې یو ه شپه دشپو سباشو ه ،

www.sikarawm.com

په دې هسې بې خوبۍ پریشانۍ کې
قهرمان له ځانه ډیر زیات نــا راضي و .
دلومړي کرت دپاره یــې ونه کتل آئینو ته .
پام ئې وکړو شاو خواته ، دښایسته ماڼۍ چاپیر ته ،
چــې لیــدل ئــې ،
ښــار کورونــه وویرانــه پــه هــر لوري
ویرانــې وې ، خرابــې وې .
او دده ښایسته ماڼۍ هم
یوه بــې رنــګه ، بــې زینته آبـادي وه
دریدلې په بید یا کې وچه شړه
دیوالو نو یــې چاو دونه خطیر کړي .
تیزي هرخوا رغړیدلې ، په اغزوغنو پټ شوي

* * *

نو زمونږ ه قهرمان ستړ ، آخر پوه شو .
چې دمرګ په خوب بیده دې دغه ښار اوس
رښتیني فرمانروا هلته سکوت دی .
دې یوازې ژوندي سري هلته پاتــې .
پس لــه دې نــه
قهرمان ته تفاوت دشپې او ورځې کمیدلو ، ورکیدلو .
هغه توري بلاګانــې ، درانده سیوري ،
چې یوازې به دشپې په خوب لیدل ده ،
هغه ډول را پاریدلې په بل شان وو
شپه او ورځې ښوریدل اوس ،
هــري لوري ، هري خواته ،

www.sikaraam.com

په هغی هسکی ما ڼـی کی وردننه
دلته هلته په هـر کنج کی،
دراندہ سیوری پریوتـل اوس .
قهرمان به هم له لیری هم نژدی نه،
اروېدل ناشنا غږونـه
نو باور به ئـی کولو ،
چی څوك هلته یوله بله سره پوسیږی ،
گونـگوسی کړی ، ده تـه بدوايـی،
د سیسی کړی تـو طئی دده پرضد کړی ،
کله کله به یی آواز دقد مونو بیا ترغوږشو،
په اوږ دواوږ دو تور تمودهلیزو کی .
دا آواز به، زیاتیدلو،په ورو ورو نژدی کیدلو.
بیا به یودم ودریدلو .
هره خوابه چوپـيـائـی شوه .
دروازی به چغیدی بیرته کیدی پوری کیدلی.
چراغونو به مرموزه رڼـا کړله ،
روښنائـی به کمیدله کمیدله .
بیابه پاس دچت دلاندی، یوآوازشولو ناڅاپه
ده گومان کړو،گوندی هلته ،
نا مری یوه مرغی ده ښوروی وزر ځانـگونه.

* * *

دوزخیان یاغی یاغی(۱)

کله کله به ناڅاپه ،
دماڼـی په ژورتل کی ،

(۱)دژوندقدرتونه . طبیعی غریزی عواطف او هیجانونه

www.sikaraam.com

کوز په زمکه کی دننه،
هیبتنا که هنگامه شوه.
هم په دغه شور ماشور کی ،
قهرمان به‌اروېدلو،شرنگهاردزنځیرونو .
اوریدوبه قهرمان بیا؛
له کوم ځایه دوری دوری ،
غرهار دطوفانونو ، هیبتنا که
کوم جاکړورا روان په بیړه بیړه ،
ډک له قهره‌له غضبه .
سبکاریده چی :
کوم‌یونوی پسرلی چرته روان و.
دی استاځی ئی دراتلو خبررا وړو.
قهرمان احساس کولو ،
چی نه ده‌ته داپیغام را استوی څوك ،
اونه دغه نوبهار چی را روان دی ،
نـاآشنادی ، شور ماشور کړی
دادده پسرلی نـه دی .
ځکه ځکه ،
دجا کړ په غرهارا اوشور اوزوږ کی
یو ناشنا شانتی آواز ورته کیده هم .
دا آواز وډك له‌قهره‌له غضبه ،
قهرمان ته گوا سېیدلو .
لومړی ځل و ،
چی داهسی غږ په ده باندی کیدلو .

www.sikaraam.com

ځکه ده په خپل ژوند ون کی ،
غیر له خپل غضبناک غزه ،
اورید لی کله نــه و،
دتهدید اوگواښ آواز هیڅ .
دې آوازخو ، په ظاهر کی نرمی کړله ،
په باطن کی ډک له قهره، له غضبه .

* * *

په هغه جاکړطوفان کی ،
دانــاشنا آواز راجگ شو ،
قهرمان ته ئی ویلی:
«ـ د ژوند ونله سر چینی نه دې کړم دوری ،
بیا دی بوتلم په بـی لاروشړو لارو،سرگردانه!
«ستایادیږی؟هغهوخت چی دروغ زړه مینی ته راغلی،
هر کلي مودرته ووې ،
په پراخ تندی مونږ .
کلی گانی دکوټو د دروازو ، درته تسلیم شوی
تاته مونږ دروسپارلو،دهستی وجوداختیار ټول.

«تاکړوځانته یونوم غوره:
تاوی«زه»یم،نوم می«زه»دی.»
«مونږ»او«تاسو»یوه پرده ده .
داپرده مو کړله ورکه.
مونزه ټولوستا په«زه» کی ، گړو
ځان محوه .
تا ویلي:

www.sikaraam.com

-زه مرکز د ټول جهان یم!
مونږ باور کړه.
تابه ویلی:
-زه واکداره هم دزمکې د آسمان یم!
مونږ منله.
تابه ویلی:
-زه خوورېمه دهرشانتې ستاینې
هم لمانځنې!
مونږ ستا په پرستش شو او سجدې مو درته وکړې
«داستوګنې په شروع کې»
تازیات پام کړود کاله زیب او زینت ته.
تاځان هیڅ باخبر نه کړو،
له ژورو تهدابونو، زمکې لاندې دهلیزونو،
دمانۍ پورتنې پوړ دې کړلوغوره،
د استوګنې، ژوند دپاره.
التفات د ځان نه کولو،
هغو پټو دهلیزو تورتم کنجونه.
مودې ډېرې شولې تیرې،
ترخومونږ و پوهیدلو؛
چې تا ډار لرو بیشانه، له تورتم له ترمونږنه.
«دیوالونه سر تر پایه»
تاکړه پټ په آئینو ټول.
بیاد ځان په تماشه شوې، شامدام به
www.sikaraam.com

«داستو گنی لەاوله»
ته خود سره وی خود رایه .
چی هرڅو کاونه میاشتی تیریدلی ،
ستاطبیعی استبداد ظلم ،
بیالا نورهم زیاتیدلو.
ستا په کار کی، هیڅاخونشوویلای.
هم ناڅیزه انتقاد نشو کیدلای .
تاکړی هیلی، آرزو گانی، وخت بیو خته.
نه دی صبر حوصله وه،
خپل مرام تەرسیدل تا، بیاغوښتل تل
په هر آن په هغه آن هم.
«غریزی او عاطفی اوهیجانونه ،
وددی هیواد لرغونی اوسیدونکی
بی پروا به گرځیدل آزاد سرمسته
پەځوانی او په ښکلا کـی.
تل بهارو.
تاکړه دغه اوسیدونکی، لەځان دوری
یاپابند تاپەقیدو پەدسپلین کړل
تاغوښتل چی ،
دوی بەستاخدمتگاران شی ،
ستافرمان تەبه سر کیږدی،
نەبەشور کړی نه مستی کړی.
تاو نه کړای شوچی دوی خپل بندگان کړی .

www.sikaraam.com

تا دوئ استول زندان ته
زمکی لاندی.
زندانی دتل دپاره ابدی شول
تامونده کړه ، فقط دوه شان
غلامان بس :
یو وعقل ، بل و فکر.
دواړه ستامشاورین شول .
بیا دوی واخسته په غاړه ، ستا په امر ،
دزندان پهره داری هم .
رشتیا هم په عقل او فکر ، ستار بتنی مریان وو ، بیځی
دزندان پهره داران وو ، جابران وو.
خوچی کله بهٔئی ستامشاوری کړه ،
ریاکار متملقه چاپلوس وو
مداحی بهٔئی کوله .
نوستایل بهدوی وهمونه ،
ستادزوردعظمت داوچتوالی .
جوړول به ، عقل اوفکر ،
ستاوهموته ، دایلونه ، دمنطقی ظاهرعلمی ډیر ،
«ـ زمادوست زماملگریـی ! ای زما «زه» !
تاله ژوندخه آخرجوړسر نوشت کړو.
دهغه وخت له شروع نه ،
چی فرمان دې کړوجاری خپل ،
دژوندون په قلمرو کی ،
تایوه لارکړله تثبیته له پخوانه ،
د هغه لاررووډجنگونو ، فتوحات افتخاراتو

www.sikaraam.com

«مونږ دا اوس چې ،
په دې لارې يو راغلي ،
دې پړاوته رسيدلي ،
داخوځکه ،چې دالاربله خوانه تله .
چاره نه وه . مجبوريت و .
دې منزل ته رسيدل زمونږ حتمي و.
په صحرا کې ، په بيدبان کــې ،
منډې تر ړې ، زغليدل سرگرداني تول ،
نه دسهوې نتيجه وه ،
نه کوم بله غلطي نه اشتباه وه ،
نه ناوړه تصادف و ،
دادهغه پلان حاصل دی ،
چې تاژوندکــې عملي کړو .
«دروازې دې کړلې پورې، په ځان باندې،
بيادې ووې :
ـ که څوك نه کړي پيروي زما له شخصه،
هغه څوك زما غليم زمادښمن دی،
که څوك نه غواړي چې وکړي ،
نوکرې اوغلامي په اخلاص ماته،
نو هغه څوك له ماسره نــه دی ،
زمانه دی .
« مونږ گومان کړو ،
چې داهسې بې پرواغتې خبرې ،
داستا هسې سپك نظر انسانيت ته
دلالت ستاپه نبوغ ستاپه عظمت کړي.

www.sikaraam.com

چې راستون په شوې دژوندهرې جګړې ته،
نو به تاداسې ویلې :
- ټول پلونه مې خراب کړل .
هم مې وسیزلې ټولې بیړۍ ګانې ،
هم مې لارې ټولې پرېکړې .
ددښمن دیرغل لاره مې کړه بنده .
« مونږ به ویلې :
ته وښتیا لوی مدبر یې، بې جوړې سپه سالار یې.
« مونږ نه وو پوهیدلې :
تا چې کړله دښمنې د کوم غلیم سره،
په واقع کې، تا خپل ځان سره دښمنې کړه.
که دې ماتې چاته ور کړه ،
په جګړو کـې دژوندون تا ،
په واقع کـې، داشکست ستا دخپل
ځان و .
که تا وتړلې لارې، په یرغل دیرغلګرو ،
په دې کار لومړې تا خپل ځان ،
قلابند کړو، زنداني کړو .
« په ژوندون کـې ،
تا یوه بله ګناه وکړه ، ډیره لویه:
زندانی دې جذبې دآزادۍ کړې .
قدرتو نه ، دمستۍ دانقلاب دې ،
کړه بندي دزمکې لاندې .
« خو افسوس چې ،
قدرتو نه دتعبیر دآبادۍ اوس ،

www.sikaraam.com

قدرتونه دتخریب دخرابی دی .

څکه دیر کلونه کیږی ،
دوی پراته‌دی، په‌تورتم بندیخانوکی،
په زنځیر باندی تړلی
پیدا کړی دوی بل‌شان‌نوی‌خیری دی .
ارواګانی‌ددوزخ‌تری‌جوړی‌شوی.
کوم قدرت‌چی‌نوم‌ئی «مینه‌محبت»و،
اوس‌ئی‌نوم د« تنفر»دی‌غوره کړی.
پرونی قدرت د « عشق‌دجزباتو »،
نن‌هغه‌ځانته«روحی اضطراب»وایی.
دژوندون یوه غریزه وه ،
پرښته وه، شین کمیسی ،
اوس‌هغه‌یوه«پرښته دمرګ دډار»ده
تور کمیس ئی اغوستلی .
عقل‌اوفکر، غلامی‌ستاډیره کړی
ستارکاب کـی‌زغلیدلی دی‌بیشانه،
توان قدرت ورپاتـی نه دی.
نورپهره کولای‌نشی دبندیانو ... »

* * *

په دی شانی ،
دا آوازچی‌غزیدلوپه جاکړکـی،
ورو ورو چوپ شو .
خودزمکی‌نه‌دلاندی‌دمانی‌په‌ژورتل کی

www.sikaraam.com

یوه عظیمه هنگامه وه .
شور ماشور پورته کیدلو .
قهرمان په حساب پوه شو،
چی داهرڅه ترتیبات و ،
دیوچاراتلو دپاره
تیاری وه دیوچاپذ یرائی‌وه.
دوزخیانو هلته جشن وجوړ کړی
منتظروو ، چی به کله را رسیږی ،
پرښته دتر ږمواوس .

* * *

دازمونږه‌پهلوان سترښه‌آگاه شو ،
وپ—وهید چی :
هغه واړه ارواگانی ،دوزخیانی،
قدرتونه دعشق مینی آزادی ټول،
زندانی‌په‌جیلخانو ک—ی؛
یاغی شوی انقلاب کړی.
منتظردی ترږمی ته :
چی بیالاړشی ،
کړی خراب داورلمبو ک—ی‌قلاگانی
حصارونه ،
سیلا بونه هم‌روان کړی، په دشتونو
غرو رغونو .
هم په خاورو ک—ی‌اوار کړی،
معبدنه مانۍ گانی ،
دفنا په باد برباد کړی ،لوړ برجونه
دیوالو نه .

www.sikaraam.com

پرښته د آرزو :

بله ورځی ، دازمونږ ه قهرمان ستر ،

شوراپورته‌له درانده خوبه ناوخته .

د همیش پشان ئی وکتل ځانته په آئینی کـــی .

خوهرڅومره چی په ځیرشو آئینی ته ،

یوه څیره ناشنا ناشناورته ښکاره شوه .

ده ونه پیژاند ځان هیڅ .

ځکه ځکه ،

دده عکس په آئینه کی ډیر مغشوش و .

او عجبه خولا داوه :

په آئینی کی داڅیره ورووړو روانه‌ورکیدله .

* * *

هم په‌دی ورځ ، چی‌ماښام‌شو توره خره ،

را پیدا شوه له‌کوم ځایه ،

راروانه ، پټه پټه ، غلی غلی ،

یوه ناشنازړه بوډی وه .

دښارلوی دروازی ته ودریدله .

څیره بده ، هم‌مرموزه ،

هیولاوه بد منظری ،

تورکمیس تورئی پرتوګ تور ئی زړوکی‌دلوګی وو .

دښارلویه دروازه شوله برسیره ،

په خپل سرله خپل ځانه .

بوډۍ ننوته ښارته .

دهغی‌هسکی مانی په‌لوری لاړه .

www.sikaraam.com

خو ناشاشانتی بوډی وه
بی له دی نه چی قدم په زمکه کښیږدی ،
دښایسته زینونه وختله پورته .
بی له دی نه چی کوم مکث یا توقف کړی ،
دمرمرو جګو ستنو نه شوه تیره .
ښایسته ځلانده قصر دروازی ته ورسیدله .
دی بوډی بیا ،
نه زنځیر ددروازی وشرنګولو ،
نه ئی وروټکولو ،
ور برسیره په خپل سر شوه .
بوډی لاړه ، شوه په قصر کــی دننه .
داناشنازړه بوډی خو ،
ځیره بده هم مرموزه
ستروا کمنه پرښته دترزموه .
داراغلی وه دستروا کمن دیدار ته .
خو لا اوس هم ،
تیارنه وملاقات ته ، قهرمان ستر . (۱)
پرښته وه وررواڼه ، ورننوتی شوه .
قهرمان ستر ئی له لاسه ونیولو .
بیا مسکی کیدله .
ځیره بده هم مرموزه .
بیائی وکړو اشارت ناشنا افق ته ،

(۱) ـ په خپل ځان معین شعور یوانحی دمرګ په مقابل کی خپل تریخ حقیقت ته متوجه کیږی ـ خو ناوخته دی . او حتی داتوجه هم صحیح نه دی .

www.sikaraam.com

هلته‌دوری‌نامعلومه .

بیائی ووې قهرمان ته :

ـ څه چه ځواوس !

قهرمان زموږ ه‌دار شو ،

له کډدی هسی نا آشنا مسافرت نه .

نوئی داشانتی جواب کړو :

ـ زه خو دلته میشته‌خوښ یم .

ددی ښار په دیوالو کی ،

دښاریانو دچراغ په پلوشو کی (۱).

ستړوا کمښی پرښتی ورته په فرمه ژبه ووې :

ـ خبرنه ئی ؟ چی‌اوس دلته خو څوك نشته ،

نه کوم ښاریان نه چرا غونه !

قهرمان په‌زاری ووې :

ـ آخرزه‌خو ، لاتر اوسه ،

په‌خپل ژوند پوه شوی‌نه یم !

نه لذت ماکوم میندلی ! نه لیدلی خوشالی ما !

لاترننه ، لاتراوسه ،

حتی نه دی پیدا کړی ، ماخپل ځان هم .

لږ فرصت راکړه چی‌لاړشم ،

یوځل شاته ،

تیروشوو پړاووته بیرته ستون شم .

خپله ورکه ، نامعلومه ، خو پیدا کړم !

---

(۱) په خپل ځان مُعین شعور تولنی او په تولنه کی فرمانبردارته اړوی دا برخه دتیرشوی پړاو په بله پرده او سازکی انعکاس دی هلته‌دمینی‌دالهی داخبری کوی او اوس ئی دمرگ فرشته کوی .

www.sikaraam.com

بیابه ځم درسره هرځای ته چې تللی .
دازړه بوډی موسکی شوه ، په خنداشوه.
بیائې ووی :
ــ خبرنه ئی ؟
اوس خووخت ناوخته شوی دی بیشانه.
په شاتګ هم ، بی فایدی دی، ستا دپاره .
ځکه ته به بیا تکرار کړې ،
کړی کړی ګناهونه .
بیا به دروم ، زغلی زغلی ،
ځانځانی پسی دځان خپل .
هم په دی سراب پسی به بیاروان شی .
په آخر کی ، یوځل بیابه
ته راورسیږی دلته ، دی صحراته .
قهرمان په زاری ووی :
ــ ته غوږ کښیږده ! ...
زه خواورم یو آوازله لیری ځایه .
زه یقین لرم چې هلته په بیدیا کی ،
ماشوك غواړي، ماته غږ کړی .
څوك زما په انتظار دی .
اجازت راکړه چې ورشم .
تپوس وکړم . چې څه وایی؟
زه باور کړم کوم مهم پیغام لری زمادپاره .
بوډی بیاوموسکیدله ،په خنداشوه .
نوئی ووې :

www.sikaraam.com

ـ داخو زه یم، چی راوړی می پیغام دی، ستاد پاره.
یو پیغام دپیغامونو !
ته پخپله سبه پو هیږی ،
چی په سراسرنړی کـــی ،
اوس څوك نشته غیرله مانه ،
چی آواز دربانډی و کړی ،
انتظار وی ستا راتګ ته ،
یا پیغام کوم درته راوړی .
کوم آواز
چی، اوس ته راوړی ، اروی
بل څه نه دی ،
د خزان بـــی رحمه باد دی،
زمادوست زما ملـــګری،
چی را الوزی په غنو په اغزو کی .
قهرمان یوځلی بیا پیل په زاری کړو :
ـ آخر دومره، خو فرصت لږشانتی را کړه ،
چی یو ځلی، د دریاب غاړی ته لاړشم .
یووار بیا تماشه و کړم،
دآسمان دآبـــی رنګه کنارو زه .
دسیند پوری غاړه تیرشم دوری دوری .
داخپل ځان لږشانتی هیر کړم .
څوشیبـــی لنډی خو و کړمه ژوندون زه !
لـــکه څوك چی هڅه کاندی،
کوم بدخویه، ناقلار کوچنی په خوب باندې بیده کړي ،

په دې شانتې، ډابوډی هم ،
مهربانه وه بيشانه .

په پسته ژبه لـگياوه، نرمه نرمه،
په ورو ورو ئې ورته ووی :

ـ ای زما د زړه واکمنه !

هرڅه تيردی .

اوس خوډير ناوخته شوی‌دی ناوخته .

د زړه سره ! ستا ياديږي ؟
په هرلارچې تاګذر کړو،
بل معبر دی ورانولو .

په هرسنيد چې تيريدلی،
نوبيری به دی سيزلي، خپلی شانه .

تا ګومان کړو،
چې‌په دی‌شان دغليم لاره شوه بنده،
هيڅ دښمن‌به، په‌تاونه‌کاندی بريد نور .

په واقع کی، ته‌خو هغه قهرمان يـی،
چې‌دی خپلو فتوحاتو يـی، مات کړی، مغلوب کړی .

اوس نه‌پل شته، نه‌معبرشته چې‌پری تيرشی .

نه کشتی شته،نه‌زورقه، چې‌په سيند دې پوری باسی،
لاری نشته .

www.sikaraam.com

تورلی بندی دی ترلی .

یگانه لار، دخپل ځان دهیرولو،

هغه‌لارده، چی‌یې‌ زه درته ښایم .

یگانه پراو چی‌هلته،

دخپل‌ځان‌له جهنمه، خپل ځان خلاص کړی،

هغه ځای دی،

چی‌زه اوس تا، دخپل‌ځان سره هلته بیایم .

* * *

دلومړی کرت دپاره،

په‌خپل ژوند کی،

قهرمان په حساب پوه شو .

بینائی ورته پیداشوه :

چی‌هیڅکله، په‌عالم کی،

تبتیدلی هیڅوك نه‌شی له‌قسمته .

که هرڅومره نن سبا کړی،

سرنوشت ته،

بیاسبادی، بیاانجام دی، خاتمه‌ده .

قهرمان په ژورتل کی‌دهستی خپل،

احساس وکړو :

چی‌مطلق یوازی پاتی‌دی یوازی،

www.sikaraam.com

زه هم چيري فرزانه وم فرزانه يم لا تر اوسه
تل بيخوده ديوا نه وم ديوانه يم لا تر اوسه
جدايـي نشته وصال دئ څني بعد وهم خيال دی
له هغه چی همخانه وم همخانه يم لا تراوسه
چی راغلی په جهان يم خبر شوی په خپل ځان يم
د رازونو خزانه وم خزانـه يم لا تـر اوسه
په عالم زما خبری خلق کا په نژدی لـری
په وگړو افسانه وم افسانـه يم لا تـر اوسه
خوشحال ختمك

ځانځانی ښامار

دويـم څرخ

يوځل بيا راستون ښامار شو

www.sikaraam.com

او فقط یوه لاره پاتی، بله نشته .

هغه لارچی تللی تللی، دناشنا منزل پهلوری،

پهتورتمو ترزمو کی ،

نامعلومه، بـې انجامه . . .

نوراپاښیده ولاړشو .

دتورتم پهپرښتی پسی روان شو .

بیارا ووتل دوی دواړه،

دمانۍ له کنډوالونه،

دلوی ښارله خرابونه بیاروان شول،

لاړل لاړل کومی خواته نامعلومه . . .

www.sikaraam.com

چې دی توان وشي په لوی دریاب کې گرځه
پــه بیله کــې دی زوال وینم نهنــگــه

* * *

چاله ډنډه درگوهر نه دی وکښلي
قیمتي لولو لالاغواړه په یم کې

خوشحال خټك

پنځم پــړاو

دژوندون دچینې غاړه په تورتم کې

افلاطوني سمڅه :

وایــې وایــې :

په قدیم قدیم یونان کې،

یو لوی ښار د سمندر په غاړه پروت و . (۱)

ښکلی ښار و،

---

(۱) دآتن ښار ـــ دهنر، شعر، ډرامې، فلسفې او ډیموکراسۍ زانگوه.

www.sikaraam.com

ملغلره وه نایابه،له‌دریابه راوتلې.
بیا په دې سیمه راشنه شوه:
یوه ناشنا دګلوونه،
څو موده ښایسته سمسور،
هم یې سیوری،هم یې ګل کړ،هم میوی کړی،
ترڅو وچه شوه خزان شوه.
دغه ونه، دحکمت او آزادی دمعرفت‌وه.
خولاوس هم،دهغې ونې له تخمه،
کله کله‌راشنه کیږی،نوروملکوکی،
ښایسته ښکلی ګلونه، په باغو کینی باغوکی
لنده داچی :
په‌دی ښارکې یو سړی واوسیدلو،
لوی حکیم و، افلاطون دزمانی و .
ستروا کمنه ددی‌سیمی،
«منیروا» وه، (۱)
آلهه دعقل او فکر دذکاء وه.
زوړ حیکم بیا ،
ددې‌سترې آلهې دباغ مالیارو.
دافکارو ښه‌ګلونه‌به یی کرل‌تل .
دحکمت‌سمسوره ونه.
به یی تل‌سمسور ساتله
عمریې تیر کړ په‌فکرونو په‌سوچونو
دعالم پټ پټ رمزونه لټول وه،
یوه ورځې،داحکیم ستر،
دخپلو خاصو شاګردانو سره ناست‌و،
یوه ناشنا قصه یې وکړه .

(۱) Minerva دآتن دښار او هم په یونانی اساطیروکی دعقل ذکاء الهه.

www.sikaraam.com

ده ویـلی:

«ـ شاګردانو!

درمعلوم دي په جهان کی .

یو موجود په نوم انسان شته.

ښه خبرشئ ،

دا موجود په زندانی پروت دی په یوه سمڅ کی.

لاس پښې کلکې تړلي ،

مخ دسمڅې دیوال ته،

دغارخولې ته دده شاده.

خپلی شاته کتی نشی.

او بهرله تورې سمڅی په بیدیاکی،

یولوی اوربل دی لمبی کړي.

دلمبو رڼا ترمخه،

راز راز ژوی راز رازشکلونه،

تل تیریږي را تیریږی .

ددوی سیوري بیاورځی ننوځی مغاری ته

په دیوال باندې پریوځی.

زندانیان دمغارې چی هلته ناست دي.

کلکګ تړلي،

فقط ویني هغه سیوري، تورشکلونه ،

چی تیریږی راتیریږی ،

دهغه دیوال دپاسه .

زندانیان په دغه سیورو،

www.sikaraam.com

بیا گومان د حقیقت کړی.
شاگردانو! دا انسان دی.
دا جهان د ظواهرو د ده سمڅه ده زندان دی
حقایق ئې تول او هام سیوري اشباح دی.
شاگردانو!
که انسان رشتیا طلب د حقیقت کړی،
نو پکار دي چې راپاڅی،
زنځیرونه خپل خپل مات کړي،
له زندانه خپل راووځی،
بیا بهر سمڅی هلته،
تماشه د جهانو کړی،
په رڼا د حقیقت کی...» (۱)
دا قصه ناشنا قصه د زوړ حکیم وه.

* * *

گومان نه کړمه چی دا به حقیقت وی.
ما ملکونه هیوادونه ډیر لیدلي،
په صحرا کـــی ما مزلی اوږدی کړی
ځینې ځینی حقایق می دي موندلي،
خو رښتیا رښتیا خبري مې راوړي.
یوه دا چی —:
زندانیان یو وخت آزاد شول،
بهر ووتل له سمڅې،
چې کتل یې —:
یوه سوزانه داغزو ډکه صحراوه،
دا فق تر کناره خپره لمنه.

(۱) افلاطون د جمهوریت پنځم کتاب

www.sikaraam.com

نژدې هلته ، دعالم له پیدایښته ،
دیو رودکوزوز بسترو په ډبروکې وچ شوي.
نورڅه نه وو...
بله داچې :
زندانیانو هرې خواته پام نظر کړو ،
خوهیڅ شی یې مونده نه کړ.
بس یوازې .
دخزان مازیګری ډك له‌خپګانه ،
تور ماښام خړه تیاره و.
نورڅه نـه وو ...
نه آسمان کې رڼـایی کومه ځلانده ،
نه پـه ځمکه کوم چا اورچرته بل کړی .
نودوی پوه شول ،
چې رڼاهره رڼا کې چرته وی هم ،
هغه هم پټه پرته ده ،
دتور غارد ژورتل په ترزموکـې .(۱)
نورباقی داستان عجیبه په‌دې شان دی ...

* * *

مسافر له دوری ملکه

لاروی دنیمو شپوهم هاغه شانې ،
دهغه وچ رود په غاړه ،
دتورتمی سمڅی خولې تـه ،

(۱) یعنی هغه رڼاچې افلاطون په مافوق انسانی جهان کې لټوله ، هغه هم دنه‌دانسان په تورتم طبیعت کې پرته ده .

www.sikaraam.com

په عمرو منتظر کښېناست .
رڼاگانی په له‌غرورا کوځیدلی، په‌دښتو به‌خپریدلی.
ورپسی به بیا روان‌وو تورتم سیوری .
رڼاگانی به‌ئې دوری زغلولې ،خرولی ،
درڼالښکر به مات شو، ترژمی به عالم ونیو.
بیاترشا به یوناځاپه درڼالښکر راووت
بیابه سیوری زغلیدل پناکیدل تل .
دتورتم اودرڼا دی تلو راتللو ،
زغلیدو رازغلیدلو ،
لاروی لژ خبرولو ،
چی شپې ورځې دی روانی درومی درومی،
خوخبرله‌دی نه نه و ،
چی له کوم ځایه راځی دوی،
په دې هسې بیره بیره ،.
چرته ځی دځه دپاره ؟
بیابه کله،
یواحساس (۱) شبیه امیدنژدې امیدته‌ورپیداشو .
نو خپل ځان‌ته به ئې ووی:
« زه‌گومان کړم چی آخر به،
په دې‌سیمه‌خوك راپیښ‌شی.
په دی خوابه گذروکړی ،
له ملکونه‌دورې‌دوری‌دلته‌راشی‌مسافرکوم.
دهغه دورې پراته هیوادکیسی‌به راته وکړی
ښایی‌ښایی‌چی‌دورك سمندرغاړونه‌خبروی

(۱) درښتینی انسانی عشق اومینی احساس .

www.sikaraam.com

زه به وکړم ترې پوښتنه:

«مسافره سترې مشې!

په خير راغلی له اوږدواوږدومزلو.

راته وايه!

تاخوکړی په ناشنا سیموګذردی.

په دې خپل اوږده سفرکې کومه ورځې،

ماز دیګر ماښام ماښام خو به تیرشوی چرته نه یی

کوم یو کلی نه نژدی ته؟

اوبيا هلته، تابه نه وی څوک ليدلی،

ديوې لارې په سرناسته،

چی اغوستی شين کميس و؟

اوبيا هغی شين کميسی،

تاته هيڅ پيغام درنه کړ؟

دخپل دوری مسافر تپوس ئې وکړو که ونه کړو؟

دکوم ورکټ سمندرغاړې يادی نه کړی؟.

زه بيرېږم چی څوزه هلته رسيږم،

ماښام تير شپه به نژ دې وی

اوهغه به له ډير زياته انتظاره،

سترې شوی وی ستومانه،

پاڅيدلې چرته تللی.

بياپه توره تياره شپه کی به يی څنګک پيدا کومه؟

مسافر به جواب راکړی:

«— هو— را ياد شو.

مايوه ورځی له سهاره ترماښام مزل وکړو.

مازديګر لمرپړيواته بيا،

www.sikaraam.com

سخته تنده ستومانتیاوه شونډی وچی ،
سرتر پښو په دوړو پټ وم ،
په یو کلي مې ګذرشو.
نژدې هلته ، دهغی لاری په‌خوا کی ،
یوه دخاورو ډیره‌ګۍ وه،
پاس پرې ناسته یوه ناشناعجیبه ښکلې .
شین کمیس‌یې وپه تن کی،
یومنګی ډکګ داوبویې خواکې پروت و.
ماته ځیرشوه په کتو شوه ،
خو هیڅ څه یې نه‌ویلی .
زماستر ګوته‌یې کتلی په ژورژورنظر څو ،
دې‌زماله نظرها خوابل‌کوم دوری ځای‌لیدلو.
بیایې خپل منګی راواخیست دا وبوډکګ.
زماتنده وه بې شانه .
دواړه لاسه دواړه لپې مې ورور‌اندې په دعا کړې .
دواړه لپې راته ډکې داوبو شوی .
دمنګي یخی اوبه رنې اوبه مې ډیرې وڅښې ډیرې‌وڅښې،
بیامې نورې په‌سربادکړی په مخ باد کړی .
خوناشنا عجیبه ښکلی ،
په خوله هیڅ ونه ویلی .
زه هم چو په خوله په خپله لار روان شوم .
تلمه تلمه ، خوله دورې مې یوواری ،
دآخر کرت دپاره خپلې شاته وکتلې .
هغه ښکلی په هغې خره تیاره‌کې دماښام تور ،
www.sikaraam.com

هلته ناسته وه ، لاناسته ،
دچالاره یی ځارله .»

* * *

لاروی بیا ،
خپلې شاوخواته ښکته پورته پام کړو .
ځانته یې ووې :
« ښه پوهیږم ښه خبریم .
چې په دې لاربه تیرنه شي ،
کوم سیاح کوم جهانګرد هیڅ .
ځکه دلته کومه لاره نړۍ لارنه ده راغلی .
له دې ځایه کومې بلې خواته تللی .
سره له دې هم ،
که سیاح کوم خپله لاره کاندی ورکه ،
اوپه دې سیمه را پیښ شي ،
که هم ستړی وي ستومانه ،
په یقین چې دی به تږی وی بې شانه ،
دغه تنده به مجال ورته ورنه کړی ،
چې ددې وچ رود په غاړه دمه وکړی . »

* * *

نا بلد ملګری

لاروی دنیمو شپو و ،
دغارتورې خولې ته ناست و .
داوینایی ځانته وکړه :
« ــ دااوږدې اوږدې مزلې چې ماوکړې ،
له بیشماره هیوادونو نه راتیر شوم ،

www.sikaraam.com

دا مزلې وې يې ځايه .
په بې لاروخطا لارويم راغلی .
نه پوهيزمه چې کله په کوم ځای کې ،
اصلی لارشوه رانه ورکه ،
اوراسم په دې دښتو شړوميروشوم ؟
چاره نه وه ، ماخوهيڅ کولای نشو .
زوړ آشنامی وملگری همسفرو ،
لارښودنه يې کوله .
وې : بلديمه په ټولوسمولارو .
خوافسوس چې بلدنه و ، نابلدو .
دې ملگری زوړ آشنا خو ،
په نړی کې بل هيڅ شی ته نه کتلی .
پام يې کړلويک يوا زې
خپل خپل ځان ته ځانځانی ته .
چې په لارکې به ئې کله له کوم چانه تپوس وکړو ،
دخپل ځان دځانځانی تپوس به ئې کړلو .
يوهدف وبس لەده سره : هغه ځان و
يو مقصد له ټولو پورته : ځانځانی وه
ځانځانی به چې په هرلوری جولان کړو ،
دی ملگری بەپه هغه خوا ميلان کړو .
ځانځانی بەچې په هرطرف اقدام کړو،
دی ملگری به هم زرپه هغه لوری پورته گام کړو.
ځانځانی چې به په هرڅه کې تکل کړو،
دی ملگری بەهم داشانتې تکل دلارې مل کړو،
داملگری اوس چوپ شوی غلی‌غلی.
www.sikaraam.com

گمان کړم چې آخر پوه شو :
داچې مونږ دلته دې ځای ته رسيدلي ،
په بې لارو شړو لارو يو راغلي.
مګر اوس هم خبر نه دي ،
چې نه مونږه کوم يو چايو غولولي ،
نه کوم سهوې اشتباه يودې صحراته راښکودلي (راښکدلي)
دا قسمت و سرنوشت و ،
چې پخپل لاس مود ځان دپاره جوړ کړو.
ځـکه ځـکه :
هغه وخت چې ، داملګري هسې هسې مې دخپلې لارې مل کړو ،
بيانو بله چاره نه وه ،
غيرله دې چې په دغه لار روان شوو ،
دغه لار چې لاره نه وه ،
غيرله دې نه چې راورسيزو هسې دمه ځاى ته.
دمه ځای چې په کې ځای ددمې نشته .
ددې زوړ آشنا شودنو لارښودنو ،
زما سترګې نابينا کړې.
که نه کوم وخت چې موځان سمبالولو ،
په سفر مو پيل کولو ،
هم له هغه وخته داتکې معلوم و ،
چې دتګ لاره روښانه رڼا نه ده.
شې اوزدې سختې مزلې په تورتم کې ،
زمونږ مخې ته پرتې دي.»

* * *

www.sikaraam.com

لاروی دنیمو شپو هم هلته ناست و.
دتورتمی سمځی خولی‌ته،
دخوړوچ بستر په غاړه.

فکر ئی کړلو دایـی سوچ و :
« ـ رڼاگانی زغلي، زغلی، له افقه پنا کیږی.

مازیگرلاړو ماښام رانژدی کیږی.
اوس خو وخت ناوخته کیږی .
بله‌چاره پاتې نه‌ده، بله لاره کومه نشته.
ای دژونددلار ملگریه!
ای زما پخوانی یاره!

اوس راپاڅه مخه ښه‌راسره وکړه.
یوله بله جلا کیږو، نوربیلتون‌دی.
ماتر خپله وسه وسه، اداکړی ،

ددوستی‌درفاقت دملگرتوب حق .
خپله‌خپله قربانی‌فداکاری وفاداری‌مې‌درښودلې
ته‌چی‌هر چیرته روان وی. زه‌روان‌وم.
تاچی‌هرامر کولو ماپه سترگو په‌لیمو خپلومنلو
تاچی‌هرلارښودله، ماهمهاغه لارنیوله.

تاویلی: زه مرکز دټول جهان یم .
ماباور کړو .

تاویلی: زه واکداره هم‌دځمکی دآسمان‌یم.
ما منله .

تاویلی: دستاینی دلمانځنی وړخوزه‌یم.

www.sikaraam.com

ماسجدی درته کولی .

دژوند ونله‌سرچینی نه‌دې‌زه پوتلم‌دورې دورې

په دښتو، شړوڼاګونو،

په ځوځانو په اغزو کی سرګردان شوم.

اوس نو وایه چی‌څه وکړم ؟

ماته نور څه پاتـی‌نه دی .

ددې دښت غنو اغزومی پښی ډیرې دردولی .

ددې غرونو تیرویږویمه ژوبل‌ژوبل کړی .

اوس په دی پښولینګو کی چی زمادی ،

نور مجال نور طاقت نشته ،

چې یوګام بل‌یوقدم بل، نور په تاپسی‌درواخلی.

چاره نشته .

مخه ښه درسره کـړمه جدا کیږ ویوله بله.

زمادوست زماملګریه !

دوداع په دی فرصت کی ،

که ګیلی بیانیدی‌شی‌یاکیدی شی ،

نوبیازه‌ګیلی‌کوی‌شم ،ته‌یې نه شی.

که شکوې شکایتونه اوس کیدلی ،

شکایت شکوې به زه کړم ، ته به یـی‌نه کړې

خو افسوس چی ،

اوس مجال نه دشکووشته ،

نه فرصت دګیلو پاتـې .

ځکه وینم هلته دوری

دشفق رنګین شفق په‌کنارو کی .

www.sikaraam.com

يوه پيښه حادثه لويه روانه .
دناشنامرغه ځانګونه تورځانګونه پرې ځپرېږي،
تورتم كيږي.
هم غرهار هم شور ماشور لەدورې اروم.
كوم جاكړ طوفان پەبېره راروان دى هيبتناكه
رارسيږي.
ددى تورى مغارى په ژورتل كي،
هغه واړه شورشيان تول،
ميثان دآزادى چى:
د دى غارپه ژورتل كيبند پراته زنځيرتړلي،
هغوى ټول اوس ياغي شوي ،
زنځيرونه يې شكولي،
منتظردى ترزمى ته .
چىبيا تاله ځان سره بوځي ،
دتورتم دنيا په لوري نامعلومه.
زه بەد لته منتظر پەتمه نـاست يم
ترڅو بيا پسرلي راشي .
بيا يوځلي سپين سباشي ،
يوځل بيادنيا رڼـاشي .

* * *

دبيلتون شپه تورتم نه وه

لاروى آخر جلاشو ،
دخپل ځان له ځانځانى نه،
لەخپل «زه» نه .
دژوندون دلارملګرى زوړ آشناسره يـيوداع كړه
يوملګرى ګرانملګرى كەهرڅومره جفا كاروى

www.sikaraam.com

خوچې کله بیلتون راشـي ،جدائي شي،
اوښکې نشـي تینګیدلـی.
یو آشنا پخواني دوست که ډیر بیرحمه په زړه سخت وي،
خو بیاهم کله چې سپارو، په خپل لاس دي،
دتورتم دنیاګی غیږته.
زړه طاقت کولای نشي ،
غواړي چیغې کړي غوغا کړي.
لاروی دنیمو شپو ځانته ویلـی :
«ـ ښه ده ښه ده،
شپه اوږده مخکې پرته ده .
ترسباپوري فرصـت دی ،
چې دژوند دغه ملـګري راپه یاد کړم ،
په زار زار ژړا فریاد کړم ،
اوښکې تویې کړم بارانونه .
ښه ده ښه ده ،
چې په دې شړه صحرا کې هیڅوك نشته ،
نه دچا بیګانه سترګې مې داوښکو تماشه کړي.
نه غوږونه اجنبي شته،چې مې واوري فریادونه.
ښه ده ښه ده ،
هیڅوك نشته .
په دې زخم به څوك نه دوړوي مالـګه دزړه سوی بیا ،
نه به څوك وي،
چې زما په پرهار توی کړي،
ترخه زهر دزړه خوږي،شنه سنګتیا دهمدردۍ هم. »
* * *

لاروی بیاپه ژړا په واویلا شو.
دا ژړا په دغه شپه کی توره شپه کی،
ژړانه وه غلغله وه شورماشور و .
داهیجان دنا امیدۍ نه وسیلاب و،
انقلاب وډك له قهره له غضبه.
ده احساس کړو،
چې دژوند او دهستی په ژورتل کې،
قدرتونه زنداني ټول یاغي شوي ،
ځنځیرونه ځاونی هی ماتوینه،
هم برجونه کلاګانې ړنګوینه.
دهستۍ په صحرا باندی داقهرونه غضبونه،
دژوندون او سرنوشت نه ،
دانفرت او انزجار سخت ،
دغه ټول خبرراوړلو،
چې روان کوم انقلاب دی،کوم سیلاب دی ،
دوجود په تاخانو کې.
ځانته یې ووې:
«ـــ دقسمت او سرنوشت اوخدایانو،
فقط یو جواب پکار دی،
دا جواب یوه خندا ده،
یوه خندا هسکه خندا چې :
زمکه زمکه په لړزه کړی ،
دړی وړی هسک آسمان کړي .»
اوښکې لاړی په قلار شوی .

www.sikaraam.com

وره وره لړې شوې غبار شوې،
ورکې ورکې تارپه‌تار شوې،
داپرده‌وشوله پورته،
داسرارو له جهانه.
داهیجان داسې طوفان و،
تابه وې چې یولوی‌بند، داوبو‌بندو،
له تهدابه را چاودلې نړېدلې راویران شو.
په‌مودو دندې اوبه هلته ولاړې،
لاړې‌لاړې په څپوڅپو سیلاب شو،
لوی دا‌گونه ستر دښتونه یې کړه لاندې .

* * *

دژوندون چینه آخرشوله راویښه،طوفاني شوه.
دهستۍ له ژورتل نه شوه راپورته،
فواره شوه،بیاد اوښکوفواره شوه،
دارې دارې،څاڅکې څاڅکې .
لاروی ته شوه معلومه داخبره،
چې سرمسته مینان دآزادۍ ټول،
هغه واړه شورشیان یاغي‌یاغي هم،
را روان دي .
هم خدایان دهیجانو نو عواطفو،
بیارائې یوواری بیرته راستنیزی ،
دده خپل شور اوفریاد خو،
دهغوی دراتګ زیری شورماشورو.
داسرارو‌کلي پته وه، دزړه په سوزاودردکی.
لکه څنګه چې رڼا دسپین سباځیری کوي تل دتورتم زړه،

www.sikaraam.com

ده هم داشانتی کړه څیری داواهامو پرده توره .
لــکه څنګه چی سکروټی پرتی پتی په ایروکــی،
کله کله رالمبه شی ،
دی هم داشان راولاړشو له ایرونه،
دهستی خپلـې هستیخاورو ایرونه.
لــکه مارچیزوړ پوټکی خپل ایله په میزتون کړي
ده هم داشانتی دهغــې سمڅی خولې ته،
دخپل ځان دخپل وجود یوزوړ قالب ورووست،
کړو غوزار دوری له ځانه.

* * *

لاروی دنیـو شپوچی، ګرځیدلوسر ګردانه،
دهستی وچه صحرا کــی ،
دده کلـک داسی ګومان و ،
چی د ژوندلهسرچینی نه، پهبیشماره پړاونوودوری پروت دی.
خوناڅاپه یـې کتل چی،دچینی پهغاړه ناست دی.
په هغوناشناشیبوکی، چی سکوت وچوپیایـی وه ،
ټول وجود یوه صحرا وه،
یوه صحرا دبیدردی وه، چوپ خاموشه،
ناڅاپــی یوه رڼاوبریښدله،
بیاغرهار شو،
یوه چاودنه لویه لویه چرته وشوه
هلته لیری دوجود په لوی تونل کی وردننه.
لاروی خپل ځانته ووې:
«ـچی داوښکو څاڅکی څاڅکی راروان شول اوس لهسترګو،
نویقین دی:

www.sikaraam.com

چی‌دخوږپه‌وچ‌بسترکی‌به روان‌شی‌ډك رودونه‌اوبه‌مستی.
چی په‌زړه کی دسوزونو ددردونواورلمبه‌شو،
چی فریاد چیغه شوه پورته له سینی‌نه
نو باور کړم:
چی باغونه به‌سمسورشی اومرغی‌په شورماشورشی،
چمنونه به زرغون شـــی،
غرځنی به شی روانې مستی مستی.»
لاروی احساس کولو چی سهار رانژدی شوی .
دژړانه ترخندا پورې پرته ده لنده‌لاره،
لنډمزل دی.
لاروی خپل ځانته ووی:
«ــ څه موده به‌تیره نه‌وی،
چی راجگ به له‌کوم خواباد سباشی.
دا استازی درڼا به الوته‌کا،په‌دښتونوغرورغونو.
بیابه سری شی‌بیابه سپینی،دافق کناری دوری.
دمشرق له سره پالنگه به رڼاکړی سرراپورته.
الهه دپسرلی‌به بیاروانه خرامانه په دښتوشنوچمنوشی.
اوهم زه به‌دخپل توری شپـــی سفردلته تمام کړم.
بیابه کړم اوزدې مزلې له سباسره.
لوی لاری به آشنا وی،
پراوونه به رڼا وی.»

* * *

لاروی دنیموشپو لاهلته ناست ومنتظره،
دتورتمی سمڅې خولی ته.
دسبالارڅی څارله.

www.sikaraam.com

ده گومان کړو چې شفق به یوځل سورشی بیابه‌سپین‌شی .
دی به پاڅی راولاړشی،
په رڼا کې به‌منزل کړی د رڼا جهان په‌لوری.
خو افسوس چې:
سپین سبالری وتلو، نه واتللو.
توره شپه اوږده کیدله،درندیدله .
نه پوهیږم څه موده‌شوی تیرې تیرې،
خو آخر لاروی پوه شو، ورو ورو پوه شو،
چې به نه‌کوم مسافر له‌دوری راشی ،
مسافر کوم ،
چې دورك سمندرغاړونه خبروی.
هم‌دلیرې هیوادونه پیغامونه ورسره وی.
نه به سرکاندي راپورته،
دافق له کناړونه سپین سباهم.
واړه لاری چې‌ورتلی دښار په لوری.
هغه واړه پټې شوې ورکې شوې په‌ځوځانوپه اغزوکی .
بله لاره پاتې‌نه‌ده.
غیر له هغې لنډې لارې چې‌دغارخولې ته ورتلله.
بل سفر په مخکې نه‌وغیرله دې ناشنا سفراوږده‌سفرنه.
چاره نه و. غیرله دی‌نه چې روان شی.
لاړشی کوزشی ژورتل ته‌په تورتم تورتم دنیاکې .
څکه څکه ښکاریدله :
که رڼا که‌پلوشی وي،
که منبع د رڼاگانوچرته وي‌هم
هغه هم پټه پرته ده دتورغار په‌ترزمو کې.

زیږ نځای د ښامارانو :

لاروی دنیمو شپو نورخبرنشو.

چی په څه شانتی روان شو، دتورتمی مغاری دخولی په لوری

دماښام ښاپیر کو ځلانده سترګی بی حسابه ورته ځیروی.

دتورتم پهره داران و، هلته ناست ده ته ئی کتلی .

غټوغټوهری خواته وو جالونه اوار کړی .

تنابونه راښکودلی کلک ترلی.

لاروی په ځان پوه نشوچی له دوی نه څنګه تیرشو.

لاړو لاړو ...

فقط دومره په ځان پوه و.

چې احساس دبیرې ډارهیڅ ورسره.نشته

بیالیدل ده،

چی روان قدم‌قدم و، کوځیدلوله زینونه،

په نرمی په آرامی ډیر.

دازینې وی‌هم اوارې‌هم پراخی.

دزینو رنګ معلوم نه‌و.

هم احساس کړو لاروي چی،

دقدم لاندې څه نشته.

نه ډبره کومه ځمکه کلکه سخته.

تابه وی‌چی‌هرې خوا ته هرڅه موم دی.

یوه ماده پسته سیاله‌هم‌بیرنګه.

ده ګومان کړووزن ئی نشته ،

دبنکی په شان سپک دی .

په لړزه لړزه روان دی.

په ورو وروښکته سقوط کړي .
دغه ځای یو هسې ځای و،
چې نه تو دواونه سوړ و،
نه رڼاونه تورتم و.
دیوالونه ښکاره نه وو.
شاو خواته هرڅه، ورك پنا پناو ،
په مغشوش خړپړ منظر کې .
خو یوازې هلته دورې په یوځای کې،
د تورتم په ژورپای کې،
یوه کوچنۍ شانتې رڼاوه ځلیدله .

* * *

په قدم قدم روان وکوځیداو،
د ښکې په شان سپك سپك .
هغه تولې غاغلې تول شورماشورچې،
پاس د سمڅې په مدخل کې اورویدلو،
دهغو کوم اثرنه و .
نه غړمباوه د دیوانو نه شرنګار د ځنځیرونو .
نه دربا دزغلیدووه دوحشي مست مست آسونو.
نه خوهلته سمندر و، نه دریاب نه ئې بستر و،
چې به کله په قلار غلی خاموش و،
بیا به کله طوفاني شو له غضبه غریدلو .
هلته چپه چپیائي وه ،
بل څه نه وو،
آرامي وه، ناآشنا سکوت سکون و .

* * *

www.sikaraam.com

هر قدم چې لاروی ښکته کېدلو،
سپین غبار ترې تاوېدلو، خړې لړې زیاتېدلې.
په دې لړو په غبار کې،
ناشنا شبحې جوړېدلې، خوځېدلې هرې خواته.
بیا به تار په تار کېدې محوه کېدلې.
بیا به دورې هاته نورې نوې بڼې، دا شبحې وراوتلې
خوزېدلې، هم به تللې هم راتللې، جوړېدلې ورکېدلې.
دغه سمځه ژوندي روح وه لاشعوره،
په سکوت په آرامۍ کې ئې ژوندی دخیال دنیاوه.
دغه سمځه ژوندي روح په خوب بیده وه،
هې لګیا وه څه خوبونه ورسره وورؤیاګانې ئې لیدلې،
د خیالونو تصویرو په جوړلو کلکه بوخته.

* * *

مودې ډېرې تېرېدلې،
به دې هسې ښکته تللو.
لاروی ښکته روان و، سپك بې وزنه،
ژور تل ناشنا محل ته کوځېدلو.
سپین غبار وه خړې لړې،
ډوبېدلو ډوبېدلو.

* * *

پس له ډېر اوږده سفره،
لاروی آخر را ورسید یوځای ته،
هلته پروت و یولوی ډنډ عجیب بیشانه.
او به ډنډ ډکې ولاړې، تاریك تارې.،
هم ګنده وې هم راکدې، هم مرداری.

www.sikaraam.com

رنګئي تور و، لکه زړه د توري شپې تور .
کناري دځنګلي دوري وړ کي ور کي ناپيداوي .
لاروی ښه ورننږدې شو دغه ځنګ ته .
چې کتل يې، ځنګه ډکه دچمچو وه،
مليونونه ملياردونه،
بې حسابه غټ چمچې کوچني چمچې وو په اوبو کي
ښکته پورته ښوريدل ټول خوټکيدل ټول .
لاروی ورته ښه ځير شو،
نوليدل ئې چې چمچيان واړه چمچيان ټول،
يو دبل په ځان اخته وو، يو دبل په خوړ و بوخت وو.
هی لګياوو يو به يو خوړ بل به بل خوړ.
ځيرول و ماتول و، خړول و .
تماشه وه وحشتناکه لړزوونکې.
بيا به ورو ورو په چمچيانو کي يو غټ شو .
نور چمچيان به يې خوړل ډير .
بيا به نور هم غټيده قوی کيدلو .
دا چمچی به لوی ماهی شو . مارماهي شو .
جسامت به ئې غرونه غرونه دنهنګ شو .
هی چمچيان به ئې خوړل ټول ،
دتور ځنګ اوبه به ئې څښلې .
ولږه تنده به ئې نوره زياتيدله .
بيا پيدا به ئې ښې کړې ،
هم تيرې تيرې منګولې، هم وزرې هم ځانګونه .
هم اوربوز هم اوږدې داړې تيزغاښونه .
دواړه سترګې به ئې دوينو کټورې شول.

www.sikaraam.com

د سپیږمونه بهٔنی داور لمبی ختلی .

دچمچی نه به غرجوړ شو .

نوړپه ډنډکی نه ځایدلو .

نوپه ورو وروبه روان شو .

لهٔتور ډنډنه به رااووت .

بیابه تللو پورته پورته .

دتورتمی سمڅی خولی ته .

* * *

له دی هسی تماشی نـه
لاروی لاړهٔاو ډوب شو ،
په بی وصفه لوی حیرت لوی تعجب کی ،
ډیر خپګان ډیر تأثر ورته پیداشو .
نوله ځانه یـی پوښتنه هسیوکړه :
«دغه واړهٔولی ولی پهٔدی هسی شان پیښیږی؟
ولی ولی څه دپاره داسی کیږي ؟
ولیولی څه دپاره ؟
معنی څه ده ؟ »
داپوښتنه وه پوښتنه آخرینه .
ځکه ځکه داسوال خو ،
دزاړهٔزاړهٔشعور دوروستهٔپاتی ګرداوخاورهٔنهٔراغلی پورتهٔشوی
بیرته کښیناسته فنا شو په ایروکی .
پس لهٔدی نه ، بیاهیڅکله لاروی تهٔپیدا نشو داسوال نور .
غبارونه شو را پورته .
لړيلړي راپیدا شولي غلیظی
هرڅه پټ شول ، هرڅه ورک شول
لاروی هیڅ لیدای نشو ، نه تر مخهٔنه ترشاخپل
نظاره شوه ډوبه ډوبه ، په ابهام کیپهٔیوځړ تورتمهاښام کی .
خوله دوری هلته دوری ،

www.sikaraam.com

لاهغه شان ځلیدله، رڼا گۍ کوچنۍ ناتوانه
لاروی دنیمو شپو بیا ،
چې‌هرڅو نژدی ورتللو ،
رڼاگۍ به دورې تلله،دورې دورې ځایدله ...

* * *

سرالاسرا

لاروی دنیمو شپونور ،
له خپل ځانه خبر نشو چې‌څه وشو؟
واړه ځمکی آسمانونه‌سره یوځای شول ،
یو په‌بل کې‌شوه دننه.
هم مکان زمان پیوند شول یوله یوبل سره .
بیاماضی اومستقبل‌هم .
دعالم بـې انتها دوری قطبونه ، رانژدی شول .
یوله بله سره غاړه په غاړې شول .
دهغه حال په شیبه کې ،
تمیت اوپاس له‌منځه لاړل ،
هم مفهوم دنژدی والی لری والی ورکك نابود شو .
لاروی دنیمو شپونا څا په ولید ،
چې‌دفتر دزمانی ورته برسیره مخکی پروت‌دی،
دآغازه تر انجامه .
کائینات بـې انتهی هم،
له‌زری تر کهکشانه یوه صفحه شوه ،
بیامرده لا نظر تیره په یودم شوه ،
داعالم یوه لحظه ابدیت شو،
هرڅه هست وو، هرڅه نیست وو په یولحظه‌شیبه کی ،
یو کیهان بـې انتها و،
بی‌حساب کهکشانو نه ،غبارونه .
جوړیدل پکی لمر ستوری ،نظامونه ،

www.sikaraam.com

څرخېدل بیا، ځلیدل بیا، ورکېدل پناکېدل بیا.
دزرې زړ کی رڼا بې انتها وه،
پکی بل لوی لوی اور ونه،
چراغو هلته نڅا کړه،
مشعلو هلته ګډا کړه .
داسپرغی وی هری خواته دنګېدلی،
بیادشپې په ترږمۍ کی ورکېدلی .
بیابه نور اورونه بل شو ل
نور جشنو نه به شروع شول .
ټول سیند ونه دریا بونه یی لیدل چی ،
څنګه درومی ،له کوم ځایه را روان کوم خواروان دی .
هم لیده یی سمندر چپې چپې ستر ،
چی موجونه غرونه غرونه ،
زغلیدل په کومی لوری ؟
کوموغاړو ساحلو باندی لښکری ؟
انسانان یی له نظر تیریدل ټول ،
له آغازه ترانجامه ،
چی له کومه پیدا کیږی ،
عرا ده دسرنوشت کومه راکاږی ،
چرته درومی بیاڅه شانته فنا کیږی ؟
په دی هرڅه کی معلوم یوحقیقت ورته ښکاره شو :
که زمان وکه مکان و ،
هغه واړه بی معنی وو.
که معنی وه فقط یوه وه دا معنی بی معنائی وه .

ځکه ځکه
که هرڅو مره دماضی په لوری لاړو دوری لاړو
که ئی سیروکړو په حال په مستقبل کی،
دزمان له دریاب پورې پورې غاړه هرڅه هیڅ وو.
بیشماره کیهانونه ، بی حساب، کهکشانونه بل څه نه وو.

www.sikaraam.com

زه په ځان جهان ښند مه
په آشنا پسی به ځمه
پری له پا سه قدم زد مه
که دښتو نه بیا بان شی

* * *

چی په لاروی هغه ډیروی
یوخو ۰ اغوندی گمراه وی
خوشحال ختټک

شپږم پړاو

هغه ښارچی تورښامارور باندی ناست و

www.sikaraam.com

جزیرې کوچنۍ کوچنۍ وې، تاپوگان وو..
په دریاب کې نامحدوده نامفهومه .
دمکان له‌درشل ها خواهر څه تش هرڅه خالي وو:
له دی همه واړه تیرشو بیاراتیرشو.
دزری په زړه کی‌ننووت دننه .
هلته هم هغه دریاب ونامحدوده نامفهومه .
بی حسابه کیهانونه، بی‌شمار کهکشانونه .
جزیری وی تاپوگان وو،
له دی ټولو یوځل تیریوځل راتیر شو.
څوپه هرلوري چې‌تللو .
بس یوازې یوه مانع وه یو حائل و.
لاروی‌ورسره هرځای مخامخ شو.
داحائل فقط نښتوالی دمعنی ودمفهوم و .
داحائل‌نه و، دیوال و.
گیر چاپیره ، پاس اولاندی
له عالمه چاپیر شوی .
دادیوال دلایعنی‌و.

* * *

په آخر کی ،
لاروی شولو آگاه له هسی رمزنه.
چی‌هیڅکله بایدده موندلای‌نه‌وای.
خوده وموندە یوسرد ټولو اسرارو ،
دوجود اودهستی درمزو رمز .
ورمعلومه ورښکاره شوه،
چی‌عالم اوهستی واړه .
بی معنی دی بی مفهومه،
بی‌معنی اوبی مفهومه،
لټول دکوم معنی او کوم مفهوم‌هم.

www.sikaraam.com

شالیلي په تمه ناسته

گریوان خیري

لاروی دنیمو شپو په ځان پوره نه شو ،
خبره نه‌شو ،
چې په هغې توره‌سمڅ کې څه ورپیښ‌شو ؟
سمڅه څه شوه؟ اړې څه شوی ؟ غبارونه چرته لاړل ؟
فقط دومره ورپه یادشو ،
چې‌هم هلته ، په هغې تورتم دنیاکې ،
یو تونل وتللی‌تللی کومې خواته ،
پنا شوی پټ په توره توره شپه کې .
اوهم هاغه رڼاگی کوچنۍ ناتوانه ،
دورې دورې په آخرکې ځایدله .
لاروی په‌دې رڼاپسې روان شو ،
په تونـــل کې .
خوهر څومره چې نـژدې ورتللو ،
رڼاگۍ به دوری تلله .

* * *

www.sikaraam.com

بیایـی ذلخا په کتل چی، هی روان دی ، کړی مزلی .
خبرنشو له تونل نه څنګ راووت؟
رڼاګی کوچنی نـاتوانه څه شوه څه شوه؟
خبرنه وچی له کومو بیابانونو صحراګانونه را تیرشو ؟
څه بـی شماره پړاوونه ترشاپاتـی ؟
لاروی یوازی یو احساس کولوچی :
بیړه بیړه عجله جلتي پکارده ،
منډی منډی ضروری دی .
ځانته یـي داوینا کوله :
«- زه بیر یزم ډیر بیر یزم ،
چی به خپل منزل ته ورسم که نه ؟
که هم ورسم مقصدته ،
نو ډار یزم چی فرصت بهوی تیرشوی ،
هم به وخت ناوخته شوی وی بـی شانه،
بیا به څر نګ خبروم زه دښار خلک ،
چی ښامار بیارا روان دی،
راستنیزی رارسیزی
ماخوتل ویلی ځانته
دا اوزدی اوږ دی استو ګی په ښاروکی
ښه کارنه دی ،
یو خطرلوی پکی پروت دی، یونا څاپه‌راولاړشی .
زه حیران یم
ښاریان ولی نه بوګنیزی نه ویښیزی ؟
ولی نه اروی دویښ زړه په غوږونو،
www.sikaraam.com

پیغامونه پټ پراته په افسانو کې؟»
داخبرې لاروي ځانته کولې،
اندیښنو کې ډوب روان په منډومنډو.
نه پروا ورسره دغنو داغزو وه .
نه سودا ورسره دلارودبې لارو.

* * *

بله ورځ چې ما زیګز نژدې کیدلو ،
نوله ورایه راښکاره شوه په صحرا کې،
آبادي د انسانانو.
ماڼۍ ګانې مناری لوړې ګنبدې،
دتاپوپه شان دریاب کې ځلیدلې .
څنګ چې لمر په پریوتوشو ،
لاروی دنیموشپو ستړې ستومانه ،
تږی وږی شونډې وچې، پټ په دوړو،
آخر ورسید خپل ښارته.
لاروی په لویه لاربانډې روانو ،
ورو ورو ښارته ورنژدې شو.
چې کتل یې .
په بیدیا کې، دهغې لارې په غاړه،
هلته ناسته وه په خاورو،
یوه پیغله نازنینه،
زوړ کمیس یې اغوستلی شین بخڼۍ.

www.sikaraam.com

اوږدې زلفې پريشانې،
نرمی نرمی دصحرا باد ښوروله،

دغروب په سره رڼاکې ئې دسرو زروشغلې شغلې کولې.
يومنگی دڅ داوبويې خواته پروت و.
بيادا پيغله نازنينه،
لاروی ته په ځيرځير شوه،
په‌شيبوشيبو يې ده ته وکتلې .

ترڅو ناڅاپه مسکې شوه په خندا شوه.
تابه وی چې ،
له‌کوم وخته چې عالم راپيداشوی،
دغه پيغله نازنينه هلته ناسته،
دخپل ورك مسافر لاره يې څارله،
دخپل ژوند اودهستۍ له ژورتل نه،

تمه تمه منتظره وه ديدارته،
ددې هسې سرگردانه مسافر خپل.
چې‌دا اوس‌و، دغه ځای‌ته‌خپل منزل ته رسيدلې.

لاروی ناڅاپه وليد،
چې دورك سمندر غاړې،
دهغو آب‌ی چشمانو په درياب کې،
نژدی هلته ښکاريدلی.

دژوندون صبح صادق يې ،
دهغو رنگينو شونډو په افق کې ،
ځليدلو خنديدلو.

www.sikaraam.com

ناشنا پیغلی نازنینی،
شین کمیس څیرې ګیروانی،
اوږدې زلفې پریشانی ،
کړ راپورته خپل منګی په دواړو لاسو.
لاروي هم دواړه لاسه کړه ورپورته،
په‌دعاشو،
دواړه لپې ورنژدی کړی.
پیغلی‌تویی ورته اوبه کړی له منګي نه.
یخې‌یخې رڼی سپینې .
لاروي کړه تنده‌ماته خپله خپله،
بیااوبه‌ئی لپی‌لپی.
په‌خپل مخ اوپه خپل سرهم وشیندلې .
خاوری دوړی ددښتونو بیابانو ،
لاړی لاړی صفایی‌شوه .
دصحرا غبار ګردونه،ټول دردونه زحمتونه،
ورك پناشولو نابوده .
لاروی په زړه‌کی داسی زمزمی کړی:
«ــ جنی دزړه په کورکی ناسته .
ماپه دښتو شړو میروکی لټوله.
یخې اوبه دلته منګی کې .
زه وچې شونډې په صحرا کې ګرځیدمه»(*)

(*)دلبره ناسته‌دزړه په‌کورکی   مالټو له په شو رما شورکی
دلته منګی وډك داوبو نه   ماځان ستي کړودتندی اورکی
دحافظ ددې شعر
یاردرخانه وما گرد جهان میگردم   آب در کوزه و ما تشنه لبان میگردم

www.sikaraam.com

چې بیا وروسته،
لاروی ددی ناشنا پیغلی تپوس دحال احوال کړو،
دښار خلکو ورته ووې:
«ـهغه پیغله زوړ کمیس خیرې گریوانه،
چېدلارې په سرناسته وی ملنگه،
دهغې نوم خولیلی دی.»

* * *

ښار دزړه په سترگوړوندو

لاروی دنیموشپوچې، بیانژدی ورغی ښارته،
نوکتل یـې ،
گرد چاپیرله هغه ښاره،
یوخندك ژور خندك وکیندل شوی.
هم تاوشوی تری دیوال و،
یوبې شانه لوړ دیوال پلن،
ځای پهځای پـکې برجونه تیر کښونه.
لاروی متعجب شوپریشانه.

* * *

بیادلویـی دروازی نهلاړوتیرشو،وردننه شوپه ښارکی.
هاخوادې خوایې کتلی :
هیڅوك نه وو،
کوڅی تشی لارې تشی،
دکورونو دروازی کلـکې تړلی ،
هرخوا چپه چپیایـي وه .
پهدی وخت کی را پیداله کومې خواشو،
یوسړی وشائی کړوپه ملائی کړوپه،

www.sikaraam.com

هم په دواړو سترګو ړوندو،
یوه امسایې لګوله،راتږدې شو .
لاروي ترې تپوس وکړو:
«ـ ددې ښارماشومان څه شول؟چرته تللی؟
نه آواز دخنداګانو،نه دلویو شورماشور شته.»
پهشاکوپ ړوند په خنداشو،
یوه خندابده خنداترخه خنداوه.
نوئې ووې:
«ــ له تپوسه دې ښکاریږی ،
چی راغلی له کوم ځایه ناآشنایې ،
اجنبی یی مسافر ئی،نابلده،
بی خبره ددې سیمې له رسومه له رواجه.
پهدې ښار کې ،
ماشومان بی ځایه نه ګرځی کوڅوکې.
زمونږ سترواکمن په امر،
ماشومان له کوچنې توبه روزل کیږي ،
چی تورزن شی،مړني شی جنګیالی شی ،
دهیواد جنګ ته تیاروی،
خپل محبوبه فرماندارته وفاداروی.»
لاروي چیداخبرې وارویدلې ،
نودچرت په ډنډکی ډوبشو،
اندیښمن شولوبی شانه

* * *

څو قدمه پرمخ لاړو .
لاروي لیدلی ښځی، له کورونه راوتلی.

www.sikaraam.com

غلي غلي په احتياط ډير، په خلوت خلوت کوڅو کې ګرځيدلې.
جامې توري، سر تر پښو په پردو پټې، ستړې ستړې.

* * *

دکږو وږو کوڅو نه لاړو تيرشو،
لاروی ورسيده دښار مرکزته.
نوئی پام شو يوی عجيبې تماشې ته.
يوه ماڼۍ هلته ولاړه هسکه دنګه،
زينې ستنې رواقونه درخامو دمرمرو.
هم دهغې ماڼۍ خواته،
يو معبد وبا شکوهه.
هم يو ستر بودا راهب هلته ولاړو،
ژير کميس اوزد کميس يې وپه تن کې.
ډيرځوانان هلته لګياوو،
دراهب ترفرمان لاندې،
لاروی چې داحال وليده؛
دمعبد په خدمت بوخت وو.
بې اختياره په خندا شو.
ځکه ځکه داداستان هسې داستان و،
چې ده چرته اوريدلې په بل ځای کې مکرروڅوواره.
لاروی په حساب پوه شو،
چې ده ځان رارسولی دی منزل ته،
خو ناوخته ډير ناوخته دی راغلی.
اژدها توره بلا له ده نه مخکې،
ډيره مخکې رسيدلې، په دې ښارده کښيناستلې.
په دې سوچ کې ډوب ولاړو،

www.sikaraam.com

ترخو ناڅاپه يې پام شو،
چې ټول خلک هک حیران هلته ولاړدی ،
ده ته ګوري تماشه کړی .
ستري سترګې ځغلي پرېي پټیزي،
مخ ترې اړوي له شرمه.
دی له ځانه خبرنه و:
چې په سمڅو مغاروکي،
داوړدواوږدواستوګنوپه مودوکی،
ټول وېښتان يې اوږده شوي، سربېرزېره ببره،
وېښتان هرخوا ځوړند ځوړند .
په صحرا په بیابان کې
داوږدواوږدو مزلوپه دوران کی
لاروی دتن جامی وی شیرې شوی،
بیا ټوټې ټوټې نښتلی پاتی شوی په ځوځانو په اغزوکی.
لاروی ښارته راغلی لوڅ لغړو.
هم په دی اوږده سفرکی،
لاروي نه هیرې شوې وې خبرې ډیرې ډیرې .
دده هیرودلوڅ توب او بربنډتوب معنی مفهوم ټول.
دی حیران وچې څه پټ کړي؟
اوداڅه، له چانه پټ کړي؟
هغه څه چې ده موندلی وو له ځان سره راوړي ،
له هغو نه مقصد داوچې ښکاره شي بې پرده شي.
نوداځکه :
لاروی په هغه ښارکی هرې خوالاړ ومشهورپه لیونتوت شو.
دښار خلکو به ویلی:ـــ دی مجنون دی.

www.sikaraam.com

په ړندوکی یو بینانوم یی مجنون شو

لاروی دنیمو شپو چی یو ځل ښارته خپل راستون شو،
دښاریانو په خندا به ژړیدلو،
دښاریانو په ژړا به خندیدلو.
کله کله به ددی سیمې واکدارلوی فرماندارستر،
دجنگونو فتوحاتو نه راستون شو،
توره ډال به یې ترملاوو،
پولادی زغره په تن نیزه په لاس کی،
په تورآس به سپور روان وه
ښځې نرواره زاره به راوتل پذیرایی ته،
کتارونه به دلوی لارې په غاړه دریدل دمخلوقاتو.
هاهای وې شورماشور وخوشالی وه.
ټولوخلکو به دایوه چیغه وهله:
«- ژوندی اوسی تل ترتله اې زمونږ گران قهرمانه!
جانشین دستر ایگوستر پهلوانه!
ربدی درکړی تاته عمر جاویدانه!»
لاروی به تل ژړلی، په دی هسی خوشالیو.
چی به کله باغی شوی مینان دآزادی دسرمستیو،
کلکې ترلی ځاونو کی زنځیرو کی،
په راښکو راښکو روان شول،
زندانو ته ځمکی تل کی،
نارینه به ډیر خپه وو ډیرغمگین وو،
ټولو ښځو ماشومانو به ژړلی.
لاروی به خندیدلو.

www.sikaraam.com

نوبه خلکو یوله بل سره ویلی :

«ـ داسړی خولیوني رښتیا مجنون دی ! »

* * *

هغه څه ته به چې نورو دیر دیر پام کړو،

لاروی به ورته هیڅ اعتنا نکړه .

بیا کوم شی ته چې به نورو نظر نکړو ،

لاروی ته به بیشانه باارزښته ښکاریدلو .

دښار خلکو سره شوق و،

د مرغو د ښکار کولو قتلولو .

لاروي به دمرغانو شورماشورته غوږ نیولو ،

هرماښام هرمازیگر تل .

له دې کاره به هیڅ نه ستړې کیدلو .

دښار خلکو به له ونو نه میوې راتوللولی،

لوی خاښونه ځانگې ستې ماتولې پریکولی .

لاروی به په مودو مودو یوی پاڼـی ته کتلی،

چې په څه شان د وزمی په غیږ کی ناڅی،

څه رنگونه،

څه بیشانه رنـاگانې پەدې پاڼـه کی ځلیږی ؟

نور به یـی هیڅ شی نه لیدلو .

له دې هسې تماشې نه لاروی نه مړیدلو .

د ښار خلـك یو پربل پورې نښتی،

یږدبل په ښو اوبدو تل اخته وو .

لاروی به په یو کنج کی غلی کښیناست،

سردننه په گریوان کی چوپ خاموشه،

ځان تری هیر و، آسمان ځمکه به تری هیروو .

www.sikaraam.com

نودا ځکه، دښار خلکو به ویلی :
«- داسړی رښتیا مجنون دی . »

* * *

ځینو ځینو به هم دابیان کولو :
«- داسړی خولیونی دی .
ولی ولی آزادګرځی ؟
څوک یی ولی‌نه تړی په ځنځیرونو ؟
ولی‌نه استول کیږی کوم زندان‌ته ؟ »
بیابه نورو ځواب ورکړو :
«- په رښتیاچی داغریب سروپ لیونی دی .
سره له دی‌هم زنځیري لیونی نه دی،
ضرر نه رسوی‌چاته، بی‌آزاردی .
د ښارنظم آرامی ته خطر نشی پیښولی .
بس یوازی،
دکوچنیانو ساده‌ګانو سا - پری تیردی . »

* * *

لاروی‌به دښارخلکوته دخپل سفر کیسی کړی.
داکیسی‌به کم عقلانو ساده‌ګانو اوریدلی .
خو معنی کومه معنی‌ئی‌نه موندله په‌کیسو په افسانوکی .
نورو خلکوبه خندلی .
داخبری ورته پوچی‌ښکاریدلی .
بس یوازی .
ماشومان به‌کله‌کله دکورو نو دقیدونونه راپټ شول.
لاروی ترخوابه ناست ووچوپ خاموشه .
اوریدل به یی‌داستانونه دخپل زړونوپه غوږونو

www.sikaraam.com

څکه څکه پوهیدل دوی ،
دکیسو دداستانونو په اسرارو په رمز نو .
بیا به کله هم دا ماشومان لوی شول غټ سړي شول ،
نو به یي هیرې افسانې کړې .
هیرې هیرې معناګانی پټې پټې دژوندون هم .
دوی به هم په لاروی باندې خندلی .
بیا به دوی هم داویلي :
« ـ داسړی خولیونی رښتیا مجنون دی ! »

* * *

لاروی دنیمو شپو به دښار خلکو ته ویلی :
« ـ ای ښاریانو راشئ وارویئ !
ماملکونه هیوادونه ډیر لیدلی .
په صحراکی مااوزدی مزلی کړی .
تورې شپې په ماراغلی .
په اوږدو اوږدو مودو هم ،
دسبا درا تلو لاری ماڅارلی .
دتورتمو مغارو په ژورتل کی ،
ترزمې مالټولی .
رڼاګانی می لیدلی .
په دی هرڅه کی معلوم یو حقیقت راته ښکاره شو :
دزمان ددریاب پوری پوری غاړه ،
هرڅه هیڅ دی .
دمکان له درشل ها خوا .
هرڅه تش هرڅه خالی دی .
دا عالم او هستی واړه ،

www.sikaraam.com

بې معنى دى بې مفهومه .
بې معنى اوبې مفهومه ،
لټول د کوم معنى د کوم مفهوم هم .
نو داځکه :
فقط زه يوازې زه يم سرچينه دهرڅه زه يم.
په عالم کې دعالم دارزښتونو خالق زه يم .
په جهان کې معناګانې مفهومونه فقط زه ايجادومه.
په هستۍ اوپه وجود کې ،
دمعنى اودارزښ که رنګ اوبوې شته ،
دازما خلق او ايجاددى .
که هستي رنګين رنګينه ،
دازماپه ارزښ رنګ ده .
که ترې بوى راځې دمشکو دلونګو.
دازما په معناګانو ده خوشبويه معطره .
او زه وايم :
دهستۍ معنالېلى ده .
که باورنه کړئ نوورشئ ورته ځيرشئ !
نوبه پوه شئ :
چې زماپه معنا څرنګ دليلى لبان رنګين دى .
بيازمادارزښتونو رڼاګانې ،
په څه شانې ،
دهغو آبې چشمانوپه افق کې تل ځليږى .
اوزمادخلقت عطرخوشبوې څنګ ،
دهغوزلفوولولونه چپې چپې راخيژى.»
لاروى به داخبرى هسې کړلى .
www.sikaraam.com

دښار خلکو به خندلي .
په خپل منځ کي به يې ويلي :
« ـ داسړی خوليوني رښتيا مجنون دی . »

* * *

کله کله به راغونډ شول ،
ددې ښا ټول ساده ګان او ابلهان ټول .
لاروي پسې به لاړل .
ځورول آزارول ددوی مقصدو .
لاروی نه به را تاوشول .
بيا پوښتنې به يې کولي ځای بې ځايه .
لاروي خودي خبروتپوسونوځای بی ځايه ،
هرګزنه شوځورولی .
دځورونوآزارونو هيڅ پرواورسره نه وه .
ځوابونه به ئې ويل په نرمه ژبه مهربانه .
ساده ګانوبه تپوس کړو :
«ـ خبرنه يې ليلیځه شوه ؟
ولی نه ورځې ديدارته ؟
خبرنه يې ؟
سره ډولۍ سنباله شوی .
شاليلی دی سينګارکړی پکی ناسته .
ځې روانه ده وړل کيږی چرته دوری .
که سيل کړی زرشه په منډه منډه لاړشه ،
که نه وخت به شي ناوخته ،
ليلي تللي ځای خالي ته به ارمان کړې . »

www.sikaraam.com

«-ای زماگرانو دوستانو!
اوس په هیڅ وخت پس له‌دی ناوخته نه‌شی.
ماخوځان رارسولی خپل منزل اصلی پراوته.
تاسو وایاست.لیلی څه شوه؟

نوزه‌وایم.

دازما زړه سره ډولی ده،

لیلی دلته ده دننه،

زما ځان زما وجودکی سینګارناسته.

هرساعت زما په زړه باندی قدم زدی.

دازما زړه دلیلی‌دقدم ځای دی.

زه تری یوه لحظه تلای نشم چرته دوری

او زما ددی هستی ددی وجودله‌قلمروه،

لیلی یو قدم بهرایښودای نه شی.

له‌کوم وخته چی‌عالم را پیداشوی،

لیلی ماسره یوځای ده.

فقط زه تری خبرنه وم.»

ساده ګ نو به‌تری بیاپوښتنه وکړه:

«- داته ولی دمرغانوآوازونوته‌تل غوږغوږ دی،

اوهیڅ نه ستومانه کیږی؟

په‌مړدو مودو دپانوتماشه کړی،

چی‌دبادپه غیزکی څنګه درناپه‌مخکی‌ناځی؟

له‌دی هسی تماشی نه ولی هیڅ نه ستړی کیږی؟

په‌شپوشپو په ورځو ورځو،

سردننه په‌ګریوان کړی ،

غلی ناست یې دخپل ځان سره .

ولی ولی له خپل ځانه آخرنه بیزاره کیږی ؟»

www.sikaraam.com

لاروی به جواب ورکړو :

«ـ اې زما خوږو دوستانو !

دامرغۍ چې شور ما شور په باغ او بڼ کړی،

ثناګانی دلیلی وایي .

دلیلی پرستش کاندی.

دغه پا ڼه چې ښوریږی دسبابادته، رپیږی،

که آوازته یې غوږ کښیږدی،

دالمنه شین بخنه دلیلی ده شرهار کا .

تاسو وایاست :

ولی ولی همیشه سرپه ګریوان یم؟

رانژدی شئ ښه غوږ کښیږدئ !

نو به پوه شئ په اسرارو.

واروئ واروئ دلته دلته .

په سینه کې مې دننه دابهار دی .

ساده ګانو ؟ تاسو وایاست:

داخوزړه دی چې دربیږی.

دازړه نه دی .

دادربار دبلخه نه ده،

داآوازدی دلیلی دقدمونو.»

سادګانو داخبری هسی هسی اوریدلی،

بی مفهومه بی معنی ورښکاریدلی

نو به دوی همیش خندلی اوویلی:

«ـ داسړی رښتیا مجنون دی !»

ساده ګانو که هرڅو خندل خندلی،

لاروی به جواب ورکړو :

www.sikaraam.com

لاروی نه ځوریدلو .
ځکه ځکه‌دی اګاه‌و ،
چی په ژوند کی که معنا کومه معنی شته ،
دامعنی فقط خنداهسکه‌خندا ده .

* * *

دهستی په خرابات کی شورماشورو

یوه شپه‌روان ولاروی دښارپه منځ کی ،
یوه کوڅه وه تنګه تنګه‌هم تورتمه،
لاروی تری تیریدلو .
ناڅاپی یی شول تر غوږه ،
غلی غلی آوازونه دخنداد‌ټنګ ټکورهم .
دی حیران شو
بی له فکره تأمله په آوازپسی‌روان شو .
کنډواله وه نژدی هلته .
بیازینی وی ورانی ورانی رنګی رنګی ،
دی تری کوزشو .
دتورتمو تنګو تنګو دهلیزونو څخه تیرشو .
په آوازپسی روان دخنداګانو ټنګ ټکورو .
دد هلیز په انتهاکی دروازه وه کلکه پوری ،
ده زنځیر ددروازی وشرنګولو .
آوازونه دخنداد‌ټنګ‌ټکورناڅاپه‌چوپ‌شول .
دروازه ورته برسیره په مشکل شوه
لاروی دننه لاړو .
لو یه خونه وه پراخه .
هم په‌منځ کی دلرګیو لوړی ستنی پرسیری وی ولاړی.

www.sikaraam.com

چت ورك شوی،
هم کنجونه،دیوالونه واړه ورك ووپه تورتم کی ،
هرخواشمعی‌لگیدلی ،
خړې خړې رڼاگانې ئې کولی.
ددی شمعوپه کم نوره پلوشو کی،
لاروی‌چی ښه کتلی،هری خواته ئې لیدل چی:
ځوانان پیغلی یوله بل سره غیز په غیز وو.
ځینی‌پټ ځینی لغړ نیمه بربنډ هلته پراته وو،
اودټولو په لاسونو کی جامونه،
هم‌په ځمکه هری خوا ماتې پیالې ماتې کاسې وې.
هلته شاته په تورتم کی،
غټ خمونه ډك خمونه چوپ ولاړوو،
تماشائی دمجلس کړه.
دمستانو له محفله یو ناڅاپه ،
شورماشورشولو راپورته .

ټولو غږکړو :
گورئ څوك دلته راغلی ؟
دازمونږ دښار مجنون دی،
اوس زمونږنن شپه میلمه دی.
په‌خیر راغلې ای مجنونه !
دامحفل زمونږ محفل ستاخپل محفل دی .
مونږ خوواړه ستا په شانه لیونی یو،
ستاپه شانه بـی خبره له خپل ځانه»
لاروی داسی غږوکړپه مستانو :

www.sikaraam.com

«- ای کونګیانو! ټپوسانو! ګیدړانو!
دامستی ستاسو مستی څنګه مستی ده؟
چې دشپې په تورتیادر کې،
دښاریانو له نظره پټوئ ځان.
دامحفل څنګه محفل دخوشالی دی دښادی دی ؟
چې په شړو کنډوالو کې خرابو کې ،
غلی غلی جوړوئ ځان.

زه حیران یم چې داولی،
هغه څه چې په رښتیا باید ښکاره وی.
په دی ښار کې تل پټیږی ؟
هغه څه چې باید پټ پنا پناشی،
په رڼا پسې پرده ګرځی ؟
ولی ولی دښارتول ریاکاران فریبکاران ټول
ځی معبد ته په رڼاورځ؟
ولی‌ولی راستکاران آزاد سرمسته ،
په تورتمو کنډوالو کې تل پټیږی ؟
په کوم ځای کې چې انسان شته ،
هلته سرهلته دماغ شته ،
اودماغ کی آزاد فکرمست خیالونه.
نوداستاسو څرنګ سرڅرنګ دماغ دی ،
چی هیڅ نه درپکاریږی؟
نو یوکار خوترې نه واخلئ
تری نه کار دپښو واخلئ
په څلورو خو روان یاست ،

www.sikaraam.com

په سرونو هم روان شئ!»
چی مستانو داخبری واوریدلی،
شور ماشور يي کړلو پورته .

ټولو ووې :
«ـ ای مجنونه! ته رښتیا وایی!
په څلورو خوروان یو ،
په سرونو ټنګک پکار دی .
داسرونه چی زمونږ دی .
غیر له درده بل څه نه کړی ،
داسرونه دماغونه بس یوازی دردوی مونږ ځوروی مونږ.»
په دی وخت کی لاروی ته چاتقدیم کړه ،
پیاله ډکه دشرابو .
لاروی تری یو ګوټ وکړو .
چی کتل یی ،
داشراب ډیر یی مزه تروه تازه ووه .
ټنګک ټکورته یی غوږ کښیښود .
سازبی وزنه او دساز سرود آلات ټول،
واړه مات وو واړه ګوډ وو ،
هم بدریخته بدجوړ شوی .
لاروي پوښتنه وکړه چی داولی؟
له مستانو نه یو مست داسی جواب کړو :
«ـ ای مجنونه !
دلته وو واړه خمونه دزړو زړو شرابو .
خو زمونږه فرماندار سترامر وکړ :

دخمونوزړونه مات شول ، خیتې څیرې .
سرې‌سرې وینې آتشینې دخمونو ،
شولې توې په تورو خاورو .
دازمونږ ساز اوسرود ټنګ ټکورونه ،
دښارلوی راهب خوښ نه کړل .
راپه قارشوپه غضب شو .
ښکلې‌ښکلې ربابونه ستارو نه یې ټول مات ټوټې ټوټې کړل .
بیاټوټې ئي کړلې ښخې دخندق په ژورتل کې .
ښکلې‌ښکلې سندرغاړې ،
ساقیان ، آزاد مستان ډیر ،
له مودو راهیسې بند دې کلک ترلې زنځیرو کې ،
ددې ښاردځمکې لاندې زندانونو کې اوس پراته دې ،
اومونږ دلته ، دهغوی په یاد خاطر تل ،
کړو جشنو نه پټ بزمونه . »
بیایومست په سینه باندې ښوئیدلو ،
په خاپوړ ور نژدې شو .
په ښېتلې ماته ژبه یې تپوس کړو :
«ـ ای‌مجنونه ! راته وایه !
دجهان فرمانداران ټول ،
ولې‌ولې دامستانونه ډاریږئ؟ »
لاروي ورته جواب کړو :
« له مستانونه ډارځکه :
چې مستې کې تل خطرپروت دراستې وي .
له شرابو بې زار ځکه :
که څوک وڅښې قطره دوینوڅاڅکې ،
www.sikaraam.com

نو ر هز گزاخستی نشی له شرابونـه لذت کوم .
دتر خومیود تریخ حقیقت خوند زغملای نشی ،
پری گومان کوی دزهر و.»
بیایوبل مست رانژدی شوپه خاپور و،
په نښتی ماته ژبه یې تپوس کړو :
«- ای مجنونه ! راته وایـه !
ولیولی رهبانان دلوی‌معبد کوي تل کر که دمستی‌نه؟
ولیولی دسرودساز وسرود څخه نفرت کړی؟
لاروی ورته جواب کړو:
«-هغه څوك چی هڅه کاندی،
چی‌ژوندی‌دمرگ له خوندسره آشنا کړی ،
نوداهسی څوك هیڅ وخت‌زغملای نشی،
چی یی ننوځی زړه ته،
شورلذت دژوندانه کوم.
هغه څوك چی‌زدی غوزونه داموا‌توغز آوازته،
نوداهسی څوك هیڅ وخت اوریدی نشیلی،
دهستی او دژوندون‌ساز و سرود بیا.»
بیایوبل مست په سینه سینه راونبوید.
داسی ووې:
«-ای مجنونه راته وایه!
ته زمونږ پښو جشنوکی گډون نه کړی،
خوهمیش ښاد او خندان یې.
نه کوم جام څښی‌دشرابو،
بیانوڅنگه همیشه مست لیونی یـې؟
لاروی ورته په‌دی شان جواب ورکړو:

www.sikaraam.com

«-ای زما خوږودوستانو!
خبرنه یاست تاسوڅه یاست؟
تاسو واړه قربانیان یاست،
بې ګناهه قربانیان داژدها یاست.
داخو هغه اژدهاتوره بلاده،
چې دزړه په کنډوالو کې ستاسوناسته ده میشته ده.
خبرنه یاست تاسوڅه یاست؟
تاسوواړه زندانیان یاست،
زنځیرونه ځلونې درنه چاپیردی.
داخو هغه تورزندان دی،
چې په خپل لاس موخپل ځانته دی جوړ کړی آباد کړی.
ددې ښارمستان چې جشن کړی ښادی کړی.
ته به وې کوم ماتم دمرګ ماتم دی.
په دې ښار کې هوښیاران چې بیاماتم کړی،
ته به وایې اموات مړی دی اختر کړی خوشحالی کړی.
په رښتیا چې دریا او دوه رنګی دغه انجام دی.
هغه څوك چې غولول کړی،
په آخر کې دخپل ځان په غولیدوشی.
هغه څوك چې ریا کار وی فریب کاروی،
په خپل لاس خپل ځانته دام زدي،
په آخر کې ددې خپل تذویر په دام کې ځان راګیر کړی.

ای دوستانو!
راته وایاست!
له نشونه له مستې نه مومراداومقصدڅه دی؟

www.sikaraam.com

فقط یوځه:

هیرول دواقعیت دی‌نه موندل دحقیقت کوم.

شرابونه پیمانی ډکې تشیږی،

هدف څه دی؟

فقط یوځه:

چی‌دردونه دخودی دځانځانی لږځه آرام‌شی لږقلارشی.

اونه داچی‌دخودی دځانځانی څخه آزادشی.

له‌خپل ځانه بهرلاړشئ.

ای زما خوږو دوستانو!

داژوندون زما ژوندون خوبل څه‌دی،

یوه تنده سراسربی‌انتهاده.

داهستی زما هستی خوبل څه نه‌ده،

دایوشوق یو اشتیاق دی نامحدوده،

که شراب خورم نوپکاردی،

چی‌داهسکې هسکې آسمانونه،

شی پیالی پیالی جامونه،

په کی می وی سمندری دریابونه،

سره شراب وی آتشینه په سرو وینو دشفق رنګ،

هم زاړه وي ددې زوړجهان همځولی.

که نشه کړم، که مستی کړم،

نوزما هدف دانه‌وی‌چی‌ځان هیرکړم جهان‌هیرکړم،

یانښادی یوځوشیبی لنډی شیبی کړم.

ډیر وخت کیږی له‌دی‌هسی لنډولنډو،

تیریدونکو ښادی ګانو څخه زه یم راتیرشوی.

دا زما شراب خوهسې شان شراب دی،
چې ړانده ړانده چشمان پرې رڼا کیږي بینا کیږي.
دا زما مستي خوهسې شان مستي ده.
چې کاڼه کاڼه غوږونه پرې خلاصیږي .
نشه ستاسو خوزحمت لویه خواري ده ،
چې پرته ورته په‌مخکې هوښیاري ده،
بدفرجامه،خاتمه ئې سردردونه .
اوزما په بې هوشی کې بیخودي کې ،
دخودي دځانځانی رنځونه ټالې ترشاپاتې،
په پړاوپړاوتري‌دوری یم راغلی.
ای زماګرانو دوستانو!
تاسوو ایاست چې زه څنګ بې‌میومست یم؟
خبرنه یاست ،
داچې‌زه مستي مستي تل دایمي کړم ،
دلیلی سترګې خماری زه پېرې مست یم .
ورشئ ورشئ دلیلی سترګوته ځیرشئ !
هلته هلته لیدل کیږي دهستي خمارستان لوی .
خوډاریږم چې‌به تاسوهلته هیڅ شی مونده نه کړئ .
ځکه ځکه دلیلی دیدار دپاره خوپکار ده ،
ددی لمر ځلانده سترګې پشان سترګه ،
نوراني لویه روښانه .
دلیلی عشق دریاب‌دی .
ستاسوزړونه تش ، ځګونه ،
خالي تش تش حبابونه ،
خبرنه دی له محیط نه خبرله ژورتاه .
دایلی دعشق دپاره ،

www.sikaraam.com

زړه په کاردی ناپا یا بـه نامحدوده ،
هسی زړه چی که ورتوی‌ستراوقیانوس لوی سمندرشی،
په کی ځای شی ، پکی ورك شی ځاځکی ځاځکی ...»
دمستانو مجلس چوپ و »
هرې خواته یو مطلق سکون سکوت و
همه واړه سرترپایه غوږ نیولی .
لاروی بیا ، د دوستانو په محفل کی
داناشناخبرېوکړی :
« ـ ای دوستانو !
لزراپاځئ راولاړشئ !
ددی دشت وچ وچ ځنگلونه وچی‌ونی بی ثمره ،
واړه واړه ماتی غوڅی کړئ له بیخه له ریښی نه .
بیاپه اور باندی لمبه کړئ ،
اغزی غنی دصحرادبیابان خپل .
هم مستان زنځیر تړلی په تورتموتاخانوکی
راآزادکړئ ! زولنی کړئ ماتی ماتی .
هم دزړونوکنډوالی کړئ ړنگی ړنگی .
کوم ښامار چی پکی ناست دی ،
داښامارتری رابهرکړئ .
بیاحلال دغه ښامارکړئ !
دښاماروینی بیاتوی کړئ ،   په دی سیمه‌په دې خاورو .
ځکه ځکه :
طبیعت ستاسونه غواړی قربانی اوس ،
لویه سخته قربانی هم ،
قربانی دتورښامار مار .
دادشتونه ، وچ ډاگونه ، جل وهلی‌ځنگلونه ،

www.sikaraam.com

خزان شوی چمنونه ،

وا ره تندی دی زړلی ، سختی تندی .

بس یوه تنده : دښامار دوینو تنده

نو به هله ددی دښت زمکه لمده شی ،

ناشنا بوټی به له دی نمناکو خاورو کړی سر پورته .

شین کمیس به ئی په تن وی .

شورماشور به شی را پورته په جهان کی .

هنګامی دنوی ژوند به را پیداشی .

نو به هله دزړګی په نوی کور کی .

نوی لوی چراغونه رڼا وکړی .

نو به هله دهستی خمارستان لوی ،

په هغو آبی چشمانو کی موندہ کړئ .

نو به هله درمعلوم شی پټ رمزونه پټ رازونه ،

دمستی دایم مستی ، دآزادی دلیونتوب ټول ... »

* * *

دغه شپه عجیبه شپه وه

دلومړی کرت دپاره ،

داناشناخبری ټولو اوریدلی دخپل زړونو په غوږونو.

دلومړی کرت دپاره ، چاخندا تمسخر نه کړو

خلکو نه وی : « ـ داسړی خولیونی دی. »

لاروی دنیمو شپو خبری کړلی .

دهغه محفل مستانو اوریدلی .

دی خبرو کی مستانو پیدا کړی بیا موندلی ،

کوم رنګونه کوم بویونه دمعنا وو .

دغه شپه عجیبه شپه وه .

www.sikaraam.com

دلومړی کرت دپاره ددلبرمهرویانوشهلا سترګی ،
ځلیدی لکه چینی رنی دغرورغونو .
هم دنجونو خپروزلفو پریشانو ،
خپرولوتازه عطر دصحرا وحشی ګلونو.
هم دسروشونډوبوسه کی مزه ګی وه
دګورګورو دمومانو .
دوحشی وحشی میوو ، د لوړوغرونوځنګلونو
دغه شپه عجیبه شپه وه
هرهرګوټ دسروشرابو سور انګارو .
دژوندون عجیبه اورئی په سینوکی بلولو .
هرهرڅاڅکی دسرومیو یومشعل و .
کنډوالی دزړو نو یودم چراغان شوی.
اومستانودلومړي کرتدپاره،
پهمستی خپله نشه کی،
یوه ناشنا مزه موندله .
دالذت مزموزه خوند دآزادیو.

* ÷ *

دمرګی سیوری روان ووژوندی سری ورپسی تلل

یوه ورځ دورځ چی لمر تلوپریو تلو،
دمغرب پهلوری ښکته،
اوهم سیوری اوږدیدل تهول ،
دمشرق پهلوری‌دښتوکی زغلیدل پناکیدل تهول
لاروی لهورایه ولید چی دخلکو لویه ډله وه روانه.
یوتابوتدیوڅوکسوپه اوږوپروت ددویسیوری‌تلل‌ترمخه
دوی ترشاپسی روان وو .

www.sikaraam.com

دبیدیا دښتو په لوری تلل له ښاره پهوتو وو.
دهغی ډلی ترمخه.
دښار ستر راهب په اوږد زیږکمیس کی ،
په وقارپه تمکین‌ورو ورو قدم په قدم‌تلو .
چی‌دخلکو ډله کله دتابوت سره رانژدی‌شوه،
لاروی ورته دلار په منځ کی ودرید.
داسی ووې :
«- ای ښاریانو! راته‌وایاست!
دغه بارخړنګګ دروند باردی
چی‌ئی‌تاسی په‌اوږو وړی ء ؟
اوداولی په خپل‌سیورو اوږدو سیورو پسی زغلیء؟
خبرنه یاست چی‌دسیوروسرعت زیات دی چټکګ زغلی ؟
پسی نشئ رسیدلای .
دغه دروند بارچی‌راکازئ،
دا درانده درانده ګامونوچی‌رااخلیء،
ګومان نه کړم چی‌به ورسوئ‌تاسی کوم منزل‌ته.»
ستر راهب ورته په‌قهروکتلی.
په‌ترخه ژبه ئی‌داسی جواب ورکړو:
«- ستاهستی ده یوه ونه،
بی‌ثمره وچ اغرنه،
نه‌احساس دخوشا لی کړی نه‌دغم کړی.
زړه دي تورلکه لوګی دی هسی کلکګ لکه ډبره.
نه‌دژوند درسره سوداشته،
نه‌دمرګګ درسره پروا شته.
خبر نه ئی چی‌انسان په‌مړي ژاړی؟

www.sikaraam.com

بیاپه غم او په ماتم په احترام ډیر ،
داخپل مړ دوست اوخپلوان خاوروته سپاریٔ.
هم کلونه وروسته وروسته ارمانونه کړئ افسوس کړئ،
دغه مړی یادوی تل.»
لاروی چی‌دا جواب په غوږو واورید،
نه‌حیران شو، نه ئی وکړو تعجب کوم .
خلك لاړو له‌تابوت سره،
لاروی هم په هغوی پسی‌روان شو، بهرووتل له ښاره
دښار لوی‌دیوال نه‌شاته هدیره وه .
په‌یو کنج کی کیندل شوی وه یوه کنده ښه ژوره.
هم په خواکی ئی دخاورو یوه ډیری وه.
تورې خاورې تورې تورې بوی هم ترې خپریدلو.
څوسرې هلته ولاړوو منتظره،
کلنگونه هم بیلونه ورسره وو.
دراهب په لارښودنه ،
ډیر اوږده اوجنجالی مراسم طی شول .
تابوت کښیښود شو په‌قبر کی‌دننه.
تورې خاورې پرې انبار شوې.
دهغه مړې پښو ته راهب ودریده ولاړ شو،
مخامخ دمغرب لورته،
باشکوه باعظمته لوی راهب و.
مخ خیره ساکن آرامه،
هیڅ کوم چاته ئی‌نظر نه کړو .
زیړ کمیس اوږده لمن یی‌دماښام بادښورروله .

www.sikaraam.com

خلك ټول ترې نه‌چاپېرو و.
راهب پیل کړ و په خبرو،
جګ آوازئي یونواخته ناموزنه.
دبیان په‌لومړي سر کی،
راهب داسی څه بیان کړل،
چی هیڅوك ئي په معنی‌نه‌پوهیدل‌هیڅ.
خلکو ووې: دادعاده مناجات دی.
بیاله «امابعد...» نه وروسته.
ستر راهب دهغه‌مړي نیك اعمال په‌نیکی یاد کړل!
له بیان نه ښکاریدله.
چی دامړی په ژوندون کی داخلاقو نمونه‌وه،
دنیکی‌عالی مثال‌و.
بیاراهب ستر،
دیوپټ مرموزه جهان کیسی شروع کړی.
وې: «دمرګ له‌درشل‌هاخوابل ژوندون شته،
هم‌بهتره‌هم برتره.»
وې: «ددی دنیا خواري څه خواري نه ده،
همه وا ړه‌ګذري دی،
رښتینی درداوعذاب‌دی‌بل‌جهان کی‌چی‌ثابت دی‌ابدی‌دی.»
وې: «ددې دنیا عزت مال اودولت‌ته نظرمه کړئ،
ځکه داشان خاوری‌کیږي فناکیږي.»
بیایی ووې:
«- بس یوازی،
ښه عمل د لاری مل‌دی بل‌جهان کی.
ښه عمل بس قناعت دی اطاعت دی.

www.sikaraam.com

داخالي کالبد فاني دی خاوری کيږي .
مګر روح هيڅکله نه مري، کوی عمر جاويدانه .
دغه روح يوه سپرغی ده،
راوتلی دبقا د اورله زړه نه .
بيرته ځي له هغه اور سره يوځای کيږی .
روح يو څاڅکی دباران دی،
ځي تو يږی په درياب کی،
په درياب دسعادت اونيکمرغی کی تل ترتله . . . »
چی راهب ستر کړلي ختم داخبری ستړي ستړي ،
لاروی دنيمو شپو پاڅيدولاړشو .
خلك ئی داسی مخاطب کړل :
«ـ ای ښاريانو !
سيوری مخکی تاسو ټول پسی روان وئ .
دغه سيوری دمرګ سيوری تاسو ټول ورپسی زغلئ .
ماخو تاسو ته ويلی: لهدې منډو نه بههيڅ په لاس درنشی .
خبرنه ياست، ښکار دسيورو آسان نه دی ،
سيوری چانيولی نه دی . »
لاروی دهغه قبر له سينی نه،
دنمناکو توروخاورو تازه خاورو،
يو ښه موتی ډك راواخيست .
دغه موتی ئی دخاورو،
د ماښام په نري باد کی په هوا کی ،
دمشرق په لور غوځار کړو .
بيائی داخبری وکړې :
« موتی خاوری تاسوو ليدی چی باديوړی دوری دوري .

www.sikaraam.com

ددې خاورو هر زره به بیا ژوندون کړی،
مګر نه داموتی خاوری چی باد یوړې .
او نه دغه موتی خاوری به کوم ژوند دوباره وکړی.
چی دا تاسو اوس اوس کښېښود په دی ګور کی .
خلکو پوه شئ !
نه قطره شته چی دریاب کی چیرته توی شي .
ځکه ځکه :
نشته نشته کوم دریاب نه سمندر کوم .
نه-پرغی شته چی یوځای شی د کوم اور دسری لمبی سره .
ځکه ځکه :
لا تراوسه اوربل شوی چیرته نه دی .
راته وایاست : هغه موتی خاوری څه شوی ؟
ستاسو پام ګرځول شوی دی نیستی ته،
داخو ځکه چی هستي شی درنه هیره .
ستاسو زړونه هدیرې دی،
پکی ښخی داموا تو خاطرې دی .
داخو ځکه :
چی په زړه کی موپیدا هیڅکله نشی،
د حیات سره تړون کوم،
شوق، آرزو دکوم ژوندون کوم .
ای ښاریانو !
ولی دا پوښتنه نه کوئ له ځانه :
که دا مړی نیکوکار و، ولی مړشو !
نوپخپله به داهسی ځواب وایاست :
چی له مرګ سره دنیکی او د بدی څه پروا نشته ،

www.sikaraam.com

ماوراء دی هم له خیره هم له شره .
مرگ نیستي ده دښو بدو .
مرگ عدم دخیر اوشر دی .
د مرگی فکرونه څه دی ؟
بس مرگونه دفکرونو .
دمرگی هیله آرزو خو، مرگ دهیلی دآرزو دی.
که نیکی شته که بدی شته،
بس په دی ژوند اوجهان کی موندل کیږی .
او پکار دی،
چی په دی ژوند او جهان کي مکافات شی مجازات شي .
ځکه ځکه بل به نه وی کوم فرصت داهسی هسی .
هغه څوك چی قناعت کړی اطاعت کړی،
غلامی ته غاړه ږر ږدی،
دغه واړه مجازات کړي .
هغه څوك چی شورماشور کړی بغاوت کړی،
دا انسان وړ دستاینی مکافات دی :
ای ښاریانو !
ستاسو جسم که فـانـی دی،
ستاسو روح هم بـاقـی نـه دی .
له دی جسمه هم لا نوره زیاته زیاته گذری فانی ده.
تاسو کله چی خپل جسم خپل کالبد خاورو ته سپاریځ،
له دی کـاره لا پخوا تـاسو پخپل لاس ،
خپله روح پخپله وژنـئ .
بیاد گور ترغاړه پوری ،
دغه مړه بـی ژونـده روحه ،

www.sikaraam.com

درنده شخه یخه یخه،

په اوزو خپلوراکازئ.

راته وایاست:

آیا تاسو پرملا خپله پرشا خپله ،

د دی دروند باراحساس نه کړئ؟

دا دروندوالی ددی پیتی خوزه وایم، وینم

سراسر ستاسو وجود کښی ،

داملاگانی تیتی تیتی ،

داسرونه ښکته ښکته ،

دامخونه زیړ بیرنگه ،

دا لینگی کازه وازه هم،

دغه واړه حکایت کړی،

له دی هسی د رانده باره شکایت کړی .

ای ښار یانو !

خبرنه یاست تاسی مړه یاست.

روح مومړ دی فناشوی .

تاسو ټول خوبس یوازی ،

اشباحگانی بی ژوندونه خیال اوخوب یاست.

تاسوڅه یاست ؟

بس یوائحی یوه هیله بی مفهومه.

یوه ټمه نامعلومه دیوبل موهوم ژوندون یاست.

تاسو ټول پخپله سیوری یاست دمړو داموا تو.

ای ښار یانو!

که اوس هم ،

څه در پاتی دژوندون شوق او ارزو وی ،

www.sikaraam.com

نو دا مړی ازخه هیر کړئ ،
په ژوندون پسی روان شئ ،
که لا اوس هم ،
که هوس د آزادی ستاسو په زړونو کی باقی وی ،
نو خپل ځانته هسی وایاست :
چی تر ټولو زحمتونو عذابونو ،
په واقع کی ،
لوی زحمت عذاب همدادی
چی دا اوس پکی اخته یاست .
او تر ټولو درندو پیټونه درونډ پیټی بل یو نشته
واقعی تر ټولو درونډ بار خو همدادی .
چی دا اوس موږ په شا پروت دی . . .

* * *

لاروی دا بیان کړلو .
شاوخوا راغونډ ښاریانو هی سرونه ښورول خپل .
په افسوس په تمسخرئی یوله بل سره ویلی :
«ـ دا سړی چورلیونـی رښتیا مجنون دی .
بیا په خرتورتم ماښام کی ،
یو په بل پسی روان شول ، ستنیدل د ښار په لوری .
لاروی هلته هم هسی ولاړ و ،
هی خبری یی کول ،
خبر نه و چی نژدی په هغه ځای کی ،
هیڅوک نه وو پاتی شوی چی دده خبری واروی
بس یوازی هلته دوری ،
یو نگر کوڅه د ب سپی و پروت په خاورو ،

www.sikaraam.com

لاروی تـه ئی کتلی چوپ خامو شه.
لاروی خبری کړلی .
داخبری دماښام نری وزمی بیا،
وړلی وړلی دمشرق په لوری دوری،
له کوم ځایه چی ر نـادسپین سبارا پورته کیږی.

* * *

دړند و ښاردخطر سره مخا مخ‌و

په آخر کی دښار خلکو،
که واړه وو که زاړه که ښځی نروو ،
لاروی دنیمو شپو ئی پیژند لو.
آوازه ئی دشهرت هرخواخپره وه.
ځنوخالکو به ویلی :
«ـداسړی اصلاله عقله بیگانه‌وو،
گرځیده به په بـی‌لارو شړولارو.
ترڅو بالـکل لیو نی‌شو .
اوس لگیادی په دی‌ښار کی لیونتوب کړی .
په دی هسی‌شان بیقیده گرځیده‌ئی ښه کارنه‌دی
څه تجویز ورته پکاردی .»
ځنی نوربیا معتقد وو ،
چی‌داشخص عادی شخص نه‌دی .
روحانی دی قلندر دی،
لوی خاوند دکراماتو مقاماتو ،
په کلام کی ئی پټ پروت غیبی پیغام دی .

* * *

www.sikaraam.com

ښکاره نشوه .
چې له دې دوا ړو خبرو څخه کومه یوه رښتیا وه حقیقت و.
یاداد وا ړه ډلې تللې په خطاوې ؟
لنډه داچې،
بله ورځ، ورځ دبازاروه.
ګڼ شمیر خلـک ووغونډ شوې،
دښارمنځ کې ازدحام و.
لاروې خلـکوته دابیان شروع کړو:
«ـــای ښاریانو!
په یو وخت کې دلته ښـکلي ښایسته ښارو،
چمنونه شنه ګڼګلونه ترې چاپیرو و.
مست سیندونه ډك رودونه،
په دې سیمه کې په هره خوا روان وو.
لویـې لارې هرخوا تللې رسیدلې.
ماشومان به لوبیدل دسیند په غاړه
ښه ځوانان و ګرځیدل به.
ښکلې پیغلې سینګار کړې نڅیدلې.
هم دمینې راز اونیاز و،
ښکلول وزغلول و.
محبت وصفائې وه.
ای ښاریانو! راته وایاست!
ګڼ ځنګلونه شنه باغونه،
واره چاپه اورلمبه خاورې ایرې کړل ؟
ددښتونو غرڅنې هم له کوم چانه تریدلې رهیدلې؟

www.sikaraam.com

دلته ښارو اوسیدل پـکی ښاریان آزاد سرمسته،
نه بـي بـي وه نه بادارنه فرماندار وو،
نه نوکرونه مریان نه وینځې مینځې.
دغه ښار یوهسی ښارو،
نه خندق ترې نه چاپیرنه کوم دیوارونه حصارو.
ای ښاریانو! راته و یاست!
هغه څه شو؟ چاویران کړو چاتبا کړو؟
څه بلاتوره شوه پری نازله؟»
دښار خلـکو داخبری اوریدلی،
په قاه قاه به ئی خندلی اوویلی ـ داسړی رښتیامجنون دی.
ځکه ځکه :
زړ پخپله دوی ته یادو، ددی سیمی حال احوال زوړ.
هم پلرونو له نیکونو له اجدادو روایت کړو،
چی همیش له ښارد تل پروت داخندق داشان دیوال و.
بهر هلته تل ترتله دا ډاگونه وچ دښتونه سپیره غرونه .
اودننه دښارمنځ کی ،
همیشه داشان مانی ولاړه هسکه ،
پـکی ناست تل زمامدارلوی قهرمان و.
هم پلرونه هم نیکونه ئی تیرشوی وا کداران زمامداران دخپل زمانو
لاروی خلـکو ته بیاداشانی بیان کړو :
«ـ ای ښاریانو! راته وایاست!
ددی سیمی لوی ـ لارې چاویجاوړی کړی نابوده؟
ددې لاروسمو لارو لوی لوی پلونه
چاویران کړل چاخراب کړل ؟
تاسو نه گورئ چی تاسو،

ځان پخپله په خپل لاس قلابند کړي ؟
په خپل لاس موتور زندان ځانته جوړ کړی.
که پوهیږي ،
دغه کارستاسو بې ځایه بیهوده دی.
ځکه هیڅ کوم غلیم نشته،
چې حمله په تاسو وکړي له کوم بل غلیم هیواده.
او نه بل کوم لوی خطرشته،
کوم خطرچې ورسره واړه مخ یاست ،
هغه دلته په دې ښار کې دي دننه
کوم غلیم چې په رښتیا دښار دښمن دی ،
هغه هسې سړي خوردی،
چې خوراک ئې ستاسو زړه دی ستاسو وینې دماغونه
داغلیم بل ځای کې نه دی،
ددی ښار په منځ کې ناست دی ،
اوس نو وایاست !
داپاخه لوړ دیوالونه حصارونه ،
داخندق ژورخندق دځه دپاره؟
ای ښاریانو! دازما خبره واروئ!
زه یوه ورځې دیوښکلې ښایسته ښارنه بهرلاړم
چې اوس راغلم بیاراستون شوم،
هغه ښار مې مونده نه کړو.
دهغه په ځای څه وینم؟
کنډوالې ویران ویجاړې،
او په دغو کنډوالو کې یو ښامار پروت »
داخبری چې ښاریانو واوریدلې،

www.sikaraam.com

داکرت چانه خندلی.
خو بیاهم دوی یوله بله سره ویلی:
داسړی رښتیا مجنون دی لیونی دی
* * *
لاروی دنیمو شپو یوه ورځ راپاڅید،
دښار خلک ئی مخاطب کړه
دابیان ئی ورته وکړو:
-«ای ښاریانو!
خبر نه یاست ؟
چی یو وخت خو ددی سیمی زمامداره،
الهه دلو بهاروه ؟
ټول عالم ئی پرستش کړو،
نیکمرغی وه، خوشالی وه
او اوس وینم چی هغه دمینی خدایه،
تاسو ټولو هیرکړی ترکه کړی،
په دردونو په رنځونو موځانونه اخته کړی،
په اوهامو کی ډوب شوی
په غمو مصیبتونو گرفتار یاست.
ای ښاریانو!
آیا تاسو احساس نه کړئ ؟
خبر نه یاست له هغه زهر قاتله
چی داستاسو په رگو په شریانو کی جاری شوی ؟
او په زړونو کی در تو ئیږی ځاځکی ځاځکی ؟
آیا تاسو په دی خپلو دواړو سترگو گناه کارو.
لیدلی نه شیء

www.sikaraam.com

چې رنځونه دری ساری ساری رنځونه

دری آفته تل په تاسو مسلط دی ،

هسې هسې چې له یو وخته به په بل چاپوری کیږی ،

قتلوی هلاکوی ستاسو واړه ستاسو زاړه ستاسو ځوانان ټول.

تاسو واړه دخپل سر په سترګو وینئ

چې دښار ښایسته ښځې ،

ښکلې ښکلې ماشومان او باتدبیره بوډایان خو

په نری رنځ دخپګان اوغم اخته دی .

رنځوران دی دعدم په لور روان دی .

او ځوانان قوی ځوانان مو

دغضب اوقهر سخته تبه نیسی

یو بل وژنی تږیوی دیو بل وینې .

واهمه او ډارخو هغه بدمرض دی

چې په ټولو باندې یوشان ګډجاری دی ،

رنګوی مود زړه خونی ،

هرشپه موځنکدن دی ،

هرورځ دمرګ په تمه .

بل څه نشته ، بس یواځې خپل مرګی ته ،

شپې او ورځې تیروي سباکوي تل .

ای ښاریانو !

ډیری سترګې نابینا دی ،

ډیرغوږونه ټپ کاڼه دی ،

په دې ښار کې .

نه رڼا رښتیا رښتیا دلته څوك وینی ،

نه آواز دحقیقت دلته څوك اروی .

www.sikaraam.com

روغ غوزنه بیناسترگی که پیدا کړي ،
نوبه هله سرودونه دمستی دهستی واوري ،
نوبه هله رناګانی رنګارنګه د ژوندون خو ،
په نظر کی درښکاره شي .
اروېدلی تاسو تولو دلیلی نوم ،
خو هیڅ‌چائی غزته غوزنیولی نه دی.
هم لیدلی تاسو تولو دا لیلی ده ،
دماښام په ترږمی کی دمنګی سره دلاری په سر ناسته ،
خو هیچا ورته رشتیا کتلی نه دی.
ورشیء لاړشیء تری تپوس کړیء چی ته څوك ئی؟
نو هغه به جواب در کړی:
چی لیلی څه لیلی څوك ده .
په آواز کی به ئی داسی سرود واروئ ،
چی هرگز به یې هیر نه کړیء
هم به پوه‌شئ چی لیلی ناشنا انګی ده ،
کوم سرود دژوند هستی مرموز بیشانه .
بیابیا وایـی .
ژوند هستی ده د لیای په‌خوله گویانه
ورشئ ورشئ !
دهغوی شونډو خنداته دهغو ستر گو ځلاته نظر وکړئ
نو به هله در معلومه درښکاره‌شی ،
چی آزادمست مینان چیرته اوسیږی،
دآسمان آبی آبی رنګ ،
دبهار دباران وروسته په سبا کی ،

څرنګ رنګ دی.

ورشئ ورشئ !

دلیلی دقدم خاورې په باد کړیء

بیا په سترګو کی رانجه کړیء !

چی بیناشئ .

ای ښاریانو ! ښه خبرشئ !

تا سو واړه مبتلا یاست په دردونو په رنځونو

د دی هرڅه علاج یودی درمان یودی :

دلیلی دپښوخاورته سر کښیږدئ !

سجده وکړئ !

دلیلـی پرستش وکـړئ ! »

داخبری ټولو خلکو اوریدلی ،

ټولو خلکو به خندلی او ویلی: -

«- داسړی رښتیا مجنون دی . »

www.sikaraam.com

یو دفتر دزمانې په ختمیدوو

یوه ورځ دورځو راغله،
ډیر بیشماره ښاریان غونډوو دښارمنځ کې .
لاروې دنیډو شپو پاڅید ولاړشو،
آخر داناشنا بیان ئې ښارته وکړو :
« - ای ښاریانو! ښه‌خبرشیء !
ستاسو ستروا کدار بادار خو،
تور ښامار دی،
تاسو واړه بندګان یاست‌غلامان‌یاست ،
دښامار مار.
داوا کدار ستر زمامدار موهمیش تږی دی دوینو،
هسې تږی،
لکه وینوته چې تږي‌وي‌دغرورغولیوان تول
زړه ئې کلک لکه تورکاڼی‌دبیابان،
لکه سندان‌دی.
که‌هم وڅښی سمندر سمندروینې .

تنده یې لا پسې لمبه داور لمبه شي.

که هم وخوري غرونه غرونه ژوندي سرې،

ولږه یې لا پسې زیادت کالاشدت کا.

په‌لیوانو کی لیوه له وږو وږي.

په دریاب کی پررت نهنگک له تږي تږی .

ای ښاریانو!

ورشيء ورشيء !

خپل بادارته له نژدی نه لږخه څیرشئ !

هغه سترگی چی دده دی، دوه دوینو کټوری دی،

دغه سترگی دښامار دی.

هغه سری لمبې دقهر اودغضب چی،

دوا کدار دمخ څیرې نه پورته کیږی،

هغه اوردی چی راوځی دښامار پوزې سوزمونه.

دبادار هغه منگولی چی قوي دي پولادینی،

ستاسو زړونو کی ټومبلي کلکی خښی،

دامنگولی دبلادي، دښامار توری بلادی.

ای ښاریانو !

ښه خبر شئ !

دلته

دابلا توره بلا چی دَننو َناسته په دی ښار ده.

له کوم بل پردي هیواده خوراغلی دلته نه ده.

دابلاده په دې کور کی روزل شوې.

له دی سیمی پاخیدلی،

پخپل لاس موله‌خپل ځانه راویستلی

په خپل ځان مسلط کړی.

دابلاستاسو بلاخپله بلاده .

ځکه ځکه تاسو هر یو،
ښاماران ساتئ روزئ پټ
په سینو په خپلو زړو کی.
چی دلوی ښامار خوراك شی ،
چی ښامار لوی نور هم لوی شي زورورشی .
خلاصیدای له دی ښاماره تاسو نشئ
داښامار وژلی نشئ
ترڅو تاسو راپانه څئ.
داښامار پخپلو زړونو کی مړ نکړئ نابو دنکړئ.
که دنفس بده بلا کړی څوك نابوده
نو به هله دبلاتوري بلا څوك خوراك نه نشی
که دخپل زړگی ښامارمو قربانی کړو،
نو به هلته تاسو نه شئ قربانی دلوی ښامارمار.»
په دی وخت کی،
ستر راهب وراوتلی ،
دښامار دلوی معبده .
چپ ولاړو نژدی هلته،
غوز نیولی لاروی ته،
ستر راهب له ځانسره ووې:
«ـ داسړی رښتیا مجنون دی لیونی دی .
ځکه ځکه ،
دغه سر دټول اسرارو،
دغه رمز دټول رمزونو،
دغه اسم محضه،
هسی هسی بی پردی بیانول آسان کارنه دی.

زه حیران یم،
چې‌دا رمزد ټول رمزونو ده په څه شان پیدا کړی؟
داسړی ګرچې‌مجنون دی ،
خوښکاریزی له دی هسی بیانونو ،
چې‌دحال‌مقام خاوند دی .»
ستر راهب داسوچ وهلو.
لاروی بیادابیان خلـکوته وکړو:
ای ښاریانو!
لاندی هلته دهغی هسکی ما نۍ په‌ژورتل کی،
لوی زندان دی،
زندانیان پـکی پراته زنځیر ترلی.
پاځئ پاځئ !
زندانیان واړه آزاد کړئ!
زنځیرونه ځ‌ونی کړئ ماتی ماتی .
دزړگی دما نۍ هغه معماران چې‌شړل شوی،
تللی پټ دی چرته سمڅو مغاروکی،
داماهره معماران بیاراستانه کړئ!
دزړه خونه دوباره کړئ پری آباده.
ترڅوتاسو دښامار مار خوراك نشئ : »

* * *

راهب‌پوه شو:
چې‌داهسی‌شان بیان دغه خبری چې‌مجنون کړی،
داخبری ددې ښاردعالم‌نه‌دی،
دادبل جهان آواز دی .
یوه دنیاپه رنگیدو ده.

www.sikaraam.com

یو دفتر دزمانی په ختمیدو دی.
داخبری همه واړه رسیدلی فرماندارته.
دی سره پوه وچی مراد دمجنون څه دی؟
نو ترخه خندا به ئی کړله زهرناکه.
بیا ئی وویل:
«–داسړی خولیونی دی.
هم بی زوره بی قدرته.
دښار نظم ته خطر پیښوی نشی.»
مګر ورو ورو،
ځنی ځنی دښار خلك چی به کله شوه ناروغه،
دشاقه سختو کارونه،
نو دشپی به په تورتم کی غونډیدل دوی،
دمجنون ځنی خبری به ئی پټی یادولی،
ګونګوسی به ئی کول پټ،
زندانیانو په تور تمو زندانو کی،
داخبری اوریدلی،
په خپل زړه کی ئی ساتلی،
منتظر آماده ناست وو کوم فرصت ته.

* * *

www.sikaraam.com

يوه ليلى وه يو مجنون و
دښا مار دربارته لاړل

هغه پيغله شين کميسى گريوان خيرى ،
چې له هيچانه ئې مخ نه پټولو ،
تل دلارى په سرناسته له منگى سره ،
اوستومانه مسافر چې راپيښ شو له کوم ملکه دورى دورى ،
دمنگى يخى اوبه ورته راوړى او ورته تيارى آماده وى ،
دغې پيغلى ته دچاپام نظر نه و .
دښاريانو په نظرخو :
دهغې سيمى دنجونو په قطار کى ،
نه دا ښکلى وه بيشانه ،
نه ئې بل کمال لرلو .
ښکلى نجونه خو هغه وى ،
چې وى پټې په پردو کى سينگار ناستى ،
ياخدمت ته وى ولاړى
دهغې هسکى ما ڼى په دهليزو کى .

www.sikaraam.com

نو داځکه دغه پيغله گريوان څيري ،
وه لويدلى دښاريانو له نظره .
فرماندارحتى دپيغلى له وجوده خبرنه و .
بس يواځې کړو اووړو دلاروى ، د ده خبروبيانونو ،
داناشنانجلى مشهوره په هرخوا کړه .
دليلى اودمجنون داستان ترى جوړ شو ،
هنگامه شوه آخرورسيده غوږدفرماندار ته .
هغه ستر فرمانروايوه ورځ مجنون اوليلى دواړه ،
خپل حضورته په دربارکى راحاضر کړل .

* * *

فرماندارلومړى مخ واړاولاروى ته ،
په زيږه ترخه آوازئي ورته ووې :
« ـ اى پرديسه مسافره !
چى دبل پردى هيواده ئى راغلى .
په دى ښارکى اوسيدلى ،
مونږ پناه تاته درکړى !
زه خواروم چى ته خلک رابلى تل ،
چى دخپل پلرونيکونو معبدپريږدى ،
پخوانى دود رواجونه کړى همه ترپښولاندى ،
دزړو خپلو پخوانيوعقايدونه لاس واخلى ،
اوددى گدايى گرى ناشنا پيغلى پرستش ته غاړه کښيږدى .
دارشتياده ؟ »
لاروى ورته جواب کړو :
« ـ اى دکل جهان باداره فرمانداره !

ستامعبد خونوی نوی نو بنادی .
نه ئی کلک نه ئی پاخه دی دیوالونه ،
نه ژورنه مستحکمه تهدابونه .
ددی سیمی رښتینی اصلی واکداره ،
رب‌النوعه دبهاروه ، الهه دعشق اومینی .
په دی ځای کی میشته خلکو ،
دهغی ښکلی دلداری پرستش کړو .
هرهرلوری هری خواته هرهرځای خو ،
دهغی دقدم ځای و .
چمنونه شنه دښتونه ئی معبدو .
دزړه مینه دهغی دعبادت ځای .
زه چی‌تلمه له‌دی ځایه ،
هغه ښکلی نیمه خدایه په بستر دشنیلولاګرځیدله .
غرخنوئی شنه لمنه بوبوله ښکلاوله .
اوس چی‌بیرته‌یم راغلی،
له سفره راستون شوی،
هری خواته ریګستان دی وچی وچی صحراګانی .
بیابانونه د اغزو ډک تری را تیرشوم .
نه چمن و نه باغونه نه ځنګلونه .
چی را ورسیدم دلته،
نو لیدل می :
چی د زړه خونه ویرانه رنګه رنګه کندواله ده .
هم دننه پکی ناست یوتور ښامار دی .
خلک وینم چی روان دی په بی‌لارو شړولارو،

www.sikaraam.com

پرستش د اژدها کړی .
ای د کل جهان واکداره !
زه اوس دالوی حقیقت بیانومه هرهرچاته . »

* * *

د واکدار اوچولی تریوشو .
د غضب اورئې لمبه شوپه خیره کی .
یوه شیبه نیمه په‌چرت شو .
بیائی وکړه یوه خندا د زهرو ډکه .
ځان‌سره ئی ووی :

«- پروا مه‌کړه !
داسړی خولیونی دی بی قدرته ناتوانه . »
بیائی مخ‌کړو لاروی ته د دوهم‌کرت دپاره .
په پسته ظاهری ژبه‌ئی تپوس کړو :
«- ای پردیسه مسافره !

راته وایه !
ددی ښارپه ښکلو نجونو کی تاڅنگه غوره کړی،
داخیرنه داسوال‌گره ، بی‌کماله بی جماله ؟
او زما وفادارخلك زحمت‌کښه رعایا بیا،
رابلی‌ته چی‌سرونه په سجده ورته نسکور کړی ؟ »
لاروی ورته جواب کړو :
«- ای دکل‌جهان باداره فرمانداره !

خبرنه ئی ؟
د ښامار زور اوقدرت خوفقط پروت دی ،
په هغه بیره اوډار او واهمه کی،

www.sikaraam.com

چې داخلك پرې اخته دی .

که دابیره شي زایله،

دغه دار او واهمه له منځه لاړشي،

نوښامار یودم سقوط کړي نابود کیږي .

ښه پوهیږي :

د ښامار دقدرت رمز اود ښامار د مرگ طلسم فقط دادی .

اوهمدا شان،

دبهارد رب‌النوعی زور قدرت خو،

فقط پروت دی ، د ژوندو زړونو په شور کی .

سترمستي سترمنې کې شي محدوده .

آزادي کې شي تبعیده .

ښاپیری دعشق اومینې ځې سقوط کړي ،

ځانگ وزرې ئې ماتیږي .

دالیلی داشین کمیسی ناشنا پیغله،

چې هیڅوك تری خبر نه دی دهیچا پری نظرنشته،
په یو وخت کې الهه دنوبهاروه .

داخو هغه زمانه وه .

چې‌مستان آزادگان ټول،

ددی سیمې واکداران وو .

بیاچې کله واهمې اوبیرې دار زړونه تسخیر کړل،
بینائي له سترگو لاړه .

خلك واړه شو محرومه،

له دی‌هسی همیش ځوانې‌هم‌لرغونی رب‌النوعی‌له دیداره.

خلکو واړول مخونه له‌هغې‌نه .

د ښامارپه پرستش مې کړه لاس پوری.

www.sikaraam.com

نوهغه بیا بهر ووته له ښاره،
هلته کښیناسته په خاورو،
دهغی لاری په خوا کی ،
دخپل ورکت مسافر لاره ئی څارله.
داخوهغه مسافرو زوړ آشنا دزمانو اوږدوقرنو،
چی تری ورکت و ،
ورکت دورکت سمندر غاړو پوری تللی ،
اوس راغلی راستون شوی ،

خوافسوس چی ،
دلته سترګی ډیری سترګی نابینادی،
رڼاګانی درښتیا دحقیقت لیدلی نشی،
ډیرغوږونه، ثپ کاڼه دی ،
ترانی دژوندانه اوریدی نشی .
که نه یونظرپکاردی دایلی په خیری بشری ته ،
چی اسرار رموزخرګندنه شی .
دهغوآبی چشمانو په دریاب کی،
دژوندون دسمندر غاړی ښکاریږی،
په هغو خندانو شونډو کی خوهلته ،
دژوندون دسپین سبا رڼاځلیږی.
خوافسوس چی بینائی په چاکي نشته ،
خبر نه دی لیلی څوکت ده .

بیره ډاراو واهمی خو ،
ددی خلکو په غوږونو زړونو سترګو ناشنا مهرلګولی .
ته دهغه شورماشور له واهمی نه ،

چې په شپوئې ماڼۍ له تل نه اروی ،
تپ کوڼ شوی .
اروېدی نشی آواز دحقیقت نور .
اوددی سیمی ټول خلک ،
چې تل وینی ستا خیره کې ،
سرې لمبې دغضب قهر ،
بیره ډاردی راندة کړی ،
لیدی نشی رڼاگانی درښتیا دحقیقت هیڅ ،
ای واکداره ! زمامداره !
ستا سقوط ستا انحطاط خوزه ښه وینم ،
ستا په بیره ستاپه ډار کې .

ښه خبرشه !
هغه شور ما شورچې اروی ته په شپو شپو ،
دابه نور لاپسی زیات شي .
سرمستان آزادګان ټول شور شیان به ،
ځلونې کړی خپلې ماتې ،
له بندو نو زندانو نه بهراووځی .
قلاګانی حصارونه به په اورلمبه کړی .
رڼاګانی به پیداشی ،
ړندی سترګی به بینا شي . »
ستر واکدارچې دا خبرې واروېدلې ،
ډیر په قهر په غضب شو .
هم دزړه په ژورتل کې ،
له مجنونه بیره ډار ورته پیدا شو .

www.sikaraam.com

مخ ئې واړاوه په قهراوپه غضب بیا،
ناشنا پیغلې‌ته یې غږ کړو ، ورته یې ووې:
«— اوس ته وایه چې ته څوک ئې ؟»
شالیلی څیرې گریوانه ،
کبرجنه بې پرواهلته ولاړه ،
په مکیز مکیز مسکې شوه .
کوم یو دورې دورې ځای ته‌ئې کتلې .
خوږ آوازئې ،
دمانۍ په دهلیزونو تالارونو ،
دمانۍ لاندې دننه تاخانوکې،
انگازې ناشنا کولې .

داسې ووې :

«— زه خوزه یم ! زه لیلی‌یم !
زه دمینې رب النوعه ، الهه دنوبهاریم
زمامڵک خو هغه ځای دی ،
چې سر مسته شور شیان ئې واکداران دی .
دآزادو مینانو زړه زما دقدم ځای دی .
زه بهرهلته لـه ښاره
هرماښام په تمه ناسته وم دځپل‌مسافر لاره می‌څارله.
داخو هغه مسافر و،
چې ئې زه ښه پیژندلم،اوهم زه یې‌لټولم .
خوخبرشه :
چې به وروسته پس له‌دې نه .
مسافرکوم په دې لار گذرونه کړی .

www.sikaraam.com

ځکه ځکه:

نه کوم لار دلته راغلی، نه له دی ځای چیرته تللی.
هغه لاری چی راتللی، یا له دی ځای چیرته تللی،
هغه ټولی پټی شوی ورکی شوی،
په ځوځانو په اغزوکی.
لوی سیندونو رود خانو خپل مسیرونه بدل کړی.
کاروانونه اوس له دې ځایه گذرنه کړی.
ځکه دلته نه رباط شته، نه کوم ځای نه دمه ځای کوم.
څه موده به تیره نه وی.
چی داته به هم په خپل وار،
د خپل پلار او دنیکه په لار روان شئ.
یوه ورځ به په دی خپل قهرمانی کی،
یلك یوا ځی ژوندی سری باقی پاتی،
په یوچپ دمړو سنبار کی، په خاموشه هدیره کی.
زه به ځم بیا به کښینمه بهرهلته،
بیا به لاره زه څارمه،
چی بهار یو ځل بیا راشی،
راستانه شی سرمستان ټول،
مینان دآزادی انقلابونو.

* * *

فرماندارسترچی داهسی گفتار واروید،
وارخطاشو، غونی زیز زیز، په لړزه شو.
ده گمان کړو داخبری عجیبه خو،
اورویدلی دی کوم ځای ده بل کوم چیرته.

مگر بیری واهمی ولگولی یو لوی مهر،
دوا کدار په زړه په ستر گوپه غوږونو.
په‌غوږو کوڼ،نابینادزړه په ستر گو،
شین کمیسی پیغله ئی ونه پیژندله.
ځانته ئی ووی:
«ـــداخو دواړه لیونی دی .
زه بیریږم،
چی ددوی له لیونتوبه کوم خطررا ولاړنشی .
کوم ساری لیونتوب نه‌وی اوپه‌نورو پوری نشی،
دښار خلک ټول اخته په جنون نه‌کړی . »
بیایی‌فوری لاروی اولیلی دواړه
وشړل له خپل درباره له حضوره .

* * *

هغه پیغله شین کمیس خیری گریوانه
دښاریانو په نظر دومره دپام نظروړنه‌وه.
لاروی دنیمو شپو خو،
دهغی سیمی دخلکو په ذهنو کی ،
لوی مقام وپیدا کړی،
دغیبی قدرت خاوند ورښکاریدلو .
فرماندارو بیریده‌چی،
دغه شخص که‌زندانی کړی یائی‌وشړی له‌ښاره،
کوم شورش کوم بغاوت‌را پیدانشی.
نوئی‌ځکه لاروی نه زندانی کړونه‌ئی وشاړه له ښاره.

چاره بله پاتي نه‌وه،

داخو ځکه‌چي بيشماره زندانونه تاخاني‌وي‌زمکي لاندي ،

واره‌واره وو ډك شوي،

په ياغيانو شورشيانو ليونيو .

دليلي اودمجنون دپاره ځاي پکي هيڅ نه‌و.

* * *

نو داځکه،

هغه پيغله نازنينه بيرته ووته له‌ښاره،

بيرته بيادلو يي‌لاري‌په سر کښېناسته ملنګه له منګي‌سره .

لاروي‌هم لاړولاړو غلي کښېناست،

دخپل ښارپه کنډواله کي،

دعالم په تماشه شو .

ابدي څرخ

مجنون ناست و حال و يجاړی،
په خپل کنج کی،
دخپل ښار په ويرانه کی.
تماشه يې دجهان کړه .
فرمانداره دروازی کاڼکی تړلی دماڼی وی .
هلته ناست و،
دبلورو په آئينو کی، دخپل ځان په تماشه و .
* * *
لاروي به په زړوستر گوليدل چی،
ډير بيشماره ماشومان به دځوانی له عمره مخکی،
دعدم په لور روان شول .
ډير ځوانان به شول رهی دجنگ ميدان ته ،
يا به نه راستيندل تړول
يا خپل منځ کی په جنگ په کش مکش وو،
يو دبل په وينو رنګ لاس او منگولی.

پېغلې نجونې دځېګان پهٔنرۍ رنځ تل رنځېدلې،
پهٔورو ورو خاورې کېدې ایرې کېدلې.
معماران دزړه دمېنې ،
یادښار په خندکو کې ور کېدل تول.
یابه دورې چرته تلل پناکېدل تول.
بس یوائحې لوی راهب دېر عمروکړو اوزداوزد .
خو هغه هم په آخر کې په‌خپل وارخپل،
روح تسلیم کړه خپل ځښتن ناشنا واکدار دبل جهان ته .
معبدورو ورو شړیدلو ړنګیدلو .
ځکه هیڅ ښامار پرست بل پاتې نه‌و،
چې دعا اوعبادت دپاره ورشي هلته لاړشي.
پدې شانې دښارمار دمعبد لوی بازار کسلاد شو.
شاګردان دستر راهب هم.
چرته لاړل کومې خواته نامعلومه.
دښارمېنې آزادې خونې کورونه، همه‌واړه،
ړنګیدل خرابیدل متروکیدل تول.
دهغې هسکې، ماڼې په دیوالو کې،
لوی چاودونه راپیداشول.
دمرمرښایسته تیزې دې خواهاخواغورځیدلې ،
اغزن بوټې شنه کیدل پرې .
په آخر کې ښایسته قصرویرانه شوه .
باشکوه ویرانه وه ،
په یو شړاغزن بیابان کې دریدلې ،
بې معنې هیڅ بې مفهومه .

لکه زړه دیوانسان یو ځلی ناڅاپه دریږی ،
په دی نامحدود عالم کی وردننه ،
بی مرامه بی هدفه .
ښاردمرګ په خوب بیده شو ،
چپ خاموشه هدیره شوه ، خرابه شوه .

* * *

بس یوائحی ژوندی پاتی هلته ناست وو :
لاروی پ، ویرانه کی فرمانداز خپله مانۍ کی.
هیچانه کاوه په دی سیمی ګذرنور .
ځکه لاری دلته نه را رسیدلی .
تولی لاری پخوانی زړی وی ورکی ،
په ځوځانو په اغزوکی .
مست سیندونه ډک رودونه اوښتلی بله خواوو ،
بدل کړی مسیرونه ،
بهیدل نورنورځایوکی .
هم اوږدو اوږدو بیشماروکاروانونو ،
نوې لاری وې موندلی ،
چرته دوری په بل ځای ګشت اوګذر کړو .

* * *

فقطه یوه ورځ ، چی ماښام شو توره خړه ،
راپیداشوه له کوم ځایه ،
را روانه پټه پټه غلی غلی ،
یوه ناشنازړه بوډۍ وه .
دښارلوی دروازی ته ودریدله .
خیره بده هم مرموزه ،

www.sikaraam.com

هیولاوه بد منظری .
تورکمیس تورئی پرتوگګ تورئی زړوکی دلوګیوو .
دښارلویه دروازه شوله برسیره په خپل سرله خپله ځانه .
بوډی ننوته ښارته .
دهغی لوی ماڼی په لوری‌لاړه .
خوناشناشانته بوډی وه .
بی له دی نه چی‌قدم په زمکه کښیږدي ،
دښایسته زینونه‌وختله پورته .
بی له دی‌نه چی کوم مکث یاتوقف کړی
دمرمرو جګوستنونه شوه تیره.
دښایسته ځلانده قصر دروازی ته‌ودریدله.
دې بوډی بیا ،
نه زنځیر ددروازی وشرنګولونه یې وروټکولو،
ور برسیره په خپل سرشو.
بوډی لاړه‌شوه په‌قصرکی دننه
دابوډی خولاروی سره آشنا وه،
لاروی ښه پیژندله.
لاروی ښه‌پوهیدلو چی بوډی ولی راغلی.
اودا اوس په هغه قصرکی‌دننه
دبوډی اودواکدار په منځ کی څه خبری کیږی.
څه موده لاتیره نه وه،
چی راووتل دوی دواړه ،
دماڼی له کنډوالونه،دلوی ښار له خرابونه،
بوډی مخکی قهرمان ترشاروان وو.

www.sikaraam.com

لاړلاړل کومی خواته نامعلومه...

* * *

مجنون پاتی حال ویجاړی هلته ناست و
دخپل ښار په کنډواله کی.
دعالم په‌تماشه و .
دزمان دفتر برسیره ورته پروت و،
له‌آغازه‌تر انجامه.
دعالم‌صفحه ئی‌مخی‌ته خپره وه،
له ذری تر کهکشانه
هم‌ماضی اومستقبل غاړه غاړی‌وو،
دهغه حال په شیبه کی .
شپی اوورځی تیر یدلی،
بیارا تلل میاشتی کلونه،
یو پر بل پسی پیهمه.
هم فصلونه، موسمونه، کاروان بیرته روان وو.

***

تر څو شپه یوه دشپو وه،
لاروی په کنج کی ناست‌و.
دافق تورې لمنی‌ته‌ئی کتلی .
یو ناڅاپه ورښکاره شوی، هلته دوری،
رڼاگانی زیاتی، زیاتی، په‌تورتم کی‌ځلیدلی.
دی راپاڅیده له‌ځایه،   په‌رڼاپسی روان شو.

* * *

تو له شپه ئی مزل وکړ .
چی‌سباشو سپین سبا شو،

www.sikaraam.com

لاروی دیو سیند غاړی ته نژدی شو .

سیند اوار ډك بهیدلو .

دسیند غاړی وی آبادی .

چمنونه شنه پراته وو ، سره گلونه غوړیدلی .

ښکلی مینی رنگارنگه په کی هرطرف ولاړی .

باغ اوبڼ کی دمرغانو شورماشورو.

پیغلی نجونه ښکلی ښکلی .

ښه ځلمی ښایسته ځوانان وو ،

ځنی ځنی دخپل ښار په آبادی بوخت ،

ځنی نور بیا ،

دښایسته پیغلوسره ناست په رازاونیازوو ،

محبت وصفایی وه ، ښکلول وو زغلول وو ،

مشران سپین زیری ناست ووپه دیره کی ،

مرکی وې مشورې وې .

ماشومان دسیند په غاړه لوبیدل ټول ،

شورماشورو غلغلی وې .

اوبیا هغه ناشنا پیغله ،

زوړ کمیس څیری گریوانه ،

گرځیدله مسته مسته خرامانه ،

شین کمیس نری شفاف ئی و په تن کی نوی نوی .

دوحشی گلونو تاج ئی پاس په سرپروت.

دبهار زمې په شانې الوتله،
د ښتونو غرځنې ورته راتللې،
شنه لمن ئې بو یوله، ښکلوله .

* * *

لاروی دنیمو شپوچی داحال ولید،
بـی اختیاره په خندا شوه .
ځکه پوه شو،
چی‌له سره بیاشروع شو، یوځل بیا بیا،
زوړ داستان دقهرمان ستر پهلوان ستر،
اود ښکلې رب‌النوعې الهی دعشق اومینی .
یوځل بیا له سره پیل شوه،
افسانه لویه اوزده دتور ښامارمار .

www.sikaraam.com

سمون لیک

یادونه : دحضرت حکیم سنایی دسیمینار د وخت د رارسیدو او دکارونو د تراکم له امله دغه کتاب په ډیرلږ وخت کی چاپ شواوهم یې اصل سم نه ؤ لوستل شوئ نو بناپردې څه غلطی پکی پاتې دي، له لوستونکو څخه هیله لرو، چی تر لوستو د مخه دې تصحیح کړي ، ځکه چی دکتاب عبارات موزون دی ، که غلطی سمې نه شي محترمو لوستونکو ته گرانی پیښـوی .

ناسم	سم	مخ	کرښه
گذر	گذار	۵	۴
دانسان	داستان	۵	۴
کوچنی او ادامه	کوچنی ادامه	۵	۴
وگری کوچنی او	وگړی او		
په بره خوا	په هره خوا	۱۱	۲۲
له ځایه	له ځانه	۱۶	۲
کلی نه	ولی نه	۱۷	۱۹
له دي	به له دې	۲۰	۶
سردرو	په سردرو	۲۰	۱۸
هم	اوهم	۲۵	۱۲
رسیدلی	رمیدلی	۲۵	۱۹
دښارمار، مار	دښا مار مار	۲۶	۱۹

www.sikaraam.com

ناسم	سم	مخ	کرښه
پریواته	لمر پریواته	۲۷	۸
واورئ	راشئ‌واورئ	۲۸	۲
کا ڼـی	کا ڼــه	۲۸	۷
سمندرو ینی سمندر	سمندرو ینی	۲۸	۱۲
څر	څو	۲۸	۲۳
دوړی	دوری	۳۸	۲۲
هی غزیزی	هی غریزی	۳۹	۳
غرونه	غرونه غرونه	۳۹	۶
دزوندو	دژوندون	۴۱	۱۵
نویو	نویـي	۵۸	۱۸
دزحمت	دازحمت	۵۲	۸
خاموشه	شو خاموشه	۵۳	۱۱
تورآس	په تورآس	۵۵	۲۱
په خاموشه	په‌هغه‌خاموشه	۵۷	۱۵
کتل	کتلی	۵۸	۱۸
بوخت	یووخت‌هم و	۶۱	۸
احساس‌یی	احساس	۶۲	۱۳

په ۶۸ مخ کی‌دي‌دوهم کرښه وایستل شي .

ناسم	سم	مخ	کرښه
. کړي	کړي دی	۶۹	۱۴
لړزوی هم	می‌لړزوی هم	۶۹	۱۷
تصور	داتصور	۷۰	۱۶
لرلو	کوو	۷۳	۱
په زره لمبه	په زره منډله	۷۳	۱۷
را پاریدل	راپاریدلی	۷۴	۲۱
تهدا بونوزمکی	تهدا بونه‌ځمکی	۷۸	۱۳
التفات د	التفات دي	۷۸	۱۶
شامدام	شامدام ته	۷۸	۲۳
استول	واستول	۸۰	۱
په عقل‌اوفکر	چی‌عقل‌فکر	۸۰	۱۰
تزلی	تولی	۵۲	۵
ځانته	خپل ځان	۱۵	۴
معین	مین	۸۶	۲۳
له ددي	له دي	۸۷	۵
نه کوم	نه‌کوم ښارشته نه	۸۷	۱۲
معین	مین	۸۷	۲۳
راوړي	اروي	۸۹	۱۰

www.sikaraam.com

ناسم	سم	مخ	کرښه
د دربار	د دریاب	۸۹	۱۷
ښایم	درښایم	۹۱	۳
دحکم	دحکمت	۹۴	۷
لټول	لټول ده	۹۴	۲۲
دخپلو	خپلو	۹۴	۲۵
موجوده	موجود	۹۵	۶
ننوځی	ځی ننوځی	۹۵	۱۶
تله	تلله	۱۱۸	۴
پت	تیټ	۱۱۸	۱۵
یولحظه	یوه لحظه	۱۱۸	۱۵
نژدي	نژدي نژدي	۱۲۱	۱۵
کولچی	کووچی	۱۲۲	۶
ځغلی	ځغلی ځغی	۱۲۹	۴
رب در	رب دي	۱۳۰	۱۶
دسرمستو	دسرمستیو	۱۳۰	۱۸
به نورو	به چی نورو	۱۳۱	۳
همداماشومان لوی	چی همداماشومان لوی شول	۱۳۳	۳
دوی	به دوی هم	۱۳۳	۷
دازمان	دازما	۱۳۴	۱۰
تل غوزغوزدی	تل غوز زدی	۱۳۶	۱۴
دابهار دی	دربهاردی	۱۳۷	۱۴
پریری	پیري پیرې وي	۱۳۸	۲۴
یسي پرده	بی پرده	۱۴۰	۱۲
خوز نزه	خوزمونزه	۱۴۱	۲۴
دمستی	دمستی نه	۱۴۳	۷
دژوند	دژوندون	۱۴۳	۱۷
زه هری	زه پري	۱۴۶	۱۵
نوی لوی	نوي نوي	۱۴۸	۱۰
خوزه وایم	خوزه وینم	۱۵۶	۴
بوی هم	بوی دنم	۱۵۱	۱۲
هم هسی	هم هغسی	۱۵۷	۱۹
تیریدلی پرسیدلی	تریدلی رمیدلی	۱۵۹	۲۴
تورره شوه	بلاشوه	۱۶۰	۸
په خپله	چی پخپله	۱۶۰	۱۴
تلو پروت	تل پروت	۱۶۰	۱۴

www.sikaraam.com

ناسم	سم	مخ	کرښه
هیره	هیره کړې	۱٦۲	۱۴
یو وخته	یوځانه	۱٦۳	۳
زشتا ،رشتیا	ربښتیا ربښتیا	۱٦۳	۲۴
دتله ناسته	دلته	۱٦۷	۱۹
محضه	محضه خو	۱٦۸	۱۴
به په یسی	بیایسی	۱۷۰	۵
شو ناروغه	شوه فارغه	۱۷۰	۱۰
چی‌راپیښ‌شو	چی‌به‌راپیښ‌شو	۱۷۱	۵
زایل	زایله	۱۷۵	۲
سترمنی	سرمستی	۱۷۵	۱۰
می کړه	یسی کړه	۱۷۵	۲۵
په کاردی په	په کاردی	۱۷٦	۱۴
چی - وروسته	چی‌به وروسته	۱۸۷	۲۲
له دی ځایه	په دی ځای	۱۷۹	۷
ههرمانی کی	قصرمانی کی	۱۷۹	۱۲
دمعبد	دلوی معبد	۱۸۳	۱۲

PROPERTY OF ACKU 5566

www.sikaraam.com

فهرست

۱– لـو مـړی خبرې
۲– پـرولـوگ
دورک سمند ر غاړې

۳– لومړی څرخ
تور ښامار د مرگ په لورځی

لو مړی پړاو

هغه ښار چې تـول ښار یان یـې رنځوران وو ۱۹
یو جنت خا ورین جنت ۲۰
لوی فاتح دټول جهان ۲۲
اژ د هاتــه ستاینځای ۲۶
سر اعظم ۲۸
بدرنځونه بـې درمانــه ۳۲

دوهم پړاو

دمه ځای چې پکې ځای ددمې نه و ۳۶
دچپتیا په ترزموکې شورماشور ۳۸
ښا پیری دعشق اومینی ۴۳

دریم پړاو

د دوزخ له درشل دې خوا ۵۲
رب النوعه الهه د عشق اومینی ۵۳
اژد هاته هر کلی ۵۵
داوها موجهنم ۵۹

www.sikaraam.com

څلورم پړاو

د دوزخ له درشل ها خوا ۷۲

دوزخیان یاغی یاغی ۷۵

۴ــ دویم څرخ

ځانځانی ښامار

یو ځل بیاراستون ښامار شو

پنځم پړاو

دژوندون دچینی غاړه په تورتم کی

افلا طونی سمڅه ۹۳

مسافر له دوری ملکه ۹۷

نابلد ملګری ۱۰۱

دبیلتون شپه تورتم نه وه ۱۰۶

زیږنځای دښامارانو ۱۱۳

سرالاسرار ۱۱۸

شپږم پړاو

هغه ښار چی تور ښامار وربانـدې ناست ؤ

شالیای په تمه ناسته ګریوان څیرې ۱۲۱

ښار دزړه په سترګو ړوند و ۱۲۶

په ړند وکی یوبینا نوم یـی مجنون ؤ ۱۳۰

دهستی په خرابات کی شورماشور ؤ ۱۳۸

دمرګی سیوری روان ووژوندی سری ورپسی تلل ۱۴۹

دړندوښاردخطرسره مخامخ و ۱۵۸

یودفتر دزمانی په ختمید وو ۱۶۶

یوه لیلی‌وه یومجنون‌ود ښامار ۱۷۱

دربار ته لاړل

ابدی څرخ ۱۸۲

www.sikaraam.com

ښاغلی سیدبهاء الدین دښاغلی سیدشمس الدین «مجروح»
زوی دی او داپریل په ۱۲ کال ۱۹۲۸ په کنړ ننګرهار کښی
زیږېدلی دی . ابتدایی او ثانوی تحصیلات یی داستقلال په لیسه
کابل کښی په کال ۱۹۵۰ کښی پای ته ورسول په کال ۱۹۵۱ کښی
دپوهنی وزارت له خوا فرانسی ته دفلسفی اوروحیاتو دتحصیل
د پاره واستول شو .

په کال ۱۹۵۲ کښی یی په لندن یو نیورستی کښی دانګریزی
ژبی او ادب تحصیل وکړ . په ۱۹۵۳ ـ ۱۹۵٤ دفرانسی په ما نتپیلیه
یو نیورستی کښی دعمومی ادبیاتو او تاریخ سرتیفیکیت حاصله کړ .
په ۱۹۵٤ ـ ۱۹۵۵ کښی یی دعالی تحصیلاتو دوه سرتیفیکیتو نه په لاس
راوړل: (۱) عمومی علم النفس او علم الجمال. (۲) داطفالو علم النفس.
په ۱۹۵۵ ، ۱۹۵٦ دعالی تحصیلاتو دوه لاندی سرتیفیکیتونه په
لاس راوړل : (۱) داخلاقو فلسفه او علم الاجتماع . (۲) داجتماعی
ژوندروحیات. په ۱۹۵٦ ـ ۱۹۵۷ د عالی تحصیلاتو سرتیفیکیت په
عمومی فلسفه او منطق کښی حاصل کړ .

سربیره په لیسانس ده په ۱۹۵۷ ـ ۱۹۵۸ کښی دعالی تحصیلاتو
دیپلوم په فلسفه کښی حاصل کړ او خپل تیز یی په فرانسوی ژبه
دالفرد ادلر دنظریاتو په بار ه کښی و لیکه چه د مانتپیلیه
دپوهنتون له خوا په اعلی درجه قبول شو .

ددی په خوا کښی ښاغلی مجروح په المان کښی دالمانی ژبی او
ادب تحصیل وکړ او دهغه سره فلسفه کښی یی خپل تخصص حاصل کړ .
اوس ښاغلی مجروح دکابل دادبیاتو په پوهنځی کښی دفلسفی
او روحیاتو پوهندوی دی .

www.sikaraam.com